# په افغانستان کې د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند:

## د شکنجې د منع تر قانون لاندې

## د شکنجې او ناوړه چلند مخنیوی




په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر



اپریل ۲۰۱۹

کابل، افغانستان

**د مطالبو فهرست**


اجرايي لنډيز ..... iii
۱. مخینه ..... 1
۲. میتودولوژي ..... 3
۳. د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د ملي پلان تطبیق ..... 8
۴. په افغانستان کې د شکنجې او ناوړه چلند د منع حقوقي چوکاټ ..... 9
۵. د شکنجې او ناوړه چلند په اړه موندنې ..... 13
۷. څارنه، تحقیقات او احتساب ..... 29
۸. د شکنجې او ناوړه چلند د قربانیانو لپاره د خسارې جبران ..... 36
۹. سپارښتنې ..... 38
لومړۍ ضمیمه: د اصطلاحګانو او د نوم د سر ټکو قاموس ..... 41
دویمه ضمیمه: تر نړیوال قانون لاندې د شکنجې او ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا ممنوعیت ..... 42
دریمه ضمیمه: د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي له خوا لیدل شوي توقیف ځایونه ..... 45
څلورمه ضمیمه: د ملي امنیت د ریاست له خوا د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري راپورونه: ولایتي ویش ..... 46
پنځمه ضمیمه: د افغان ملي پولیسو له خوا د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري راپورونه: ولایتي ویش ..... 48
شپږمه ضمیمه: د حکومت له خوا غبرګون ..... 49

# اجرايي لنډيز

دغه راپور د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما) او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر (OHCHR) له خوا چمتو شوی. له ۲۰۱۰ راهيسې پر دغې موضوع دا پنځم مهالنی خپور شوی راپور دی، چې په افغانستان کې د جګړې اړوند توقيفيانو سره د شکنجې او د ظالمانه، غير انساني او له سپکاوي ډک چلند او سزا (تر دې وروسته ناوړه چلند بلل کيږي) په اړه باوري او کره معلومات وړاندې کوي.

په راپور کې وړاندې شوې موندنې زياتره د هغو مرکو پر بنسټ دي چې د يوناما د بشري حقونو افسرانو له خوا د افغانستان د ۲۸ ولايتونو کې په ۷۷ مرکزونو (توقيف ځايونو) کې د جګړې اړوند له ۶۱۸ توقيفيانو سره ترسره شوي(د څلورو ښځو په ګډون). راپور د ۲۰۱۷ کال د جنوري له لومړۍ د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د افغانستان د ملي پلان په تطبيق کې د حکومت له خوا د راپور ورکولو په موده کې ترسره شوی پياوړی پرمختګ تاييدوي. يوناما/ د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر په ځانګړي ډول د راتلونکو مواردو هرکلی کوي:

- د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې د جزا د تعديل شوي قانون تنفيذ، کوم چې د شکنجې يو تعريف رانغاړي چې تر ډېره د شکنجې او نورو ظالمانه، غير انساني يا له سپکاوي ډک چلند يا سزا په ضد د ملګرو ملتونو له کنوانسيون (تر دې وروسته د شکنجې د منع کنوانسيون ګڼل کيږي) سره په سمون کې دی؛
- د ۲۰۱۸ کال په اپريل کې، د شکنجې د منع کنوانسيون له الحاقي پروتوکول سره د افغانستان توافق؛
- د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په پای کې د شکنجې د منع قانون تنفيذ.

په راپور کې وړاندې شوې شننه په ډاګه کوي چې د حکومت له خوا ترسره شوي هنجاري او قانوني ګامونه د راپور ورکولو د پخوانۍ مودې (د ۲۰۱۵ کال د جنوري له لومړۍ د ۲۰۱۶ د ډسمبر تر ۳۱ پورې) په پرتله د پام وړ اصلاحاتو او پرمختګونو لامل شوي، په ځانګړي ډول په لاندې برخو کې:

- په ۲۰۱۸ کال کې د لا زياتې پام وړ کموالي سره، له ۳۹ سلنې څخه ۳۱,۹ سلنې ته د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو په نظارت کې د جګړې اړوند توقيفيانو په سلنه کې عمومي کموالی، چا چې د شکنجې او ناوړه چلند باوري راپورونه ورکړي.
- په ځانګړي ډول په کندهار (له ۶۰ سلنې څخه ۷,۴ سلنې ته) او هرات (له ۴۸ سلنې څخه ۸,۴ سلنې ته) کې د پام وړ اصلاحاتو او پرمختګونو سره، په ۲۰۱۸ کال کې د ملي امنيت د رياست په نظارت کې د مرکه شويو توقيفيانو ترمنځ د شکنجې يا ناوړه چلند په شتون کې د پام وړ کموالی (له ۲۹ سلنې څخه ۱۹,۴ سلنې ته).
- له ۴۵ سلنې څخه ۳۱,۲ سلنې ته د افغان ملي پوليسو له خوا د شکنجې او ناوړه چلند د ريکارډ کچو کې د پام وړ کموالی.

که څه هم د حکومت له خوا ترسره شوي ګامونه د ستاينې وړ دي، خو د جګړې اړوند توقيفيانو د شکنجې او ناوړه چلند عمومي شميرې لا اوس هم په هيښوونکي ډول لوړې دي، چې د جګړې اړوند په هرو دريو توقيفيانو کې يو يې د دې باوري او کره معلومات وړاندې کوي چې له شکنجې يا ناوړه چلند سره مخ شوي. شميرې په ډاګه کوي، چې:

- د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو په نظارت کې ځوان توقيفيان د شکنجې يا ناوړه چلند د کړاو له زيات خطر سره مخ دي.
- د ملي امنيت د رياست په ځينو مرکزونو کې له جګړې اړوند توقيفيانو سره چلند د انديښنې وړ دی، په ځانګړي ډول هغه چې په کابل، خوست او سمنګانو ولايتونو کې موقعيت لري او همدارنګه د ملي امنيت په ۲۴۱ (له تروريزم سره د مبارزې) رياست کې. د ملي امنيت رياست د مختلفو ځانګړو ځواکونو له خوا په ځانګړي ډول په کندهار کې د ملي امنيت د ۰۳ رياست او د خوست ساتنې ځواک له خوا تر پراخو نيونو وروسته په ګډون، دغه راپور دغه راز د شکنجې يا ناوړه چلند او د ناقانونه او خپل سري توقيف په اړه معلومات په ډاګه کوي.

- په کندهار کې د افغان ملي پولیسو د چلند په اړه جدي اندېښنې لا اوس هم موجودې دي، چې د توقیفیانو ۷۷ هېښوونکې سلنې په دې اړه باوري او کره معلومات ورکړي چې د شکنجې او ناوړه چلند له تر ټولو وحشیانه ډولونو سره مخ شوي. د راپور ورکولو په موده کې همدارنګه په کندهار کې د اجباري ورک کېدو تورونه هم موجود وو.
- په پروان ولایت کې د افغان ملي اردو له خوا په اداره کېدونکې توقیف ځای کې مشاهده شوي ناوړه وضعیت اندېښنې را ولاړې کړي، لکه ناکافي روښنايي، ګڼه ګونه، د یوازېنۍ انضباطي چارې په څېر د یوازې ساتنې کارول، او د کورنۍ په لیدنو او مدافع وکیلانو ته پر لاس رسي محدودیتونه.

د شکنجې یا ناوړه چلند په کارونه کې کموالی تر اوسه په هغې اندازه د پام وړ نه دی، څو دا په ډاګه کړي چې ترسره شوي اصلاحي اقدامات کافي دي. په ځانګړي ډول راپور په راتلونکو برخو کې سرغړونې او ننګونې په ډاګه کوي:

- د جګړې اړوند توقیفیانو د قضايي نظارت پر حق قانوني محدودیتونه له نړیوال قانون سره په ټکر کې دي.
- د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي لپاره د کلیدي طرز العملي او نورو قانوني اقداماتو په تطبیق کې محدودیتونه، لکه مدافع وکیلانو ته لاس رسی او د څېړنو پر مهال له کورنۍ سره اړیکه؛ طبي څېړنې، توقیفیانو ته د هغوی د حقونو په اړه برابر شوي معلومات؛ او پر اجباري اعترافونو اتکا.
- د شکنجې او ناوړه چلند تورونو څېړنه په داخلي او مبهمې پاتې کېدو او قضايي ارګانونو ته په خورا محدود شمېر ارجاع سره، د عاملینو د احتساب نشتون لا اوس هم دوام لري.
- د هغو سرغړونو لپاره چې توقیفیانو ورسره د مخ کېدو ادعا کړې د کوم ممکنه موثر قضايي یا اداري خسارې جبران ترلاسه کولو نشتون.

یوناما په کلکه افغان دولت د شکنجې د له منځه وړلو لپاره د خپلو هڅو جاري ساتلو ته هڅوي. په ځانګړي ډول حکومت باید لاندې چارې ترسره کړي:

- دا یقیني کړي چې د بشري حقونو له نړیوال قانون سره سم د شکمنو، تورنو یا د جګړې اړوند جرمونو محکومینو په ګډون ټولو توقیفیانو ته اړین قانوني حقونه او ضمانتونه ورکړل شوي.
- دا یقیني کړي چې د قانون د انفاذ او ازادي سلبولو ټولې اړوندې مسوولې ادارې په موثر ډول د قانون په حدودو کې خپلې چارې ترسره کوي.
- دا یقیني کړي چې د ازادۍ د سلبولو له پیل سره سم قانوني او نور طرز العملي تدابیر په موثر ډول د ټولو ملي ادارو له خوا رعایت شوي.
- دا یقیني کړي چې د شکنجې یا ناوړه چلند ټول تورونه په دې موخه په چټک، بې پرې، خپلواک، شفاف او بشپړ ډول څېړل شوي، چې د شکنجې یا ناوړه چلند هر ترسره کوونکي، امر کوونکی یا د دغه ډول کړنو سره رضایت کوونکي چارواکی محاکمه شي.
- دا یقیني کړي چې د شکنجې قربانیان عدالت ته موثر لاس رسی لري او د ګالل شوي زیان په مقابل کې کافي، موثر او چټک جبران ترلاسه کوي، څرنګه چې پې د شکنجې د منع په قانون کې وړاندوینه شوې.

د نړیوالې ټولنې په مرسته، په نظارت، پوښتنو ګرویګنو یا له ازادۍ څخه له محرومو افرادو سره په چلند کې د دخیل هر شخص د تخنیکي ظرفیت او بشري حقونو پوهاوي تقویه کول جاري وساتي.

## ۱. مخينه

دغه راپور د امنيت شورا د اوسنيو او پخوانيو هغو پريکړه ليکونو په تعقيب چمتو شوی، کوم چې يوناما ته دنده سپاري چې د عدلي او زندانونو په سکتورونو کې بشري حقونو ته درناوي ښه کړي. د امنيت شورا ۲۴۰۵ (۲۰۱۸) پريکړه يوناما ته دنده سپاري چې *"توقيف ځايونه وڅاري، احتساب ته وده ورکړي او د افغان اساسي قانون او هغو نړيوالو تړونونو چې افغانستان يې غړی دولت دی، د بنسټيزو ازادي ګانو او د بشري حقونو د احکامو په بشپړ تطبيق کې مرسته وکړي."* [1]

د ۲۰۱۰ په اکتوبر کې، د ملي امنيت له رياست او د کورنيو چارو له وزارت سره په همغږۍ، يوناما په افغان نظارت کې د جګړې اړوند توقيفيانو د چلند د څارنې خپل پروګرام پيل کړ.[2] له هغه وخت راهيسې، يوناما/ د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر په ټول افغانستان کې د جګړې اړوند توقيفيانو د شکنجې او د ظالمانه، غير انساني او له سپکاوي ډک چلند او سزا (تر دې وروسته ناوړه چلند بلل کيږي) په اړه باوري او کره معلومات وړاندې کوي. موخه دا ده چې له حکومت سره د شکنجې او ناوړه چلند د منع او مخنيوي لپاره د هغه د ژمنو په پلي کولو کې د هغه له روانو هڅو سره مرسته وشي او چيرې چې د دغه ډول چلند ادعا شوې په اړه يې بې پرې، خپلواکې او باوري څيړنې ترسره کړي او د قربانيانو د جبران لپاره مناسبې وسيلې رامنځ ته کړي.[3]

دغه راپور کوم چې د ۲۰۱۷ د جنوري له لومړۍ څخه د ۲۰۱۸ د ډسمبر تر ۳۱ پورې موده رانغاړي، پنځم مهالنی راپور دی چې د يوناما او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر له خوا د جګړې اړوند توقيفيانو سره د چلند په اړه خپريږي.[4]

په پخواني راپور کې چې د ۲۰۱۷ کال په اپريل کې خپور شوی (د ۲۰۱۵ د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۱۶ د ډسمبر تر ۳۱ پورې موده تر پوښښ لاندې نيسي) يوناما موندلې چې له مرکه شويو توقيفيانو څخه ۳۹ سلنه هغو يې (له ۴۶۹ څخه ۱۸۱ هغو يې) په دې اړه کره او باوري معلومات ورکړي چې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د نظارت پرمهال له شکنجې او د غير انساني يا له سپکاوي ډک چلند له نورو ډولونو سره مخ شوي. يوناما دغه راز موندلې چې د ملي امنيت رياست او د افغان ملي پوليسو د چارواکو له خوا ترسره شوې شکنجې يا ناوړه چلند لپاره نږدې هيڅ احتساب شتون نه درلود او د شکنجې د تورونو د څيړنو ورکړل شوي راپورونه پټ ساتل شوي او عدلي تعقيبونې خورا کمې ترسره شوې. د ملي امنيت پر رياست او افغان ملي پوليسو باندې خورا محدوده خپلواکه، عدلي يا بهرنۍ څارنه موجوده وه. دغه موندنې له نورو هغو سره په سمون کې وې کومې چې د يوناما په پخوانيو راپورونو کې په ګوته شوي.

---

[1] پريکړه ليک همدارنګه: *"د يوه عادلانه او شفاف عدلي سيستم جوړونې د تسريع، د معافيت په له منځه وړلو او په هيواد کې د قانون واکمنۍ د پياوړې کولو پر اهميت ټينګار کوي (...)، څو د قانون واکمني او بشري حقونو ته درناوی ښه والی ومومي، په همدې تړاو په افغانستان کې اړوند ادارو، چيرې چې شونې وي، ټولو زندانونو او توقيفځايونو ته د لاس رسي د يقيني کولو پر اهميت ټينګار کوي، له نړيوالو مکلفيتونو او ژمنو سره د افغانستان د تطابق د يقيني کولو لپاره د ترسره شويو ګامونو لپاره د افغان حکومت د شکنجې د له منځه وړلو د ملي پلان او دغه راز د جزا د قانون د تعديل او نورو هڅو هرکلی کوي، د دغه ډول هڅو د بشپړ تطبيق پر اړتيا ټينګار کوي، (...)."*

[2] هغه توقيفيان چې د جګړې په اړوندو سرغړونو متهم دي، په عام ډول په تروريستي جرمونو، د نسل وژنې په جرمونو، د بشريت ضد جرمونو، جنګي جرمونو، د دولت په ضد جرمونو او د کورني او بهرني امنيت په ضد په يو شمير جرمونو چې د جزا په قانون کې (د جزايي اجرااتو د قانون د لومړۍ ضميمې لومړۍ ماده وګورئ) جلا وضع شوي، تورن شوي. په دغه راپور کې د "توقيفي" اصطلاح هغو اشخاصو ته راجع کيږي، چې په دغه ډول کړنو شکمن، تورن يا محکوم شوي وي. د لا زياتو معلوماتو لپاره د ميتودولوژي برخه وګورئ.

[3] يوناما د "ژوندي پاتې شوو" په ځير له نورو اصطلاحاتو سره تر کوم تعصب او توپير پرته کوم چې ښايي په مشخصو قربينو کې د ترجيح وړ وي، د "قربانيانو" حقوقي اصطلاح کاروي، همدارنګه وګورئ، د ملګرو ملتونو د شکنجې د منع کميټې، دريمه شميره عمومي تبصره ("د غړو دولتونو له خوا د ۱۴ مادې تطبيقول")، CAT/C/GC/3، ۱۹ نومبر ۲۰۱۲، دريم پراګراف.

[4] يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د دغې موضوع په اړه لومړی راپور د ۲۰۱۱ کال په اکتوبر کې او د هغه په تعقيب هر دوه کاله وروسته نور راپورونه خپاره شوي. مهرباني وکړئ وګورئ: په افغان نظارت کې د جګړې اړوند توقيفيانو سره د چلند په اړه د يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر راپور، په افغان نظارت کې د جګړې اړوند توقيفيانو سره د چلند: يو کال وروسته، په اړه د يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د ۲۰۱۳ کال د جنوري راپور، په افغان نظارت کې د جګړې اړوند توقيفيانو سره د چلند په اړه تازه معلومات: احتساب او د ولسمشر د ۱۲۹ شميره فرمان تطبيق؛ د جګړې اړوند توقيفيانو سره چلند: د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د افغانستان د ملي پلان تطبيقول، د يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر دفتر د ۲۰۱۷ کال د اپريل راپور. دغه ټول راپورونه پر دغې انټرنټ پاڼه د لاس رسي وړ دي، (په وروستي ځل د ۲۰۱۹ د اپريل پر ۲ ليدل شوي): https://unama.unmissions.org/treatment-conflict-related-detainees-afghan-custody

## د یوناما پخوانیو راپورونو ته د حکومت غبرګون

د ۲۰۱۰ کال راهیسې، د جګړې اړوند توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند په اړه د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د راپورونو د یو شمیر موندنو د ردولو ترڅنګ، حکومت د توقیف ځایونو د دومداره څارنې په تسهیلولو او په دغو راپورونو کې د وضع شویو یو شمیر کلیدي سپارښتنو د تطبیق لپاره د ګامونو په پورته کولو سره په رغنده ډول له یوناما سره ښکیل شوی.

په ۲۰۱۵ کال کې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا د راپور تر خپریدو وروسته، حکومت "د شکنجې د له منځه وړلو په اړه ملي پلان" وضع وکړ، د کوم له لارې چې حکومت د یو شمیر قانوني، ظرفیت جوړونې او نورو مخه نیوونکو تدابیرو تنظیم او وضع ته ژمن دی، کوم چې د شکنجې د له منځه وړلو او د ملګرو ملتونو د شکنجې او نورو غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا په ضد کنوانسیون لاندې د افغانستان د ژمنو د لا موثره تطبیق د یقیني کولو لپاره طرح شوي. د جګړې اړوند توقیفیانو سره چلند: د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د افغانستان د ملي پلان تطبیقول، په اړه د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ۲۰۱۷ کال په راپور (د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ۲۰۱۷ کال راپور) کې د حکومت له خوا د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د ملي پلان په تطبیق کې د حکومت له خوا د ترسره شویو اقدماتو یوه مفصله ارزونه شامله ده. اوسنی راپور د حکومت له خوا په دې برخه کې ترسره شوي پرمختګ په ډاګه کوي او د هغه هرکلی کوي، لکه د ۲۰۱۸ کال په اکتوبر کې د شکنجې د منع قانون تنفیذ.[5]

[5] د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د "شکنجې د له منځه وړلو په اړه د ملي پلان تطبیق" لاندې برخه وګورئ.

## ۲. میتودولوژي

یوناما د مخه نیونکې څارنې تګلار تعقیبوي. د توقیف ځایونو د مخه نیونکو لیدنو موخه د شکنجې او ناوړه چلند د خطر فکټورونو او سیستماتیکو نقضونو معلومول دي، کوم چې ښايي د څېړنو یا هرې انفرادي قضیې د غبرګون پر ځای د بشري حقونو د سرغړونو لامل شي. یوناما همدارنګه په پام کې نیسي چې د مرکو له لارې ثابت او منظم راغونډ شوي معلومات د یوې نمونې یا جریان ښکارندوی دي. د میتودولوژۍ په اړه اضافه کارول شوي تفصیلات لاندې په ډاګه شوي.

### د توقیف ځای د څار لیدنې او مرکې

یوناما د ۲۰۱۷ د کال د جنوري له لومړۍ څخه د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر تر ۳۱ پورې مودې په اوږدو کې د جګړې اړوند له ۶۱۸ توقیفیانو[6] سره چې د افغانستان د ۲۸ ولایتونو په ۷۷ توقیف ځایونو کې بندي شوي وو، پلان شوې او محرمانه مرکې ترسره کړې.[7] له ۶۱۸ مرکه شوي توقیفیانو څخه، ۵۳۶ يې لویان (د یوې ښځې په ګډون)[8] او ۸۲ يې ژنکي (د دریو نجونو په ګډون) و.[9] زیات شمیر دغه توقیفیان مخکې تر دې چې د یوناما له خوا ورسره مرکه وشي په ګڼو موقعیتونو کې بندي او له پوښتنو ګرویګنو سره مخ شوي، چې له امله يې په دې وتوانیده چې د ملاحظې مودې په اوږدو کې د توقیف له ۱۴۴۵ څخه د زیاتو مواردو د مستند کولو لپاره دغه مرکې وکاروي. په دغه راپور کې د "توقیفي" اصطلاح هغو اشخاصو ته کارول کیږي چې د جرمونو شکمن وي، تورن وي، یا محکوم شوي وي.

له پخوانیو کړنو او مشقونو سره سم، د یوناما د توقیف ځای د څارنې فعالیتونه په اساسي ډول د جګړې پر اړوند توقیفیانو تمرکز کوي څوک چې د ملي امنیت د ریاست او افغان ملي پولیسو په توقیف ځایونو کې بندي دي. په واقعیت کې، د یوناما د تیرو موندنو پر بنسټ، دغې اداري ملاحظه کړې چې په دغو توقیف ځایونو کې توقیفیان د شکنجې یا ناوړه چلند د نورو ډولونو له خطر سره مخ شوي. یوناما له نورو هغو توقیفیانو سره چلند نه دی ارزولې، چې د جګړې پرته د نورو جرمونو په تور بندي شوي.

مرکې د افغان ملي پولیسو په ولایتي او د ولسوالۍ په توقیف ځایونو، د ملي امنیت ریاست په ولایتي ریاستونو، د مرکزي محبس د ریاست په محبسونو او توقیف ځایونو، د ماشومانو د اصلاح په مرکزونو، او دغه راز په ملي مرکزونو کې لکه د افغان ملي اردو له خوا اداره کیدونکې په پروان ولایت کې افغان ملي توقیف ځای او د ملي امنیت ۲۴۱ او ۵۰۱ (له تروریزم سره د مبارزې او څېړنو ریاستونه) توقیف ځایونو کې ترسره شوي.

په هر توقیف ځای کې، یوناما د توقیف له چارواکو او نورو اړوندو حکومتي مقاماتو سره کتلې، د هر توقیف ځاي له برخو څخه يې لیدنه کړې او د توقیفیانو لیست يې کتلی. له توقیفیانو سره د مرکو د مودې پرمهال، یوناما د نیونې پر مهال او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو تر واک لاندې په هر توقیف ځای کې د چلند په اړه معلومات راغونډ کړې. یوناما همدارنګه هغه اندازه مستند کړې چې تر افغان او د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې توقیفیانو ته تر کوم حده طرز العملي ضمانتونه برابر شوي وو.

[6] هغه توقیفیان چې د جګړې په اړوندو سرغړونو متهم دي، په عام ډول په تروریستي جرمونو، د نسل وژنې په جرمونو، د بشریت ضد جرمونو، جنګي جرمونو، د دولت په ضد جرمونو او د کورني او بهرني امنیت په ضد په یو شمیر جرمونو چې د جزا په قانون کې (د جزايي اجرااتو د قانون د لومړۍ ضمیمې لومړۍ ماده وګورئ) جلا وضع شوي، تورن شوي. یوناما له زیات شمیر داسې توقیفیانو سره مرکې کړي څوک چې دوي د هغو جرمونو په اړه چې پرې تورن شوي، نه و خبر یا يې په اړه ورته خبر نه و ورکړل شوي، او کوم چې دوي په عام ډول د افغان حکومت په ضد په وسله واله بلواګرۍ کې د ښکیلتیا یا ملاتړ په څیر تشریح کیږي، یا د طالبانو په څیر د وسله والې مخالفې ډلې غړي اوسیدل. د مرکې لپاره د توقیفیانو په غوره کولو کې، یوناما یوه فرضیه کارولې چې ټول هغه چې د ملي امنیت ریاست په نظارت کې بندیان دي، د جګړې اړوند جرمونو لپاره څېړل شوي. له دې سره سره، چې د ملي امنیت ریاست د یو شمیر مشخصو جرمونو د څېړلو مسوول دی، کوم چې ښايي په مستقیم ډول د جګړې اړوند نه وي، لکه اختطاف/تښتونه او قاچاق. د څېړنو پرمهال هغه توقیفیان چې د دغه ډول جرمونو د ترسره کولو په تور توقیف او د ملي امنیت ریاست په نظارت کې بندیان وو، هم د یوناما د څارنې په نمونه کې شامل کړای شوي.

[7] دریمه ضمیمه وګورئ، د یوناما له خوا د لیدل شویو توقیف ځایونو لیست. یوناما همدارنګه د ۲۰۱۹ کال په جنوري او فبروري میاشتو کې هم مرکې ترسره کړي، خو په دغه راپور کې یوازې هغه اشخاص شامل دي چې د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ په اوږدو کې توقیف شوي.

[8] دغه راپور په ځانګړي ډول د جګړې اړوند توقیفیانو سره سرو کار لري. په عام ډول، ښځې او نجونې د جګړې اړوند جرمونو په تور نه دي توقیف شوي. په افغان زندانونو کې زیاتره ښځې او نجونې د عرفي یا شرعي قانون څخه د سرغړونو یا "اخلاقي" جرمونو په تور توقیف شوي.

[9] ژنکي هغه شخص دی چې د ۱۲ کلنۍ عمر يې بشپړ کړی وي خو د ۱۸ کلنۍ عمر نه، د ژنکو د قانون ۴ او د جزا د قانون ۹۵ او ۹۶ مادې وګورئ.

### د معلوماتو د غونډولو نورې لارې چارې

د توقیف ځای پر لیدنو سربېره، یوناما په مکرر ډول له قضایه غړو، څارنوالانو، دفاعي سلا مشورو، د توقیف ځایونو له چارواکو او د داخلي څېړنې له میکانیزمونو لیدلي، او له قوانینو او نورو رسمي اسنادو او راپورونو څخه یې معلومات راغونډ او تحلیل کړي.

یوناما دغه راز د شکنجې یا د ناوړه چلند د نورو ډولونو د تورونو د څېړنو او تورنو عاملینو لپاره د احتساب په اړه د ملي امنیت له ریاست، د کورنیو چارو له وزارت، د دفاع له وزارت، د لوي څارنوال له دفتر او د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون (د شکنجې د منع کمیسیون د مشر او سکرتریت په ځیر) سره مکتوبونه/معلومات تبادله کړي.

### د مرکې خوندیتوب او لارې چارې: د باوریتوب او کره توب یقیني کول

له توقیفیانو سره د مرکو ترسره کولو پرمهال د یوناما تر ټولو مهم لومړیتوب "زیان نه رسول" دي. له همدې امله او له معیاري کړنو سره سم، یوناما د هر انفرادي توقیفي هویت محرم ساتي او د غچ د بالقوه خطر له امله چې ښايي هغه توقیفیان ور سره مخ شي پر چا چې د توقیف ځای د کارمندانو په ضد د ناوړه چلند تور پورې کولو شک شوي، په انفرادي قضیو کې له چارواکو سره له مداخلې ډډه کوي.

په هر توقیف ځای کې، د یوناما د بشري حقونو افسرانو د جګړې په اړوندو جرمونو په تور توقیفیان په بې ترتیب ډول غوره کړي او له هغوي سره یې په شخصي ډول د توقیف ځای د کارمندانو، نورو حکومتي چارواکو یا نورو توقیفیانو په نشتون کې مرکې کړې. د مرکې تر پیلولو مخکې د یوناما د بشري حقونو افسرانو خپل د ملګرو ملتونو پېژند کارتونه ښودلي او ځانونه یې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د افسرانو په ځیر معرفي کړي. مرکې د یوناما د بشري حقونو د افسرانو له خوا د توقیفیانو په مورنۍ ژبه (پښتو یا دري) ترسره شوي، په کومو کې چې د یوناما د بشري حقونو داخلي افسران د ژباړونکو په ځیر کاروونه شامله ده. تر هرې مرکې مخکې، د یوناما د بشري حقونو افسرانو توقیفیانو ته خپل ماموریت او دنده تشریح کړې، او مرکه یوازې د توقیفي تر ازاد او با خبر رضایت وروسته ترسره شوې.

د یوناما ټولو مرکه کوونکو په دې اړه چې څرنګه مرکې ترسره کړي، د راغونډ شویو معلوماتو باوریتوب و ارزوي، محرمیت وساتي او د توقیف، شکنجې او ناوړه چلند د موضوعګانو په اړه معلومات تایید او تصدیق کړي، د یوناما د بشري حقونو په څانګه او د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر په دفتر کې د ماهرینو او سوپروایزرانو له سختې څارنې او نظارت سره معیاري لارښوونې او روزنې ترلاسه کړي. مرکه کوونکو له مهمو پوښتنو کولو څخه ډډه کړې او له توقیفیانو یې غوښتي چې په ازاد ډول خپلې کیسې ووايي.[10] د هرې مرکې لپاره، د یوناما د بشري حقونو افسرانو د مرکې مفصله تشریح ثبت کړې، کومه چې د باوریتوب او تصدیق لپاره ارزول شوې. د امنیت او محرمیت دلایلو له مخې، د توقیفیانو هویت نه دی په ډاګه شوي.

### د "په کافي ډول کره او باوري" حد: د ثبوت معیار

په داسې حال کې چې د شکنجې ټول تورونه باید وڅېړل شي، یوناما د "په کافي ډول کره او باوري" حد کارول غوره کړي، څو معلومه کړي چې ایا باید د توقیفي معلومات د دغه راپور د یوې برخې په ځیر په پام کې ونیول شي.[11]

---

[10] په توقیف کې د چلند په اړه د توقیفیانو د معلوماتو په ترلاسه کولو او تصدیقولو کې، ماهرو کارپوهانو پریکړه وکړه، چې د ناسمو تورونو د معلومولو تر ټولو باوري لار د توقیفي د بیانې د "ریښتنې بڼې" ترلاسه کول او د هغې مفصله شننه او تحلیل دي. ریښتنې بڼه دا ده چې له کومې مداخلې پرته توقیفي په خپلو کلیمو د ادعا شوې پیښې بیان ورکړي، د هغې بڼې په پرتله چې د یو لړ پوښتنو په ځواب کې ورکول کېږي. ریښتینې بڼه د دې فرصت برابر وي او له دې ماهرانه شننې سره مرسته کوي چې ایا معلومات د ریښتنې حافظې له لارې برابر شوي. له ناسمو، تزویري یا غلطو معلوماتو سره، توقیفي به تفصیلات حفظ کړې وي او پوښتنو ته د ځواب پرمهال به یې بیرته په یاد کوي. خو بیا هم، ریښتینې کیسه به د صحنو په کارولو او له ریښتنې حافظې سره د تړلو خاصیتونو په روښانه کولو سره تشریح شي. د توقیفي د معلوماتو مقایسوي تحلیل په ډاګه کړې چې ریښتینې حافظې د زیاتو حسي تفصیلاتو د منعکسولو او درلودلو (لکه رنګونه، حجم، بڼه او غږ)، د جغرافیایي تفصیلاتو د زیاتې یادونې، د تفکري او داخلي پروسس کولو د یادولو (لکه تفکرات، احساسات، عکس العملونه) او د کم شمیر شفاهي مهارتونو درلودونکې وي. د دغه راپور لپاره، د یوناما مرکه کوونکو داسې پوښتنې پوښتلې چې توقیفیانو ته یې د دې زمینه برابره کړې چې خپلې کیسې په خپلو کلیمو او خپل سرعت سره ووايي. لومړنۍ پوښتنې ازادې وي، چې د بیانیې د ریښتینولۍ د ارزونې لپاره غوره ممکنه وسیلې برابروي. کله به چې یو توقیفي دغو ازادو پوښتنو ته په ځواب کې لومړني معلومات وړاندې کړل، مرکه کوونکو به یې په تعقیب ځانګړې پوښتنې وکړې څو تفصیلات لا پسې په ډاګه یا د معلوماتو ساحې روښانه کړې. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د روزنې لاسي کتاب وګورئ، پر دغې انټرنټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: .www.ohchr.org/documents/publications/training7introen.pdf

[11] له همدې امله، یوناما د "احتمالاتو توازن" د پیل د نکتې په ځیر کاروي، په دې مانا چې ډیری شواهد د مغایرت پر ځای د موندنې ملاتړ کوي.

دغه لارې چارې د زیات شمیر کلونو لپاره په نړیواله کچه د بشري حقونو او د بشرپالنې د حقیقت موندنې د زیات شمیر نړیوالو ماموریتونو له خوا کارول شوي، او دا حقیقت منعکسوي چې په جنایي محاکماتو کې د ثبوت لوړ معیار ("تر معقول شک پرته") چې وکولی شي انفرادي جنایي مسوولیت رامنځ ته کړي، د هغو لپاره چې د بشري حقونو څارنې ترسره کوي مناسب نه دي. د یوناما د بشري حقونو افسران چې په یوه محدود ماموریت کې خپلې چارې ترسره کوي، د قانون د تنفیذ افسران نه دي، د دې صلاحیت نه لري چې د شواهدو غوښتنه وکړي، او نه هم په داسې یوه موقف کې دي چې د تصدیق ورته هغه معیار پر خپلو موندنو تطبیق کړي د هغو په پرتله چې له رسمي قضایي پروسو څخه یې تمه کیږي.[12]

یوناما ټول موجوده معلومات (د انفرادي معلوماتو د بشپړې ارزونې او د اړوندو شواهدو د تصدیق په ګډون) ارزولي، څو معلومه کړي چې ایا د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه د هر تور په ترلاسه شوي معلومات په کافي ډول کره او باوري دي څو وکولی شي موندنې ترسره، د مشخصو توقیف ځایونو په اړه اندیښنې را ولاړې او د جنایي څېړنو او نورو تدابیرو سپارښتنه وکړي. د ارزونې په شرایطو کې د څرګندونو د تفصیل اندازه، د معلوماتو انسجام او تطابق، د نمونو شتون او نور تصدیق کوونکې معلومات او شواهد شامل دي.

چیرې چې یوناما د توقیفي د معلوماتو د ریښتنیولي په اړه قانع نه وي، هغه د شکنجې یا ناوړه چلند په کافي ډول د کره او باوري پیښو په نمونه که نه شاملیږي. د یوناما له خوا د مرکه شویو توقیفیانو په نمونه کې یو شمیر هغه شامل دی چا چې د شکنجې یا ناوړه چلند تور نه دی پورې کړی، یا د چا تورونه چې یوناما د کره یا باوري هغو په څیر نه دي ارزولي.

په ځینو قضیو کې، د یوناما مرکه کوونکو د ګڼ شمیر توقیفیانو پر بدن ټپونه، او د پرهار نښې نښانې کوم چې د شکنجې او ناوړه چلند له تورونو سره په سمون کې دي او/یا د دغه ډول ټپونو لپاره پټۍ او د طبي درملنې نور شواهد مشاهده کړې. د مرکه شویو توقیفیانو ګڼ شمیر خبر ورکړی چې د هغو ټپونو له امله چې د پوښتنو ګرویګنو او توقیف پرمهال یې ترلاسه کړې وو د طبي درملنې غوښتنه کړې.

د قضیو په محدود شمیر کې، یوناما د ټپونو/پرهارونو داسې انځوریز او نور شواهد او دغه راز یو شمیر معلومات ورکوونکو او سرچینو څخه طبي شواهد ترلاسه کړي، چې د توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند سره په سمون کې دي. خو له دې سره سره، په زیات شمیر توقیف ځایونو کې د چارواکو له خوا د یوناما مرکه کوونکو ته اجازه نه ده ورکړل شوې چې له توقیفیانو سره مرکو ته له ځان سره موبایلونه، کمرې، د انځور اخیستلو کمرې، د غږ د ثبت وسیلې یا کمپیوټرونه یوسي.

### د شکنجې او ناوړه چلند په اړه موندنې: د ارزونې معیارونه

په پورته برخه کې په ډاګه شوي د معلوماتو د "په کافي ډول کره او باوري" معیار د یوه اساس په څیر کارول شوي څو معلومه کړای شي چې ایا د توقیف د سیستم په دننه کې د شکنجې او ناوړه چلند ثابتې نمونې څرنګه چې تر نړیوال قانون لاندې تعریف شوي رامنځ ته شوي.[13] یوازې هغه توقیف ځایونه او ولایتونه په پام کې نیول شوي چیرې چې یوناما د پام وړ لوړ شمیر توقیفیانو سره مرکې ترسره کړې.[14]

اوسنی راپور د جګړې اړوند توقیفیانو سره د نیونې یا ګرفتارۍ پر مهال د چلند په اړه عمومي موندنې نه ترسره کوي، بلکې له دوی سره پر هغه چلند تمرکز کوي کله چې دوی د افغان ملي پولیسو، د ملي امنیت ریاست یا د افغان ملي اردو توقیف ځایونو ته له نږدې کنترول شوي چاپیریال ته یوړل شي، چیرې چې دوی د توقیف کولو د چارواکو تر بشپړ او موثر فیزیکي کنټرول لاندې وي.

---

[12] دغه راز وګورئ، سټیفن ویلکینسون، *د بشرپالنې او د بشري حقونو په حقیقت موندنې او تحقیقاتي نړیوالو ماموریتونو کې د ثبوت معیارونه* (۲۰۱۲)، د بشرپالنې د نړیوال قانون او بشري حقونو د جینوا اکاډمي.

[13] په نړیوال قانون کې د شکنجې او ناوړه چلند د منع په تړاو د لا زیاتو معلوماتو لپاره دویمه ضمیمه وګورئ.

[14] په داسې حال کې چې د یوناما لپاره توقیف ځایونو ته لاس رسي په عام ډول د افغان حکومت له خوا برابر شوی، خو دا شایي د نورو فکتورونو لکه نا امني په مشخصو سیمو یا موقعیتونو کې جګړو له امله له خنډ سره مخ شوی.

په هغو توقیف ځایونو کې چې په دغه راپور کې په منظم او معمول ډول د شکنجې یا ناوړه چلند د کاروني په څېر ډلبندي شوي، یو پر درې (۳۳ سلنه دي) دي یا د مرکه شویو توقیفیانو زیاترو هغو یې په کافي ډول کره او باوري معلومات ورکړي، چې هغوي له شکنجې یا د ناوړه چلند له نورو ډولونو سره مخ شوي.

په هغو توقیف ځایونو کې چې په دغه راپور کې په سیستماتیک ډول د شکنجې یا ناوړه چلند د کاروني په څېر ډلبندي شوي، یو پر نیمه یې (۵۰ سلنه دي) دي یا د مرکه شویو توقیفیانو زیاترو هغو یې په کافي ډول کره او باوري معلومات ورکړي، چې هغوي له شکنجې یا د ناوړه چلند له نورو ډولونو سره مخ شوي.

د یوناما په اند، دا چې د جګړې اړوند توقیفیانو یو پر دریمه اندازه په یوه مشخص توقیف ځای کې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه خبر ورکوي د دې شونتیا ښکارندوي دی چې شکنجه او ناوړه چلند د څو اشخاصو له خوا په جلا قضیو کې نه دي کارول شوي، بلکې د هغه مشخص توقیف ځای ثابته پالیسي منعکسوي او دا چې د توقیف ځای رییسان او مستنطقین د شکنجې یا د ناوړه چلند د نورو منع شویو ډولونو د کاروني په اړه خبر وو، د هغې امر یې کړی یا یې ورسره خپل رضایت څرګند کړی.

له دې سره سره، یوناما د دې استدلال او دعوه نه کوي چې د شکنجې یا ناوړه چلند کارونه د حکومت د سیستماتیکې ملي یا قانوني پالیسي یوه برخه ده.[15] د نوموړې اداري له تحلیل او شننې سره سم، په واقعیت کې ښایي چې شکنجه یو منظم او معمول یا سیستماتیک خاصیت وي، خو پرته له دې چې د حکومت د مستقیمې ارادې په پایله کې رامنځ ته شوې وي. دا ښایي د هغو فکټورونو له امله وي چې حکومت یې په کنټرولو کې ستونزه لري، او شتون یې ښایي د پالیسي، څرنګه چې د مرکزي حکومت له خوا په ډاګه شوې، او په ځایي کچه یې د تطبیق ترمنځ تناقض څرګند کړي.

**قانوني قطعیت**

تر داخلي او نړیوال قانون لاندې د شکنجې او د ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند نور ډولونو یا سزاګانو تعریف یو شمیر هغه کړنې رانغاړي چې ذهني ضربه یا فیزیکي کړاو لرونکې وي، د هغو اشخاصو له خوا یا د هغوي په رضایت چې د دولت په استازیتوب چارې پرمخ وړي.

دغه راپور د هغو کړنو ترمنځ چې د شکنجې لامل کیږي او د ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند د نورو کړنو یا سزاګانو ترمنځ څرنګه چې تر نړیوال قانون لاندې تعریف شوي، توپیر نه کوي.[16] د شکنجې د منع کنوانسیون، او دغه راز د بشري حقونو د نړیوال قانون، د بشرپالنې تر نړیوال قانون او نورو هغو تړونونو لاندې چې افغانستان یې غړی دی، دغه ډول دواړه کړنې منع شوي. سربیره پر دې، "د ناوړه چلند او شکنجې ترمنځ زیاتره وخت د تعریفي حد نا څرګند وي. تجربه په ډاګه کوي، هغه حالات چې ناوړه چلند راولاړوي په مکرر ډول شکنجې ته لار هواروي، او له همدې امله هغه تدابیر چې د شکنجې د مخنیوي لپاره اړین دي باید تطبیق شي څو د ناوړه چلند مخنیوی وشي."[17]

په داسې حال کې چې یوناما له انفرادي توقیفیانو سره مرکې کړي او د شکنجې او د ناوړه چلند د نورو ډولونو د تورونو د احتمال په اړه یې پریکړې کړي، دا د دې ادعا نه کوي چې د دې ظرفیت لري څو یو دقیق او لازم الاجرا حقوقي پریکړه وکړي چې ایا په کومه ځانګړې قضیه کې شکنجه (څرنګه چې تر داخلي او نړیوالو قوانینو لاندې تعریف شوې) رامنځ ته شوې، او نه هم د دې دعوه کوي چې د جنایي عدلي سیستم بدیل دې وي. د یوناما د توقیف ځای د څارنې پروګرام د دې لپاره طرح شوي چې د افغان حقوقي سیستم په د ننه کې د شکنجې او د ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند د نورو ډولونو او سزاګانو د کاروني په اړه کره او باوري معلومات وړاندې کړي، په دې موخه چې حکومت د خپلو ژمنو پلي کولو ته وهڅوي څو شکنجه منع کړي او چیرې

[15] دغه دریځ له هغه تعریف څخه رابرسیره شوي چې د ملګرو ملتونو د شکنجې د منع کمیټې له خوا کارول شوی، کله چې دوي دا ارزوله چې ایا شکنجه د شکنجې د منع کنوانسیون د غړي دولت له خوا په سیستماتیک ډول ترسره کیده؛ ۲۰ ماده وګورئ، تر کومې لاندې چې د شکنجې د منع کمیټه د دې صلاحیت لري چې د "غړي دولت لخوا په سیستماتیک ډول د شکنجې د کاروني د موثقو نښو نښانو" په اړه محرمانه څېړنې ترسره کړي. په دې زمینه کې، کمیټه هغه مهال انګیري چې شکنجه په سیستماتیک ډول ترسره شوې، کله چې دا څرګنده شي چې د شکنجې راپور شوې قضیې په اتفاقي ډول په کوم ځانګړي ځای او ځانګړي وخت کې نه دي ترسره شوي، بلکې داسې ښکاري چې عادتي، په پراخه کچه او عمدي ډول ترسره کیږي؛ وګورئ A/48/44، الحاقي پروتوکول ۳۹ پاراګراف او ۶۳A/56/44 مخ.

[16] د شکنجې او ناوړه چلند د تعریف لپاره د لا زیاتو معلوماتو لپاره همدارنګه دویمه ضمیمه وګورئ.

[17] د شکنجې د منع کمیټه، دویمه شمیره عمومي تبصره، دریمه پراګراف

چې د شکنجې ادعا شوې وي بې پرې، خپلواک او باوري تحقیقات ترسره او د قربانیانو د جبران لپاره مناسبې وسیلې رامنځ ته کړي.

## ۳. د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د ملي پلان تطبیق

یوناما د افغان دولت د پیاوړو هڅو هرکلی کوي او د جګړې اړوند توقیفیانو سره د چلند په اړه د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د ۲۰۱۷ کال تر راپور: د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د افغانستان د ملي پلان تطبیق وروسته، د شکنجې د له منځه وړلو په اړه د ملي پلان په تطبیق کې د ترسره شوي پرمختګ یادونه کوي.

په ځانګړي ډول، یوناما د راتلونکو مواردو هرکلی کوي:

- د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې د جزا د تعدیل شوي قانون تنفیذ، کوم چې د شکنجې یو تعریف رانغاړي چې تر ډېره د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا په ضد د ملګرو ملتونو له کنوانسیون سره په سمون کې دی، او کوم چې د نورو په ګډون، د هغو جرمونو شمیر د پام وړ راکموي، پر کومو چې د مرګ سزا د تطبیق وړ ده؛
- د ۲۰۱۸ کال په اپریل کې، د شکنجې د منع کنوانسیون له الحاقي پروتوکول سره د افغانستان توافق؛
- د ۲۰۱۸ په اپریل کې، د شکنجې د منع کنوانسیون په وړاندې د افغانستان د ریزیرویشن بیرته اخیستل، چې په دې سره د شکنجې د منع کمیټې هغه صلاحیت مني د شکنجې د تورونو محرمانه څېړنې ترسره کړې، څرنګه چې یې د دغه کنوانسیون په ۲۰ ماده کې وړاندوینه شوې؛
- د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په پای کې په رسمي جریده کې د خپرولو له لارې د شکنجې د منع قانون تنفیذ، کوم چې د نورو په ګډون د شکنجې د مخنیوي، د قربانیانو، شاهدانو او شکنجې د تورونو د څېړنو لپاره د مسوولو کارمندانو د ساتنې، او دغه راز د قربانیانو د جبران لپاره احکام وضع کوي، او د شکنجې د منع یو کمیسیون تاسیسوي څو د دغه قانون له تطبیق سره مرسته وکړي؛ او
- د ۲۰۱۸ کال په جون کې، د شکنجې د منع کمیټې ته د تعقیبي راپور سپارل، چې د افغانستان د دویم مهالنۍ بیاکتنې په اړه ملاحظات نهایي کوي.

دغه ټول تدابیر په لوړو کچو د دولت د څرګندې ژمنتیا ښکارندوي کوي، چې د شکنجې د منع او مخنیوي لپاره د افغانستان نړیوال مکلفیتونه رعایت او د شکنجې د مخنیوي لپاره د ملګرو ملتونو له اړوندو میکانیزمونو سره د رغنده ښکیلتیا د تسهیلولو لپاره اړین میکانیزمونه رامنځ ته کړي.

## ۴. په افغانستان کې د شکنجې او ناوړه چلند د منع حقوقي چوکاټ

په افغانستان کې د شکنجې او ناوړه چلند د منع په تړاو حقوقي چوکاټ اوس په مناسب ډول جامع او ټول اړخیز دی، چې د شکنجې د منع قانون د دغه ډول کړنو د مخنیوي او له منځه وړلو لپاره یو چوکاټ برابروي. دغه برخه د شکنجې او ناوړه چلند د منع ځینې خورا مهمې او طرز العملي خواوې معرفي کوي څرنګه چې د افغان قوانینو له خوا تنظیم شوي، زیات شمیر هغه احکام چې له نړیوال قانون سره په سمون کې دي په ډاګه او ځینې پاتې ننګونې په ګوته کوي.

### الف. د شکنجې څرګند او بشپړ ممنوعیت

افغان قانون په څرګند ډول شکنجه منع کوي، اساسي قانون په دې اړه داسې تصریح کوي چې "هیڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیونې یاتوقیف لاندې وي او په جزا محکوم وي، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي یا یې د تعذیب امر وکړي."[18] د شکنجې د منع قانون د شکنجې بشپړ ممنوعیت تنفیذوي.[19]

### ب. د شکنجې جرم شمیرنه

د جزا تعدیل شوي قانون د شکنجې کړنو په اړه جنایي احکام رانغاړي او هغه تر افغان قانون لاندې جرم شمیري. د نوموړې قانون ۴۵۰ ماده شکنجې په لاندې ډول تعریفوي:

*"شکنجه هغه عمل دی چې د عامه خدمتونو د موظف یا د هر بل رسمي مقام په واسطه یا د هغه په امر، موافقې، رضایت یا یې د سکوت له امله ارتکاب شي او د مظنون، تورن، محکوم یا بل شخص د جسمي یا روان شدید درد یا تعذیب لامل شي، په دې مقصد چې مظنون یا تورن د ځان پر خلاف اعتراف وکړي یا د بل شخص په هکله معلومات ورکړي؛ شخص د مظنون، تورن یا د محکوم په اړه اطلاعات وراندې کړي؛ د هغه عمل له بابته چې هغه یا بل شخص د هغه مرتکب شوی، هغه تعذیب کړي؛ شخص د عمل د اجرا یا امتناع په منظور، ارعاب یا اکراه کړي؛ د شخص په وړاندې د داسې چلند مرتکب شي چې پر تبعیض بنا وي."*

د جزا قانون همدارنګه د شکنجې د ترسره کولو د "هڅې"، "رضایت" او د "ګډون" د نورو شکلونو لپاره جنایي مسوولیت رامنځ ته کوي، او مرتکب لپاره یې د سزا سریره له دنده د ګوښه کیدو وړاندوینه کوي.[20]

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د جزا په قانون کې په څرګند ډول د شکنجې د عمل د جرم شمیرنې هرکلی کوي، چې د شکنجې د جرم لپاره یو داسې تعریف کاروي، چې تر ډیره له هغو عنصرونو سره په سمون کې دی، کوم چې د ملګرو ملتونو د شکنجې د منع په کنوانسیون کې وضع شوي.

له دې سره سره، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د دې یادونه کوي، چې که چیرې شکنجه د ټپي کیدو، دایمي جسمي یا رواني معلولیت[21] یا مړینې د شدیدو پایلو لامل نه شي، د شکنجې دغه عمل د جنحه[22] جرم ګڼل کیږي، چې سزا یې له درې تر پنځو میاشتو بند دی.[23] د ملګرو ملتونو د شکنجې د منع کمیټه دغه سزاګانې نرمې او زړه سواندې ګڼي.[24]

---

[18] د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون ۲۹ ماده.

[19] د شکنجې د منع قانون ۶ او ۷ مادې وګورئ.

[20] د جزا قانون (کوډ) ۴۵۱ ماده.

[21] که چیرې د شکنجې عمل د ټپي کیدو یا دایمي فیزیکي او رواني معلولیت لامل شي سزا د طویل حبس ته لوړیږي. د طویل حبس موده له پنځو تر شپاړسو کلونو پورې؛ د جزا قانون ۱۴۷ ماده وګورئ.

[22] هغه جرمونه جنحه ګڼل کیږي چې حد اکثر د تطبیق وړ سزا یې متوسط حبس وي (د جزا قانون ۳۰ ماده)، چې د یو تر پنځو کلونو پورې کیږي (د جزا قانون ۱۴۷ ماده).

[23] د جزا د قانون ۴۵۱ ماده د شکنجې جرم لپاره د "متوسط حبس" له دریو کلونو د زیاتې سزا غوښتنه کوي. که چیرې دغه کړنه د جدي جسمي ټپ یا که چیرې قرباني یو ماشوم، یوه ښځه یا معلول شخص وي، د سزا اکثر حد پنځه کلونه باید تطبیق شي.

[24] سي ایف. د شکنجې د منع کمیټه، د افغانستان د دویم مهالني راپور په اړه ملاحظات نهایي کوي، CAT/C/AFG/CO/2 (۱۵۳۵ او ۱۵۳۷ ناستې، چې د ۲۰۱۷ کال د مئ پر ۹ او ۱۰ ترسره شوې)، ۲۳ پراګراف.

په معکوس ډول، که چیرې قرباني د شکنجې له امله ووژل شي، د عمدي قتل سزا د تطبیق وړ ده په کومه کې چې ښايي د مرګ سزا شامله وي.[25] د شکنجې د منع تر کنوانسیون لاندې، غړي دولتونه د دې مکلفیت لري څو یقیني کړي چې د شکنجې لپاره سزاګانې د جرم له شدت سره په انډول کې دي. دوي باید همدارنګه یقیني کړي چې د جرمونو لپاره ټولې سزاګانې له نړیوالو او داخلي قوانینو سره سمې تطبیق کیږي، په ځانګړي ډول له عادلانه محاکماتي تضمینونو سره.

**ج. د شکنجې او ناوړه چلند مخنیوی**

د شکنجې د منع له نوي قانون سره چې د ۲۰۱۸ د اکتوبر پر ۳۱ نېټه په رسمي جریده کې خپور شو، حکومت د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي په موخه یو ملي چوکاټ نافذ کړ. د شکنجې د ورته تعریف پر بنسټ کوم چې د جزا په قانون کې راغلی (پورته يې وګورئ)، د مثال په ډول، شکنجې د منع قانون د چارواکو لپاره د شکایتونو، شواهدو او محقیقینو د ساتلو مکلفیت وضع کوي، او د توقیف ځایونو د څارنې او احتساب د یقیني کولو په ګډون له هغوي غوښتنه کوي چې د شکنجې د مخنیوي لپاره اړین تدابیر ترسره کړي. قانون همدارنګه د شکنجې د منع د لوړې کچې کمیسیون تاسیسیوي، چې مشري يې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا کیږي او د اړوندو دولتي او د مدني ټولنې له استازو جوړ شوی.[26]

**د. د شکنجې او ناوړه چلند د قربانیانو لپاره جبران**

د اساسي قانون ۵۱ ماده تصریح کوي چې "هر څوک چې له اداري څخه بې موجبه زیانمن شي د تاوان اخیستلو مستحق دی او کولای شي د تاوان د ترلاسه کولو لپاره په محکمه کې دعوا اقامه کړي." د شکنجې د منع په قانون کې په ځانګړي ډول د شکنجې د قربانیانو د خسارې د جبران په اړه یو فصل شامل دی، او دا حکم کوي چې د خسارې د جبران لپاره د قرباني ادعا د جنايي اجراآتو په پایله پورې تړاو نه لري.[27]

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د شکنجې قربانیانو لپاره د خسارې جبران په اړه د نویو احکامو/ترتیباتو هرکلی کوي. له دې سره سره، دوي ملاحظه کړې، داسې ښکاري چې د شکنجې د منع قانون د خسارې د جبران د ټاکلو لپاره له حده زیاد ثبوت ("له کوم معقول شک پرته") غواړي. دغه شرط د ثبوت د راګرځولو له هغه سخت حکم سره تړاو لري، کوم چې یوازې هغه مهال تطبیق کیږي کله چې له ازادۍ د محروم شخص پر بدن د شکنجې نښې نښانې ولیدل شي.[28] د شکنجې او ناوړه چلند د قربانیانو د حقونو د بشپړ تضمین لپاره، غړي دولتونه پر دې مکلف دي څو یقیني کړي چې د خسارې جبران حق په موثر ډول تطبیق شوي. د شواهدو بار او طرز العملي شرایط چې د خسارې د جبران حق په معلوملو کې مداخله کوي، ښايي د دغه ډول موثر تطبیق په وړاندې خنډونه رامنځ ته کړي.[29]

**ه. د شکنجې او ناوړه چلند په وړاندې حقوقي او نور طرز العملي تضمینونه**

له نړیوال قانون سره سم، داخلي حقوقي چوکاټ داسې تضمینونه رانغاړي، چې موخه يې د شکنجې او ناوړه چلند د کارونې مخنیوي او هغې ته رسیدګي ده. د جزايي اجراآتو قانون زیات شمیر حقونه وضع کړي، د مثال په ډول محکمې ته د حاضرولو حق، تر کوم لاندې چې توقیفیان کولی شي د هغوي د توقیف قانونیت ننګوي، او دا حق چې کورنۍ د نیونې په اړه خبر ورکړي.[30] د جزايي اجراآتو د قانون ۹ (۴) او ۱۵۲ مادې د قضايي اجراآتو په ټولو پړاونو کې د مدافع وکیل شتون حتمي ګڼي. سربیره پر دې، د جزايي اجراآتو قانون په قضايي اجراآتو کې د هغو شواهدو کارول چې د شکنجې یا د اکراه د نورو ډولونو له لارې تر لاسه شوي وي ردوي

---

[25] د جزا قانون ۵۴۷ ماده.

[26] د شکنجې د منع قانون له ۸ تر ۱۲ مادې وګورئ. د شکنجې د منع کمېټې په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د څارنې، څیړنو او احتساب په اړه په ۶ فصل کې اړوند برخه وګورئ.

[27] د شکنجې د منع قانون ۲۰ ماده؛ د شکنجې د منع کمېټې، ۳ شمیره عمومي تبصره، ۲۶ پراګراف.

[28] د شکنجې د منع قانون ۲۲ او ۲۳ مادې وګورئ.

[29] د شکنجې د منع کمېټې، ۳ شمیره عمومي تبصره، ۳۸ پراګراف.

[30] د جزايي اجراآتو د قانون ۷ (۱۳) او (۴) ماده.

او دواړه څارنوال او محکمه پر دې مکلف وي څو يقيني کړي چې هغه شواهد چې د داخلي قوانينو څخه د سرغړونې له لارې تر لاسه شوي وي منع دي.[31]

د توقيفيانو قانوني تضمينونه او نور حقونه، لکه توقيف ځای ته په داخليدو سره روغتيا پالنې او طبي معايناتو ته د لاس رسي حق، همدارنګه د محبسونو او توقيف خونو په قانون او د نظارت خونو د چارو د تنظيم په اړه په مقرره کې په لړ څه تفصيل سره وضع شوي.[32]

### و. د جګړې اړوند جرمونو لپاره ځانګړي احکام او طرز العملونه

په داسې حال کې چې په افغان قانون کې حقوقي او طرز العملي خونديتوبونه په ښه ډول وضع شوي، د جزايي اجراآتو د قانون لومړۍ ضميمه د جګړې اړوند جرمونو مشخصو استثناآتو ته اجازه ورکوي. په دې زمينه کې، يوناما د جزايي اجراآتو د قانون په لومړۍ ضميمه کې د يو شمير هغو احکامو لغوه کولو، يا تعديلولو هرکلی کوي چې له نړيوال معيار سره نه دي برابر. په ځانګړې ډول دغه اداره د اداري حبس د لغوه کولو هرکلی کوي او قانون په دې ډول تصريح کوي چې د جګړې په تړاو نيول شوي ماشومان بايد د ماشومانو د اصلاح په مرکزونو کې وساتل شي.[33]

که څه هم د نوموړي قانون لومړۍ ضميمه امنيتي چارواکو ته اجازه ورکوي چې شکمن کسان تر ۱۰ ورځو لپاره بندي کړي، څو اجراات تکميل او جرمي شواهد راغونډ کړي. دغه ضميمه همدارنګه څارنوالونو ته اجازه ورکوي، که چيرې بسيا جرمي شواهد موجود وي، د يوه حکم په صادرولو سره د نيول شوي شخص توقيف د ۶۰ ورځو لپاره غځولی شي، څو د رسمي څيړنو لپاره زمينه برابره کړي، چې د جرم په څرنګوالی پورې اړه لري.[34] شکمن شخص کيدای شي له کوم قضايي نظارت پرته د ۷۰ ورځو لپاره په توقيف کې پاتې شي.

د نيول شوي شخص لپاره هغه شرط چې بايد زر تر زره د يوه بې طرفه قاضي په وړاندې احضار کړای شي، له ازادۍ څخه د خپل سري محروميت په ضد يو له اساسي تضمينونو څخه ګڼل کيږي او د تورن شخص لپاره ددې زمينه برابروي چې د خپل توقيف اساس وننګوي. دا همدارنګه د قاضي لپاره د دې فرصت برابروي چې د نظارت پرمهال له توقيفي سره د ترسره شوي چلند په اړه پلټنه وکړي. په داسې حال کې چې ښايي د "زر تر زره" کره مانا توپير وکړي چې په اړوندو شرايطو پورې تړاو لري، خو نړيوال قانون د دې غوښتنه کوي چې د نيونې له مودې راوروسته ځنډونې نه بايد له څو ورځو واوړي.[35] همدارنګه دولتي څارنوال د قضايي څار ځای نه شي نيولی.[36] د جزايي اجراآتو د قانون تر لومړۍ ضميمې لاندې تر کوم قضايي څار پرته د ۷۰ ورځو لپاره د توقيف مجاز موده له هغې زماني مودې څخه خورا زياته ده کومه چې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کميټې تر نړيوال قانون لاندې د مناسبې هغې په څير ارزولې.[37]

څرنګه چې پورته په ډاګه شوه، د جزايي اجراآتو د قانون تر لومړۍ ضميمې لاندې د جګړې اړوند جرمونو د توقيف او څيړنو موده همدارنګه له توقيف ځای سره تړلې. افغان قوانين له ازادۍ څخه د محروميت د درې ډولونو ترمنځ توپير کوي: نظارت خونې، توقيف ځايونه او محبسونه. نظارت خونې د جرم د توقيف په پړاو کې د شکمنو کسانو د موقت نظارت لپاره کارول کيږي او ښايي

[31] د جزايي اجراآتو د قانون ۲۱ او ۲۲ مادې.
[32] د مثال په ډول، د محبسونو او توقيف ځايونو د قانون ۲۷ او ۲۹ مادې، او د نظارت خونو د چارو د تنظيم په اړه د مقررې ۸ او ۱۶ مادې وګورئ.
[33] د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر د ۶ نېټې ۱۲۲۲ شميره، د ۲۰۱۸ کال د مارچ د ۱۶ نېټې ۱۲۸۶ شميره، او د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر د ۲۱ نېټې ۱۳۱۸ شميره رسمي جريدې وګورئ.
[34] د جزايي اجراآتو د قانون د لومړۍ ضميمې ۵ او ۶ مادې وګورئ. څارنوال ښايي د دې صلاحيت ولري چې د جنحه جرمونو لپاره د توقيف موده د ۳۰ ورځو او د جنايت جرمونو لپاره د توقيف موده ۶۰ ورځو ته وغځوي.
[35] د اساسي قانون ۷ ماده تصريح کوي چې دولت نړيوال ميثاقونه رعايت کوي، او ۳ ماده يې د دې غوښتنه کوي چې "له نيونې وروسته زر تر زره، مظنون به د قانون له خوا د مشخصې شوې مودې په دننه کې محکمې ته احضاريږي."
[36] د مدني او سياسي حقونو د نړيوال کنوانسيون ۹ (۳) ماده؛ د بشري حقونو کميټه، ۳۵ شميره عمومي تبصره [۹ ماده (د شخص ازادي او امنيت)]، CPR/C/GC/35د ۱۶ ډسمبر ۲۰۱۴، ۳۴-۳۲ پراګرافونه.
[37] د مثال په ډول، په Jijón v. Ecuador کې، د بشري حقونو کميټې په پام کې نيولې چې پنځه ورځې (۱۲۰ ساعتونه) خورا اوږده موده ده.

چې د کورنیو چارو وزارت (افغان ملي پولیسو)، د دفاع وزارت (افغان ملي اردو)، د ملي امنیت ریاست او د عدلیې وزارت (د ماشومانو د اصلاح مرکزونو) له خوا اداره شي.[38]

د محبسونو او توقیف ځایونو قانون توقیف ځایونه، چیرې چې هغه شکمن اشخاص ساتل کیږي چې د خپلو محکمو انتظار کوي، او محبسونه، چیرې چې اشخاص د محکمې تر وروستۍ پریکړې وروسته بندي کیږي، تنظیموي.[39] دغه قانون د ملي امنیت ریاست-، افغان ملي پولیسو- یا افغان ملي اردو له خوا د اداره کیدونکو مرکزونو پر ځای یوازې د کورنیو چارو وزارت د مرکزي محبسونو ریاست ته راجع کیږي. یوناما په ډاګه کوي، یو ځل چې شکمن اشخاص د څارنوال په حکم توقیف او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو له نظارت څخه یوه توقیف ځای ته ولیږدول شي چې د مرکزي محبسونو د ریاست یا د عدلیې وزارت (د ماشومانو د اصلاح مرکزونو) له خوا اداره کیږي، د شکنجې یا ناوړه چلند سره د مخ کیدو له کم خطر سره مخ کیږي.

د څارنې پرمهال، یوناما په مکرر ډول داسې توقیفیان ملاحظه کړي چې د افغان ملي پولیسو او د ملي امنیت د ریاست په نظارت کې له هغې لس ورځنۍ مودې څخه د زیات وخت لپاره پاتې شوي، چې د جزایي اجراآتو د قانون تر لومړۍ ضمیمې لاندې مجاز ده. په ورته قضیو کې، توقیفیان د ملي امنیت د ریاست په نظارت کې له ۷۰ ورځو څخه د زیاتې مودې لپاره بندي شوي. یوناما د دې هڅه نه ده کړې چې په هره انفرادي قضیه کې هغه طرز العملي اساس معلوم کړي د کوم له مخې چې دغه توقیفیان د افغان ملي پولیسو یا د ملي امنیت د ریاست په نظارت کې د غځیدلو مودو لپاره بندي شوي، او دا چې ایا دغه توقیف ته د څارنوال له خوا اجازه ورکړل شوې وه. په هر حال، د یوناما د داخلي قوانینو د پوهاوي پر بنسټ، د افغان ملي پولیسو یا د ملي امنیت د ریاست په نظارت کې د ۱۰ ورځو څخه د زیاتې مودې لپاره توقیف چې د جزایي اجراآتو د قانون په لومړۍ ضمیمه کې یې یادونه شوې، د محبسونو او توقیف ځایونو د قانون تر اړوندو احکامو لاندې ناقانونه ده.

[38] د نظارت خونو د چارو د تنظیم مقررې ۳ ماده.
[39] د محبسونو او توقیف ځایونو د قانون ۷ ماده.

## ۵. د شکنجې او ناوړه چلند په اړه موندنې

په دغه راپور کې وړاندې شوې موندې د ۲۰۱۷ کال د جنوري د لومړۍ د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر د ۳۱ نېټې ترمنځ موده کې د هغو مرکو پر بنسټ دي چې د یوناما له خوا د افغانستان په ۲۸ ولایتونو کې په ۷۷ توقیف ځایونو کې د جګړې اړوند له ۶۱۸ توقیفیانو (د څلورو ښځو په ګډون) سره ترسره شوې.[40] ډېری دغه توقیفیان مخکې تر دې چې د یوناما له خوا ورسره مرکه وشي په ګڼو موقعیتونو کې بندي او له پوښتنو ګرویګنو سره مخ شوي، او له دې امله یوناما په دې وتوانیده چې د ملاحظې مودې په اوږدو کې د توقیف له ۱۴۴۴ څخه د زیاتو مواردو د مستند کولو لپاره دغه مرکې وکاروي.

### الف. عمومي موندنې

د څارنې د دوه کلنې مودې پرمهال چې د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې نیول شوې، یوناما موندلې چې له مرکه شویو توقیفیانو څخه ۳۱،۹ سلنه هغو یې (له ۶۱۸ څخه ۱۹۷ هغو یې) په دې اړه کره او باوري معلومات ورکړي چې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د نظارت پرمهال له شکنجې او د غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند له نورو ډولونو سره مخ شوي. له ۱۹۷ څخه ۴۷ هغو یې خبر ورکړی چې له یوه څخه په زیاتو توقیف ځایونو کې له شکنجې او د ناوړه چلند له نورو ډولونو سره مخ شوي.

د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې په نیول شوې موده کې د یوناما له خوا د راغونډ شویو معلوماتو کال په کال ویش یو متفاوت انځور په ډاګه کوي. د ۲۰۱۷ کال د جنوري له لومړۍ د ډسمبر تر ۳۱ پورې، د یوناما له خوا د مرکه شویو د جګړې اړوند ۳۶،۷ سلنه (له ۳۰۵ څخه ۱۱۲) توقیفیانو چې د افغان ملي دفاعي او امنیت ځواکونو په نظارت کې بندي وو، له شکنجې او ناوړه چلند سره د مخ کیدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړي. دغه شمیرې لا اوس هم د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د ۲۰۱۷ له راپور سره د پرتلې وړ دی، کوم چې موندلې وه چې د ۲۰۱۵ د جنوري د ۱ او د ۲۰۱۶ د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ موده کې ۳۹ سلنه توقیفیانو له شکنجې او د ناوړه چلند له نورو ډولونو سره د مخ کیدو په اړه کره او باورې معلومات ورکړي و. په هر حال، د ۲۰۱۸ کال د جنوري له ۱ څخه د ډسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د شکنجې په شتون کې کموالي مستند کړي، چې د مرکه شویو ۲۷،۱ سلنه (له ۳۱۳ څخه ۸۵) هغو یې په دې اړه باوري راپورونه ورکړي چې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په نظارت کې له شکنجې او د ناوړه چلند له نورو ډولونو سره مخ شوي.

که څه هم عمومي شمیرې لا اوس هم په هیښوونکې ډول لوړې دي، یوناما په ۲۰۱۸ کال کې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په توقیف ځایونو کې د شکنجې په شتون کې د مستند شوي کموالي هرکلی کوي، چې د دې ښکارندوی دی چې د حکومت له خوا د شکنجې د منع او مخنوي لپاره ترسره شویو ګامونو د پام وړ اغیز درلود. که څه هم یوناما د دې یادونه کوي چې دا به د څارنې لا زیاتې مودې ونیسي، څو د دې د معلومولو جوګه شي چې دا یو جریان او نه یو موقت پرمختګ او بدلون.

د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د پخوانیو راپورونو موندنو ته ورته، د هغو توقیفیانو مطلق اکثریت چا چې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي په ډاګه کړي، چې دغه ډول چلند ددې لپاره تحمیل شوی و څو هغوي اعتراف کولو ته اړ کړي. په زیاترو قضیو کې، مرکه ورکوونکو خبر ورکړی، چې دغه ډول چلند به تر اعتراف وروسته پای ته رسیده.

راتلونکې برخه د ملي امنیت ریاست، افغان ملي پولیسو، افغان ملي اردو او افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا په نظارت کې د بندي شویو توقیفیانو د چلند په اړه د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د موندنو یوه لا زیاته مفصله کتنه وړاندې کوي. د هر انفرادي ارګان وړاندې شوې شمیرې دا حقیقت منعکسوي چې هر توقیفي ښایي له یوه څخه په زیاتو موقعیتونو یا د مختلفو ارګانونو له خوا بندي شوی وي (په ځینو قضیو کې له شکنجې یا ناوړه چلند سره مخ شوي).[41]

---

[40] مهرباني وکړئ دریمه ضمیمه وګورئ، کومه چې د هغو توقیف ځایونو لست وړاندې کوي چې د یوناما له خوا لیدل شوي. یوناما همدارنګه د ۲۰۱۹ کال په جنوري او فبروري میاشتو کې هم مرکې ترسره کړي. دغه راپور یوازې د هغو اشخاصو قضیې تر پوښښ لاندې نیسي چې د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ په اوږدو کې نیول یا توقیف شوي.

[41] د عمومي ارقامو لپاره، یوناما د هغو توقیفیانو شمیر په پام کې نیولی چا چې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په یوه یا زیاتو نظارت خونو کې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي. د هر انفرادي ارګان (د ملي امنیت ریاست، افغان ملي پولیس، افغان ملي اردو او افغان سیمه ییز پولیس) ارقام دا منعکسوي چې یو شخص ښایي د مختلفو ارګانونو له خوا بندي شوی وي. د مثال په ډول، که چیرې یو توقیفي د افغان ملي پولیسو له خوا مخکې تر دې چې د ملي امنیت ریاست ته وسپارل

## ب. د ملي امنیت ریاست

*دوي زه سخت وربړولم. زه باید په ګونډو شوی وای، دوي زما د پښو ترمنځ یوه وسیله کېښوده. ځینو کسانو زما اوږې نیولې وې، بیا هغې وسیلې ما ته برقي شاکونه راکړل. تر هغې وروسته د یو وخت لپاره زما پښو کار پرېښود. زه همدارنګه له چت څخه له پښو را ځړوند شوی یم. دوي ځنځیرونه کارول. زما ګوتې به مازې ځمکې ته رسیدې. دغې چارې به نږدې د دوو ساعتونو لپاره دوام درلود. کله به چې بې هوښه شوم، بیا به یې راکښته کړم. کله به چې د څو دقیقو لپاره په هوښ راغلم بیا به یې ځوړند کړم. د دې سربیره، زه به هره ورځ وهل کیدم. دوي زه پر یوه تور ربړي پایپ چې له یو څه ډک شوی و، پر ختیه وهلم.*

توقیفي، د ملي امنیت ریاست، کابل

د ۲۰۱۷ د جنوري د لومړۍ او د ۲۰۱۸ د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ یوناما له ۵۱۰ هغو توقیفیانو سره مرکې کړې چې د ملي امنیت د ریاست د ولسوالۍ او/یا ولایتي نظارت خونو کې بندي شوي وو. له ۵۱۰ توقیفیانو څخه ۱۲۸ (۲۵٫۱ سلنه) هغو یې په دې اړه کره او باوري معلومات ورکړي چې شکنجې او د ناوړه چلند له نورو ډولونو سره مخ شوي.

عمومي ارقامو ته ورته، د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې په نیول شوې موده کې د یوناما له خوا د راغونډ شویو معلوماتو کال په کال ویش یو متفاوت انځور په ډاګه کوي. د ۲۰۱۷ کال د جنوري له لومړۍ د ډستمبر تر ۳۱ پورې، د یوناما له خوا د مرکه شویو د جګړې اړوند ۳۱٫۴ سلنه (له ۲۴۲ څخه ۶۷) توقیفیانو چې د ملي امنیت د ریاست په نظارت کې بندي وو، له شکنجې او ناوړه چلند سره د مخ کیدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړي، کوم چې په ورته ډول له هغو لوړو کچو سره د پرتلې وړ دي چې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د ۲۰۱۷ په راپور کې مستند شوي.[42]

د ۲۰۱۸ کال د جنوري له ۱ څخه د ډسمبر تر ۳۱ پورې، یوناما د شکنجې په شتون کې د پام وړ کموالي مستند کړي، چې د مرکه شویو ۱۹٫۴ سلنه (له ۲۶۸ څخه ۵۲) هغو یې په دې اړه باوري راپورونه ورکړي چې د ملي امنیت د ریاست په نظارت کې له شکنجې او د ناوړه چلند له نورو ډولونو سره مخ شوي.

یوناما په ۲۰۱۸ کال کې د ملي امنیت د ریاست په توقیف ځایونو کې د مرکه شویو هغو ترمنځ د شکنجې په عمومي شتون کې د مهم کموالي هرکلی کوي او د ملي امنیت ریاست د خپلو هڅو جاري ساتلو ته هڅوي، لکه د هغو طرز العملي تضمینونو پر غښتلي کولو او تطبیقولو تمرکز چې موخه یې د شکنجې او ناوړه چلند مخنیوی وي.

راپور لاندې د افغانستان په مختلفو ولایتونو کې د ملي امنیت د ریاست د توقیف ځایونو په تړاو ځینې موندنې په لا مفصل ډول سره وړاندې کوي. په داسې حال کې چې په عمومي ارقامو کې د ملي امنیت د ریاست د ولسوالیو مرکزونو په تړاو تورونه شامل دي، لاندې برخه د ملي امنیت د ریاست پر مشخصو ولایتي مرکزونو تمرکز کوي.

*کابل*

د راپور ورکولو په موده کې، یوناما له ۲۷ توقیفیانو سره مرکې کړې چې په کابل کې د ملي امنیت د ریاست په مختلفو توقیف ځایونو کې بندي وو. د ملي امنیت د ۲۴۱ او ۵۰۱ ریاستونو (له تروریزم سره د مبارزې او تحقیقاتو) په استثنا سره د کومو لپاره چې جلا

شي توقیف شوی وي، د دواړو افغان ملي پولیسو او د ملي امنیت ریاست لپاره په ارقامو کې عین توقیفي شاملیږي. دغه چاره په هغه مورد کې هم صدق کوي چیرې چې یو توقیفي په مختلفو ولایتونو کې د عین ارګان له خوا بندي شوی وي. د مثال په ډول، که چیرې یو توقیفي د ملي امنیت ریاست له خوا په ننګرهار کې بندي شوي وي او بیا په کابل کې د ملي امنیت ریاست ته ولیږدول شي، هغه تر دواړو لاندې شمیرل کیږي (څرنګه چې دا توقیف دوه جلا جلا مورده دي)، په داسې حال کې چې د ملي امنیت د ریاست د عمومي ارقامو لپاره یوازې یو توقیفي شمیرل کیږي.

[42] د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د ۲۰۱۷ کال راپور موندلې چې د ۲۰۱۵ د جنوري له لومړۍ څخه د ۲۰۱۷ د ډسمبر تر ۳۱ پورې د راپور ورکولو په موده کې، د ملي امنیت په نظارت کې د بندي توقیفیانو ۲۹ سلنې په دې اړه کره او باوري معلومات ورکړي چې شکنجې شوي یا له ناوړه چلند سره مخ شوي.

ارقام وړاندې شوي، په کابل کې موقعیت لرونکي د ملي امنیت د ریاست نور ټول توقیف ځایونه (د ملي امنیت د ریاست ولایتي مرکز، د ملي امنیت د ریاست د ولسوالۍ ریاستونه او د ملي امنیت ځانګړي ځواکونه) په کې شامل دي.[43]

په دغو مرکزونو کې له ۲۷ مرکه شویو توقیفیانو څخه ۱۱ هغو يې (۴۰,۷ سلنه) د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي، چې د شکنجې یا ناوړه چلند د منظمې او معمول کاروني ښکارندوي دي. توقیفیانو وهل ډبول، ګواښونه، بې خوبي او د سټرس په حالاتو کې ساتل د شکنجې یا ناوړه چلند د اصلي ډولونو په څیر یاد کړي.

*د ملي امنیت ۲۴۱ ریاست کابل (له تروریزم سره د مبارزې ریاست)*

د ۲۰۱۷ د جنوري د لومړۍ او د ۲۰۱۸ د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ یوناما له ۳۱ هغو افرادو سره مرکې کړي چې په کابل کې د ملي امنیت په ۲۴۱ ریاست کې بندي وو. له دوي څخه ۱۲ (۳۹ سلنه) هغو يې د شکنجې یا د ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي. په ډاګه شوی عمده تخنیکونه له وهلو ډبلو (له پایپ سره پر پښو د وهلو په ګډون)، ګواښونو او د سټرس په حالاتو کې له ساتلو څخه تشکیل وو. که څه هم یوناما د دې یادونه کوي چې د دغو تورونو نهه هغه ۲۰۱۷ کال ته راجع کیږي.[44] په ۲۰۱۸ کال کې، له ۱۶ مرکه ورکوونکو څخه، دریو (۱۸,۷۵ سلنه) هغو يې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه چې وهل ډبول او ګواښونه په کې شامل دي، کره او باوري راپورونه ورکړي.

د یوناما له خوا د ملاحظه شویو عمومي جریانونو سره سم، په داسې حال کې تر کتنې لاندې مودې لپاره عمومي شمیرې د شکنجې یا ناوړه چلند منظمه او معمول کارونه په ډاګه کوي، د ۲۰۱۸ کال پرمهال د موندنو ویش په کابل کې د ملي امنیت په ۲۴۱ ریاست کې پرمختګونه په ډاګه کوي.

سر بیره پر دې یوناما ملاحظه کړې، هغه توقیفیان چې په کابل کې د ملي امنیت په ۲۴۱ ریاست کې بندي وو، حقوقي استازیتوب د خپل حق په اړه د معلوماتو د تر لاسه کولو په اړه خبر ورکړی. له دې سره سره، د تیر په څیر، داسې نه ښکاري چې په دغه توقیف ځای کې دې د توقیف شویو توقیفیانو د تحقیقاتو پرمهال مدافع وکیلانو شتون درلودلی وي.[45]

*کندهار*

د راپور ورکولو په موده کې یوناما له ۶۸ افرادو سره مرکې کړي چې د کندهار د ملي امنیت ریاست په ولایتي توقیف ځای کې توقیف شوي وو. پنځو (۷,۴ سلنه) يې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي. له پنځو څلورو د هغو پیښو په اړه خبر ورکړی، کومې چې په ۲۰۱۷ کال پیښې شوي، چې ګواښونه او سټرس حالاتو کې ساتل يې د شکنجې او ناوړه چلند د عمده تخنیکونو په څیر یاد کړي. څرنګه چې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر پخوانیو راپورونو په دغه توقیف ځای کې د شکنجې یا ناوړه چلند سیستماتیکه کارونه موندلې، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د دغه مثبت جریان هرکلی کوي.

یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر که څه هم په دې اړه اندیښمن دي چې ټول اوه واړه مرکه شوي توقیفیان چا چې راپور ورکړی مخکې له دې چې د ملي امنیت د ریاست ولایتي توقیف ځای ته ولیږدول شي د دامان، شاه ولي کوټ او سپین بولدک د ولسوالیو په توقیف ځایونو کې بندي شوي وو او د شکنجې او ناوړه چلند په اړه يې کره او باوري ادعاوې کړې دي. سربیره پر دې، ۱۶ مرکه ورکوونکو په ډاګه کړې چې دوي د هغه ناوړه چلند په اړه چې دوي ورسره په مختلفو توقیف ځایونو لکه د ملي امنیت په ۰۳ ریاست او د ملي امنیت د ریاست د ولسوالیو په توقیف ځایونو کې مخ شوي، د ملي امنیت د

---

43 د کابل لپاره ارقام همدارنګه د هغو توقیفیانو له معلوماتو تشکیل دي، چا ته چې په دې اړه معلومات نه وي چې په کابل کې د توقیف پرمهال د ملي امنیت د ریاست په کوم توقیف ځای کې بندي شوي وو.
44 یوناما په ۲۰۱۷ کال کې د ملي امنیت په ۲۴۱ ریاست کې له ۱۵ توقیفیانو سره مرکې کړې.
45 مدافع وکیل ته د لاس رسي په اړه د عمومي معلوماتو لپاره، د "د شکنجې او ناوړه چلند په ضد د طرز العملي او نورو حقوقي خوندیتوبونو" په اړه لاندې برخه وګورئ.

ریاست د ولایتي توقیف ځای کارمندانو، د ملي امنیت ریاست څارنوالانو، د ملي امنیت ریاست د بشري حقونو افسرانو یا ډاکټرانو ته راپور ورکړی، خو دوي د کوم ترسره شوي اقدام په اړه کوم خبر نه لري.

*خوست*

د ۲۰۱۷ د جنوري د لومړۍ او د ۲۰۱۸ د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ یوناما له ۳۸ هغو افرادو سره مرکې کړي چې د خوست د ملي امنیت د ریاست په ولایتي توقیف ځای کې بندي وو. له دوي څخه اوو (۱۸،۴ سلنه) هغو یې د شکنجې یا د ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي، چې وهل ډبول، له چت څخه را ځوړندل او ګواښونه یې د شکنجې او ناوړه چلند عمده تخنیکونه یاد کړي.

یوناما له اندیښنې سره د دې یادونه کوي چې د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په تورونو کې له زیاتوالی سره، د شکنجې یا ناوړه چلند ټول اوه واړه تورونه په ۲۰۱۸ کال کې پیښ شوي.[46] سربېره پر دې، په ۲۰۱۸ کال کې څلورو توقیفیانو مخکې له دې چې د ملي امنیت د ریاست ولایتي توقیف ځای ته ولیږدول شي، د خوست د ولسوالیو په توقیف ځایونو کې په ځانګړي ډول د صبریو او ځاځي میدان په ولسوالیو کې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي.[47]

*سمنګان*

د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې په نیول شوې موده کې، یوناما د سمنګانو د ملي امنیت د ریاست په ولایتي توقیف ځای کې له ۲۷ توقیفیانو سره مرکې کړې دي. نهو هغو (۳۳،۳ سلنه) یې له شکنجې او ناوړه چلند سره د مخ کیدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړي، چې په دغه توقیف ځای کې د شکنجې او ناوړه چلند منظمه او معمول کارونه په ډاګه کوي. د شکنجې او ناوړه چلند اصلي طریقه د لښتو، پایپونو او وسپنیزو راډونو سره د وهلو په ګډون، وهل ډبول ښودل شوي. یوناما د دې یادونه کوي چې د دغو تورونو زیاتره (۷) یې د ۲۰۱۷ کال سره تړاو لري.[48]

*نور توقیف ځایونه*

یوناما د بدخشان، بامیانو، غور، جوزجان او پکتیا د ملي امنیت د ریاست په ولایتي توقیف ځایونو کې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کومې ادعاوې نه دي تر لاسه کړي.[49] د نومړو اداري مونډنې د هغو توقیفیانو په سلنه کې د پام وړ کموالی په ګوته کوي څوک چې د هرات د ملي امنیت ریاست په ولایتي توقیف ځای کې بندي وو، چا چې په دې اړه کره او باوري معلومات ورکړي چې له شکنجې یا ناوړه چلند سره مخ شوي (د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د ۲۰۱۷ په راپور کې له ۴۸ سلنې څخه د توقیفیانو ۸،۳ سلنه ته راټیټ شوی- له ۳۶ افرادو څخه دریو-).

د ملي امنیت د ریاست د بغلان، بلخ، کونړ، کندز، ننګرهار او پکتیکا ولایتونو د ولایتي توقیف ځایونو او په کابل کې د ملي امنیت د ۵۰۱ ریاست (د تحقیقاتو ریاست) په تړاو، یوناما د راپور ورکولو په موده کې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه له دریو تر پنځو کره او باوري راپورونه تر لاسه کړي.[50] په داسې حال کې چې شننه په دغو مرکزونو کې د شکنجې یا ناوړه چلند کومه نمونه نه په ډاګه کوي، یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر داسې فکر کوي چې دغه مونډنې لا اوس هم اندیښنه راولاړوي. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د ملي امنیت د ریاست اړوند چارواکي دې ته هڅوي

---

[46] یوناما له ۲۶ توقیفیانو سره مرکې کړي چې د خوست د ملي امنیت له ریاست له خوا په ۲۰۱۸ کال کې بندي شوي.

[47] دوو یې راپور ورکړی چې د ملي امنیت د ریاست په دوو جلا جلا توقیف ځایونو کې شکنجه شوي یا له ناوړه چلند سره مخ شوي.

[48] یوناما له ۱۹ توقیفیانو سره مرکې کړي چې د سمنګانو د ملي امنیت له ریاست له خوا په ۲۰۱۷ کال کې بندي شوي.

[49] یوناما د دوه کلنې راپور ورکولو په موده کې له هغو توقیفیانو سره چې د ملي امنیت د ریاست په اړوندو توقیف ځایونو کې بندي شوي راټولنکی شمیر مرکې مستندې کړي: بدخشان (۱۹)؛ بامیان (پنځه)؛ غور (شپږ)؛ جوزجان (۱۶ – که څه هم یوناما د دې یادونه کوي چې زیاتره مرکې له هغو توقیفیانو په تړاو دي چې د جوزجان د ملي امنیت په ریاست کې د نږدې ۲۵۰ کسیزې ډلې چې ځانونه یې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې غړي معرفي کوي تر تسلیمیدو وروسته بندي شوي)؛ او پکتیا (۲۰). د بامیانو او غور د نمونې د نسبي کوچنۍ اندازې په پام کې نیولو سره، موندنو د یوناما لپاره د دې زمینه نه کړه برابره په دغو دوو ولایتونو کې د ملي امنیت د ریاست په توقیف ځایونو کې د وضعیت په اړه کومې ثابتې پایلې ته ورسیږي.

[50] په بغلان کې، له ۳۷ څلورو توقیفیانو د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي؛ په بلخ کې، له ۳۶ څلور هغو (ټول تورونه د ۲۰۱۷ کال اړوند وو)؛ د ملي امنیت په ۵۰۱ ریاست کې: له ۶۱ پنځو هغو (څلور تورونه د ۲۰۱۷ کال اړوند وو)؛ په کونړ کې، له ۱۴ دریو هغو؛ په کندز کې، له ۲۹ دریو هغو؛ په ننګرهار کې، له ۲۳ پنځو هغو؛ او په پکتیکا کې، له ۱۵ دریو هغو.

چې د شکنجې او ناوړه چلند د له منځه وړلو لپاره خپلې هڅې او هاند جاري وساتي، لکه د هغو طرز العملي خونديتوبونو پر عملي تطبيق تمرکز چې موخه يې په دغو مرکزونو کې د دغه ډول چلند مخنيوی دی.

سربېره پر دې، يوناما د توقيفيانو د هغې لوړې سلنې په اړه انديښمنه ده چې د ملي امنيت د رياست له خوا په فراه، فارياب، هلمند، پروان او سرپل ولايتونو کې بندي دي، چا چې د هغوی د چلند په اړه انديښنې را ولاړې کړې.[51] که څه هم چې يوناما د دې يادونه کوي چې د مرکه شويو د نمونې حد د دې لپاره خورا کوچنی وه څو د توقيفيانو د چلند د نمونو په اړه کومې مهمې موندنې جوړې شي.

يو جدول چې د ملي امنيت د رياست ولايتي ويش په ګوته کوي په څلورمه ضميمه کې شامل شوی.

### ج. د ملي امنيت د رياست ځانګړي ځواکونه او د خوست ساتنې ځواک

*ما ته دوه سرې راغلل او زما لاسونه يې شاته کلک وتړل. زما په سر يې پلاستکي کڅوړه واچوله او زه يې پر ځمکه راکش کړم. هلته يو څه ډبلې کمپلې موجود وې. زه يې په هغو نريو کمپلو کې وپېچلم او وهل ډبول او په لغتو وهل يې پيل کړل. ډېر درد يې کاوه او زما ساه بنديده- ما تيکاه وهله، نه مې شوای کولی ساه واخلم. بيا هغوی وهل ډبول ودرول او له ما يې وپوښتل، "اوس د ويلو لپاره څه لرې؟" ما ځواب ورکړ چې پر هيڅ هم نه پوهېږم. دوی بيا عين شی تکرار کړ. ما ته نه ده معلومه چې څومره دوام يې وکړ، خو داسې احساسوم چې د اوږد وخت لپاره و.*

توقيفي، د ملي امنيت ۰۳ رياست، کندهار

د راپور ورکولو په موده کې، يوناما د شکنجې او ناوړه چلند کره او باوري تورونه او د ملي امنيت د رياست د مختلفو ځانګړو ځواکونو[52] او د خوست ساتنې د ځواک له خوا د پراخو نيونو په ګډون د ناقانونه او خپل سري توقيف راپورونه ترلاسه کړي.

له دواړو د ملي امنيت د رياست له ځانګړو ځواکونو او د خوست ساتنې له ځواک سره د نړيوالو نظامي ځواکونو له خوا ملاتړ کيږي.[53] يوناما د خوست د ساتنې ځواک يوه دولت پلوه وسله واله ډله ګڼي. د ملي امنيت له رياست څخه د ترلاسه شويو معلوماتو سره سم، د ملي امنيت رياست هيڅ عملياتي او ځانګړي واحدونه خپل توقيف ځايونه نه لري. د نيونې پرمهال، د ملي امنيت د رياست ځانګړي واحدونه شکمن او تورن اشخاص د لومړنيو څېړنو لپاره په مرکز او ولايتونو کې د ملي امنيت رياست توقيف ځايونو ته راجع کوي.[54]

*د ملي امنيت ۰۳ رياست*[55]

يوناما د راپور ورکولو په موده کې له ۴۵ توقيفيانو سره چې د کندهار د ملي امنيت د ۰۳ رياست په توقيف ځای کې بندي وو، مرکې کړې. له دغو، ۱۷ هغو (۳۷,۷ سلنه) د شکنجه کيدو يا له ناوړه چلند سره دمخ کيدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړي، چې د شکنجې او ناوړه چلند منظمه او معمول کارونه په ډاګه کوي. په کيبل سره د وهلو په ګډون، د وهلو ډبولو سربېره، زياتره

---

[51] په فراه کې، له اتو څلورو توقيفيانو د شکنجې يا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي (که څه هم دغه رقم يوازې ۲۰۱۷ کال ته راجع کيږي؛ په ۲۰۱۸ کال کې، د امنيتي دلايلو له امله د فراه ولايت ته لاس رسی محدود شوی)؛ په فارياب کې، له اوو دريو هغو؛ په هلمند کې، له پنځو پنځو هغو؛ په پروان کې، له شپږو توقيفيانو پنځو هغو؛ او په سرپل کې، له اتو توقيفيانو پنځو هغو.

[52] د ملي امنيت ۰۱ رياست مرکزي سيمه تر پوښښ لاندې نيسي، مهرباني وکړئ پورته د "کابل" تر برخې لاندې يې وګورئ.

[53] دولت پلوه وسله والې ډلې هغه تنظيم شوې نا دولتي فعالين دي چې د وسله والو مخالفو ډلو په ضد په جګړه کې ښکيلې دي. دغه ډلې له دولتي ځواکونو توپير لري او د افغانستان تر قوانينو لاندې له قانوني بنسټ درلودو څخه بې برخې دي. د زياتو معلوماتو لپاره، په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر د ۲۰۱۸ کلنی راپور وګورئ، چې پر دغې انټرنيټ پاڼه د لاس رسي وړ دی:
https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

[54] د ۱۳۹۷/۰۹/۰۶ نېټې ۱۲۵۸۸ شميره مکتوب، له يوناما سره په دوسيه کې دی.

[55] د ملي امنيت ۰۳ رياست جنوبي سيمه تر پوښښ لاندې نيسي.

توقیفیانو په جلا او ثابت ډول د چلند مشخص ډول چې د اصلي تخنیک په څیر کارول شوي یادونه کړې- په داسې حال کې چې له پلاستکي کڅوړې سره تربته شوي، په کمپله کې پیچل او د هغوي پر شا کیناستل.

*د خوست د ساتنې ځواک*

یوناما د راپور ورکولو په موده کې له ۲۳ توقیفیانو سره چې په خوست کې د خوست د ساتنې ځواک په توقیف ځای کې بندي وو، مرکې کړې. څلورو هغو یې (۱۷٫۳ سلنه) د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات وکړې، چې وهل ډبول یې د اصلي تخنیکي په څیر یادول. سربېره پر دې، دوو توقیفیانو په ډاګه کړې چې دوي په صبریو او تیرى زیو ولسوالیو کې د خوست د ساتنې ځواک په توقیف ځایونو کې شکنجه یا له ناوړه چلند سره مخ شوي.[56] څرنګه چې د خوست د ملي امنیت د ریاست په قضیه کې ده، یوناما د هغه حقیقت په اړه اندېښمنه ده چې ټول تورونه ۲۰۱۸ ته راجع کیږي، په داسې حال کې له ترلاسه شویو تورونو هیڅ یوه یې په ۲۰۱۷ پورې تړاو نه درلود.[57]

### د. افغان ملي پولیس[58]

*قوماندان پوښتنې ګرویګنې پیل کړې. هغه زه تورن کړم چې طالب یم، ما ورته وویل چې زه نه یم. هغه دغه راز د یو شمیر اشخاصو نومونه واخیستل، له ما څخه یې وپوښتل که چیرې یې زه پیژنم. ما ورته وویل زه یې نه پیژنم. بیا هغه ما ته امر وکړ چې پر ځمکه پریوزم. بیا یې زما له سترګو تیکه لرې کړه. یو سړي زما پښې راوترلې او پر پښو راکیناست، بل یو زما پر خیټه کیناست. دوې زه لړ کلک کړم بیا یې زما په خوله کې اوبه راتویول پیل کړل. دغه کار نږدې ۱۰-۱۵ دقیقو دوام وکړ. قوماندان وویل، که چیرې اعتراف و نه کړې، موږ به بیا دغه کار تکرار کړو. دغه کار یې اوه ځلې تکرار کړ.*

توقیفي، د افغان ملي پولیسو توقیف ځای، کندهار

د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې په نیول شوې موده کې، یوناما له ۱۷۹ توقیفیانو سره مرکې کړې، څوک چې د افغان ملي پولیسو په لړ تر لړه یوه توقیف ځای کې بندي وو (د ولسوالۍ او ولایتي توقیف ځایونو په ګډون). ۵۴ یې (۳۱٫۲ سلنه) د افغان ملي پولیسو د نظارت پرمهال له شکنجې یا د ناوړه چلند له نورو ډولونو سره د مخ کیدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړې. پنځلسو یې راپور ورکړی چې هغوي د افغان ملي پولیسو له یوه څخه په زیاتو توقیف ځایونو کې شکنجه شوي یا د ناوړه چلند له نورو ډولونو سره مخ شوي.

د پورته وړاندې شویو عمومي ارقامو برعکس، د یوناما له خوا د راغونډ شویو معلوماتو کال په کال ویش د شکنجې یا د ناوړه چلند د نورو ډولونو د باوري راپورونو چې په ۲۰۱۸ کال کې مستند شوي (له ۷۴ څخه ۲۳- ۳۱ سلنه) کوم کموالی نه په ډاګه کوي، کله چې له ۲۰۱۷ کال سره پرتله شي (له ۱۰۵ څخه ۳۱- ۲۹٫۵ سلنه).

په داسې حال کې چې دا په هیښوونکي ډول لوړ رقم دی، دا همدارنګه د افغان ملي پولیسو له خوا (د مرکه شویو ۴۵ سلنه) د شکنجې او ناوړه چلند د ریکارډ تر کچې د هغو لوړو اندازو څخه د پام وړ کموالی په ډاګه کوي، کومې چې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د ۲۰۱۷ کال په راپور کې مستند شوي.

[56] یو له توقیفیانو راپور ورکړی چې د خوست ساتنې په دوو جلا جلا توقیف ځایونو کې له شکنجې یا ناوړه چلند سره مخ شوی.
[57] له ۱۴ توقیفیانو څلور هغو یې (۲۸٫۶ سلنه) چې په ۲۰۱۸ کال کې مرکه شوي د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باروي معلومات ورکړې.
[58] تر دغې برخې لاندې په پخوانیو راپورونو کې افغان ملي سرحدي پولیس هم شامل وو. په ۲۰۱۸ کال کې، د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د ۲۰۱۷ کال د چوکاټ تر طرح لاندې د امنیتي سکتور تر اصلاحاتو وروسته، افغان سرحدي پولیس او د عامه نظم ملي پولیس د کورنیو چارو له وزارت څخه دفاع وزارت ته ولیږدول شول. یوناما دوه داسې موارد مستند کړي چې توقیفیانو په کې د افغان سرحدي پولیسو له خوا توقیف شوي؛ په ۲۰۱۷ کال کې یو شخص د شکنجه کیدو یا له ناوړه چلند سره د مخ کیدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړي

په هر حال، په دغه راپور کې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه په باوري راپورونو کې د مستند شوي له عمومي کموالي سره سره، یوناما د افغان ملي پولیسو په ځانګړي ډول په کندهار ولایت کې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه د زیات شمیر راپورونو په اړه لا اوس هم اندیښمنه ده.

د افغانستان په مختلفو ولایتونو کې د افغان ملي پولیسو د ولسوالۍ او ولایتي توقیف ځایونو په تړاو ځینې موندنې له لا زیات تفصیل سره په لاندې ډول وړاندې کوي.

*کندهار ولایت*

په پخوانیو راپورونو کې، یوناما د کندهار ولایت د افغان ملي پولیسو له خوا د جګړې اړوند توقیفیانو د شکنجې یا ناوړه چلند سیستماتیکه کارونه تشخیص کړې. د وضعیت ارزونه لا اوس هم له کوم بدلون پرته پر خپل حال پاتې ده.

یوناما د راپور ورکولو په موده کې له ۲۲ توقیفیانو سره مرکې کړې چې د افغان ملي پولیسو په نظارت کې د کندهار ولایت د ولسوالیو او په ولایتي توقیف ځایونو کې بندي وو. ۱۷ هغو یې (۷۷ سلنه) د دې کره او باوري معلومات ورکړي چې د افغان ملي پولیسو په لاسو شکنجه شوي یا له ناوړه چلند سره مخ شوي، او نهو یې په دغه ولایت کې د افغان ملي پولیسو له یو څخه په زیاتو توقیف ځایونو کې د شکنجې یا ناوړه چلند راپور ورکړی.

پر پښو او د بدن پر نورو برخو په کیبلونو او پلاستکي پایپونو د وهلو په ګډون د سیستماتیکې او ډیر ځلې وهلو ډبلو سربیره، د شکنجې او ناوړه چلند په ډولونو کې چې په کندهار کې د افغان ملي پولیسو په نظارت کې د بندي توقیفیانو له خوا زیات راپور شوي راتلونکي شامل دي تربت کول (د اوبو یا پلاستکي کڅوړو په واسطه)؛ برښنایي شاکونه؛ له چت څخه را ځوړوندول؛ د اوږده مهال لپاره د ستړس په مختلفو حالاتو کې ساتل؛ او له تناسلي غړو کشول. توقیفیانو همدارنګه د مرګ او جنسي تاوتریخوالي د ګواښونو راپور ورکړی.

په داسې حال کې چې د شکنجې او ناوړه چلند زیاتره تورونه د ولسوالۍ پولیسو چک پوستونو ته راجع شوي، په ځانګړي ډول په ډنډ، ژیړۍ، میوند او کندهار ولسوالیو کې، یوناما د هغو راپورونو په اړه اندیښمنه ده، چې توقیفیان د افغان ملي پولیسو په ولایتي مرکز کې ګواښل شوي وو، چې دوباره به له شکنجې سره مخ شي که چیرې اعتراف لاسلیک نه کړي. توقیفیانو په دوامداره ډول په ډاګه کړې چې دوي د افغان ملي پولیسو په ولایتي مرکز کې د مخ شوي چلند په اړه څیړونکو، څارنوالانو او ډاکټرانو ته خبر ورکړی، خو دوي د هغوي شکایتونو ته د رسیدګۍ لپاره د کوم ترسره شوي اقدام په اړه نه دي خبر.

څرنګه چې د راپور ورکولو په تیرو مودو کې وو، یوناما د اجباري ورک کیدو[59] او د محکمې پرته وژنو په اړه تورونه ترلاسه کړي، کوم چې د راپور ورکولو په موده کې په کندهار کې رامنځ ته شوي. په ځانګړي ډول، ۳۴ سرچینو د خپلو خپلوانو د اجباري ورک کیدو په اړه کره او باوري معلومات ورکړي.[60] یوناما د چارواکو له خوا د دغو پراخو او په ځینو قضیو کې عامو تورونو چې افغان ملي پولیس د اجباري ورک کیدو په کړنو کې دخیل دي، د څیړلو لپاره د کوم قوي اقدام د ترسره کولو په اړه لا اوس هم بې خبره ده.

*ننګرهار ولایت*

---

[59] د بشري حقونو نړیوال قانون اجباري ورک کیدل داسی تعریفوي: اجباري ورک کیدل د دولت د استازو... له خوا نیول، توقیف، او له ازادۍ د محرومیت بل هر ډول دی، چې په تعقیب یې له ازادۍ څخه د محرومیت نه انکار یا د ورک شوی شخص د ځای یا درک پټول رامنځ ته شوي وي، کوم څه چې دغه ډول شخص له قانون څخه بهر ساتي (له اجباري ورک کیدو څخه د ټولو اشخاصو د ساتلو نړیوال کنوانسیون). د اجباري ورک کیدو په اړه د ملګرو ملتونو کاري ګروپ دا تایید کړې چې اجباري ورک کیدل پخپله شکنجه یا د منع شوي چلند نور ډولونه جوړوي، او په ډاګه کوي، چې "د ورک شوي شخص په څیر د توقیف واقعیت، شخص د اوږدې مودې لپاره له کورنۍ څخه ګوښه شوي، په قطعي ډول د توقیف د انساني شرایطو سرغړونه ګڼل کیږي او دغې ډلې ته د شکنجې په څیر معرفي شوي" (E/CN.4/1983/14, para 131).

[60] په داسې حال کې چې دغه معلومات په ۲۰۱۷ کې راغونډ شوي، یوناما د دې یادونه کوي چې په ۲۰۱۸ کال کې راپورونه اوس هم ورته تورونه په ډاګه کوي، چې په ځینو قضیو په ښکاره لګول شوي.

د ۲۰۱۷ د جنوري د لومړۍ او د ۲۰۱۸ د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ یوناما له ۱۸ توقیفیانو سره مرکې کړي چې په ننګرهار ولایت کې د افغان ملي پولیسو د ولسوالۍ او ولایت په کچه توقیف ځایونو کې بندي وو. له دغو توقیفیانو شپږ، هغو (۳۳,۳ سلنه) یې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي، چې وهل ډبول (د پایپونو په واسطه) او ګواښونه د شکنجې او ناوړه چلند د اصلي تخنیکونو په څېر یاد شوي. د ولسوالۍ اصلي یاد شوي توقیف ځای په ده بالا ولسوالۍ کې موقعیت لري.

په داسې حال کې چې د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د ۲۰۱۷ کال راپور په ننګرهار ولایت کې د افغان ملي پولیسو له خوا د شکنجې یا ناوړه چلند سیستماتیکه کارونه په ډاګه کړې، د اوسني راپور عمومي موندنې د دغه ډول چلند منظمه او معمول کارونه ثرګندوي. په هر حال، یوناما د دې یادونه کوي چې له شپږو تورونو پنځه هغه یې له ۲۰۱۷ کال سره تړاو لري،[61] چې په ۲۰۱۸ کال کې یو څه ښه والی په ډاګه کوي.

*نور ولایتونه*

یوناما د بامیانو، غور او پروان ولایتونو د افغان ملي پولیسو د ولسوالۍ یا په ولایتي توقیف ځایونو کې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کوم کره او باوري ادعاوې نه دي ترلاسه کړي. په هر حال، د نمونې د نسبي کوچنۍ اندازې په پام کې نیولو سره، موندنو د یوناما لپاره د دې زمینه نه کړه برابره څو په دغو ولایتونو کې د وضعیت په اړه کومې ثابتې پایلې ته ورسیږي.[62]

د افغان ملي پولیسو د بغلان او کندز ولایتونو د توقیف ځایونو په تړاو،[63] یوناما د راپور ورکولو په موده کې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه په ترتیب سره درې او څلور کره او باوري معلومات ترلاسه کړي. په داسې حال کې چې شننه په دغو ولایتونو کې د شکنجې یا ناوړه چلند کومه نمونه نه څرګندوي، یوناما فکر کوي چې دغه موندنې لا اوس هم اندیښنې را ولاړوي. یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر د افغان ملي پولیسو اړوند چارواکي دې ته هڅوي چې د شکنجې او ناوړه چلند د له منځه وړلو لپاره خپلې هڅې او هاند جاري وساتي، لکه د هغو طرز العملي تضمینونو پر عملي تطبیق تمرکز چې موخه یې په دغو مرکزونو کې د دغه ډول چلند مخنیوی دی.

یوناما د توقیفیانو د هغې لوړې سلنې په اړه اندیښمنه ده چې د افغان ملي پولیسو له خوا بندي شوي چا چې په هرات، لغمان، پکتیکا او پکتیا ولایتونو کې (۴۰ یا زیاته سلنه)[64] له هغوی سره د چلند په اړه اندیښنې را ولاړې کړي. که څه هم چې د مرکه شویو د نمونې اندازه خورا کوچنۍ وه، خو یوناما وکولی شي د توقیفیانو د چلند د نمونو په اړه کومې مهمې موندنې جوړې کړي.

یو جدول چې د افغان ملي پولیسو ولایتي ویش په ګوته کوي په پنځمه ضمیمه کې شامل شوی.

**ه. افغان سیمه ییز پولیس**

***افغان سیمه ییز پولیس زما کور ته راغلل. دوی ما ته وویل چې موږ تا د یوه سیمه ییز پولیس د وژنې په تړاو نیسو. ما هغوی ته وویل چې د دې موضوع په اړه کوم خبر نه لرم، خو هغوی زه خپل بیس ته یوړم. د هغوی قوماندان له ما زیاتې پوښتنې وکړې. ما ځواب ورکړ چې بې ګناه یم، خو هغه ما ته کومه پاملرنه ونه کړه. پر ځای یې، هغه د نږدې یوه ساعت لپاره زما په خیټه او ټول ځان په لغتو وهلو پیل وکړ. بیا موږ د افغان سیمه ییزو پولیسو د ولسوالۍ توقیف ځای ته ولیږدول شو.***

**توقیفي، د افغان سیمه ییزو پولیسو بیس، پروان**

[61] له اتو څخه پنځو توقیفیانو (۶۲ سلنه) چې په ۲۰۱۷ کې مرکه شوي د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي.
[62] یوناما د راپور ورکولو په دوه کلنه موده کې د ملي امنیت ریاست په ولایتي توقیف ځایونو کې له توقیفیانو سره راټلونکی شمیر مرکې ترسره کړي: نهه په بامیانو کې؛ ۱۰ په غور کې؛ او پنځه په پروان کې.
[63] په بغلان کې، له ۱۶ توقیفیانو څخه دریو هغو د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي، او په کندز کې له ۱۳ څخه څلور هغو.
[64] په هرات کې، له ۱۰ توقیفیانو څلورو هغو یې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي؛ په لغمان کې له شپږو دریو؛ په پکتیکا کې له څلورو دریو؛ او په پکتیا کې له شپږو څلورو.

افغان سیمه ییز پولیس په ځايي ډول استخدام شوي او د کورنیو چارو د وزارت تر صلاحیت لاندې فعالیت کوي.[65] د ۲۰۱۷ د جنورې د لومړۍ او ۲۰۱۸ د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ، یوناما له نهو هغو توقیفیانو سره مرکې کړې څوک چې په لومړۍ کې د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا بندي شوي وو مخکې تر دې چې با صلاحیته قانوني چارواکو ته تسلیم کړای شي. نهو هغو یې (۶۶،۶ سلنه) د شکنجې یا د ناوړه چلند د نورو ډولونو په اړه کره او باوري راپورونه ورکړي، سخت وهل ډبول د اصلي تخنیک په څیر په ډاګه کوي. دغه پیښې په پنځو ولایتونو: بدخشان، بلخ، فاریاب، کندهار، جوزجان او پروان کې رامنځ ته شوي. توقیفیانو څرګنده کړې چې هغوي د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا له یوې تر شپږو ورځو لپاره بندي شوي. له افغان سیمه ییزو پولیسو غوښتنه کیږي چې شکمن بلواګر زر تر زره افغان ملي پولیسو یا د ملي امنیت ریاست ته وسپاري.

په داسې حال کې چې یوناما د توقیفیانو د هغې لوړې سلنې په اړه اندیښمنه ده چې د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا بندي شوي چا چې د شکنجې یا ناوړه چلند په اړه کره او باوري معلومات ورکړي، خو د هغو مرکه شویو توقیفیانو نمونه چې د ناوړه چلند کره او باوري راپورونه یې ورکړي، په جغرافیایي ډول خورا پاشلې وه خو د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا په کوم ځانګړي موقعیت کې د توقیفیانو د چلند د نمونو په اړه کومې مهمې موندنې جوړې کړې.

### و. افغان ملي پوځ

> *د افغان ملي پوځ سرتېرو زه په قرارګاه کې څېنو خیمو ته دننه کړم. هغوي په ما په قهر و. هغوي زه د یوه پلاستیکي پایپ په واسطه پښو په تلو او د ټوپک په ذریعه په اوږو او ټټر ووهلم او شکنجه کړم، هغوي همدارنګه زه د خلکو په مخ کې په نڅا کولو وګواښلم.*
>
> توقیفي، د افغان ملي پوځ اډه، ننګرهار

د ۲۰۱۸ کال د جنورې د لومړۍ او د ډسمبر د ۳۱ نیټو تر منځ، یوناما د ټولټال ۳۳ کسانو سره څوک چې له دې وړاندې چې د افغان ملي پولیسو او ملي امنیت ریاست ته ولیږدول شي، د افغان ملي پوځ په توقیف کې وو، مرکې کړې. د دغو کسانو له جملې څخه ۱۲ هغو (۳۶.۴ سلنه) کره او باوري راپورونه ورکړي چې کله په توقیف کې وو، په توقیف کې د شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي، او د اصلي تاکتیک په حیث سخت وهل شوي. دا پیښې د بلخ، هلمند، کابل، کندهار، کندز، لغمان، لوګر او ننګرهار په نهو ولایتونو کې ترسره شوې.

د افغان ملي پولیسو په اړه د خپلو موندنو په حواله، یوناما د یو شمیر زیاتو توقیفیانو څوک چې د افغان ملي پوځ له خوا نیول شوي او چا چې د شکنجې او ناوړه چلند د پېښو په تړاو کره او باوري شمیرې وړاندې کړې اندیښنه لري، په جغرافیایي لحاظ د موندنو نمونې دومره ډیرې وې چې نه شي کیدای د دې ډلې له خوا په کوم خاص موقعیت کې د توقیفیانو سره د چلند په اړه معني لرونکې موندنې ترسره کړې.

### ز. په پروان کې افغان ملي توقیف ځای

> *په بګرام کې حالت ډېر بد دی. دا ځای په اصل کې د بندي ځاني لپاره نه و. په دې توقیف ځای کې رڼا، د دیوالونو رنګ او تنظیمات ټول د توقیفیانو رواني روغتیا متاثره کوي. زیاتره توقیفیان رواني ستونزې لري. زه د تیرو څلورو کلنو په جریان کې د ۳۳ ځانمرګو او عمدي ځانمرګو له جملې څخه ۳۲ هغه یې پیژنم. ما خپل ځان څو ځله وهلی، ما حتی د ځان وژنې هڅه هم کړې.*
>
> توقیفي، په پروان کې توقیف ځای

---

[65] افغان سیمه ییز پولیس په ۲۰۱۰ کال کې د دې لپاره رامنځ ته شوي چې له بلوګرای ضد هڅو سره د یوې برخې په څیر د ټولنې پر بنسټ پولیسي خدمتونه برابر کړي. د افغان ملي پولیسو او د کورنیو چارو وزارت له لارې د ظاهرا راپور ورکولو له لارې، افغان سیمه ییز پولیس د هغوي د جګړه ییزو دندو له امله د وسله والو ځواکونو یوه بالفعل برخه کنټل کیږي.

په پروان کې افغان ملي توقيف ځای د توقيف يوه قرارګاه ده چې په پروان ولايت کې موقعيت لري. دا توقيف ځای د دفاع وزارت لخوا ، د ملي پوځ د ستر جنرال په قومانده اداره کيږي او ساتنه يې د افغان ملي اردو د پوځې پوليسو د محافظينو له خوا کيږي. دا د ملي امنيت د يوه جلا اداره شوې توقيف ځای سره نږدې موقعيت لري چيرې چې د ملي امنيت د رياست د ۵۰۱ او ۲۴۲ واحدونه قرار لري، (د تحقيقاتو او د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې ملي رياستونه).[66]

د دې راپور په واسطه تر پوښښ لاندې د مودې پر مهال، يوناما د افغان ملي پوځ تر کنټرول لاندې د پروان په توقيف ځای کې د ټولټال ۴۶ توقيفيانو سره مرکې کړې دي. يوناما داسې کره راپورونه نه دي مستند کړي چې دا وښيي په دې توقيف ځای کې د افغان ملي پوځ د ساتونکو له خوا د شخړې سره تړلي توقيفيان شکنجه او د هغو سره بد چلند شوی. يوناما د دولت د هغې پريکړې چې د ۲۰۱۷ کال تر پايه به د پروان ولايت په توقيف ځای کې ژنکي نه توقيف کوي، هرکلی کوي.

يوناما همدا راز د محاکمې څخه د مخه د ټولټال ۴۶ توقيفيانو سره چې په پروان کې د ملي امنيت په توقيف ځای کې دی، مرکې ترسره کړې. د ملي امنيت د رياست په ۲۴۱ توقيف ځای کې ۱۲ او د ملي امنيت د رياست په ۵۰۱ توقيف ځای کې ۳۴ تنه تر توقيف لاندې دي. يواځې يوه مرکه شوې توقيفي د ملي امنيت د رياست په ۲۴۱ توقيف ځای کې د شکنجې په اړه کره او باوري شميرې وړاندې کړې او همدا راز دوو توقيفيانو ادعا کړې چې د ملي امنيت د رياست په ۵۰۱ څانګه کې د اعتراف د ترلاسه کولو په موخه شکنجه شوې.[67]

يوناما د زياتې ګڼې ګوڼې، د يواځې انظباطي معيار په حيث د انفرادي سلولونو د کارولو، د کورنۍ ليدنو او مدافع وکيلانو ته د لاسرسي په حواله محدوديتونه او د ناکافي رڼا په شمول، د توقيف ځايونو په دننه کې د مشاهده شوې حالت په اړه انديښنه لري. د دې علاوه، په توقيف ځای کې د توقيف شويو کسانو سره د يوناما له خوا د مرکو پر مهال، يوناما يو شمير راپورونه ترلاسه کړې چې ګواکې د توقيف ناوړه حالتونه او د پروګرامونو نشتوالی و د توقيفيانو لپاره امکانات ټول هغه څه دي چې د توقيفيانو په منځ کې د رواني روغتيا د پراخو ستونزو سره مرسته کوي.

### ح. توقيف شوي ژنکي [68]

> *دلته دوه کسان وو، يو يې تحقيق کونکی او بل چې زما تر څنګ ولاړ و. دوهم شخص زه په سوکانو او لغتو ووهلم. ما په ژړا پيل وکړ. بيا تحقيق کونکي ووهلم. زه په ځمکه وغورځيدم. دا بل شخص زه په مخ ووهلم او ګوتځنډنه يې وکړه چې و نه ژاړم. ما په هغه وخت کې دوي ته د طالبانو سره د غړيتوب په درلودلو اعتراف وکړ او تحقيق هم پای ته ورسيد.*
>
> توقيف شوی ژنکی، د ملي امنيت رياست، سمنګان

د راپور ورکولو د مودې پر مهال، يوناما د افغان ملي دفاعي ځواکونو په توقيف کې له ټولټال ۸۲ ژنکيو سره مرکې ترسره کړې دي.[69] د دغو له جملې څخه، ۳۶ (۴۳,۹ سلنه) توقيفيانو کره او باوري موارد وړاندې کړې چې دوي په توقيف کې شکنجه شوي او ورسره ناوړه چلند شوی. د ټوليزو رجحاناتو سره په سمون کې، د ۲۰۱۷ کال (د ۵۵ سلنې، د ۴۰ توقيفيانو له جملې څخه د ۲۲ هغو) په پرتله، يوناما په ۲۰۱۸ کال کې د (۳۳,۳سلنې، د ۴۲ توقيفيانو له جملې څخه د ۱۴ هغو) د ژنکيو د شکنجې او ناوړه

[66] پداسې حال کې چې د کورنيو چارو وزارت د مرکزي محبس د رياست له لارې د محبسونو د اداره کولو مسؤل دی (د زندانونو او توقيف ځايونو په اړه د قانون ۱۷ ماده)، ( د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۹، د افغانستان حکومت د امريکا د متحده ايالاتو سره د تفاهم ليک يو يادښت لاسليک کړ څو د امريکا د متحده ايالاتونو څخه د افغانستان پروان کې توقيف ځای افغان قواعدو او کنټرول ته وليږدوي. سند وښوده چې تاسيسات بايد د دفاع وزارت تر صلاحيت لاندې د ملي اردو د يوه جنرال لخوا اداره شي.
[67] ټولو پيښو چې يادونه يې شوې ۲۰۱۷ کال ته راجع کيږي.
[68] ژنکی هغه شخص ته ويل کيږي چا چې د ۱۲ کلونو عمر بشپړ کړی وي او د ۱۸ کلونو عمر يې نه وي بشپړ کړی، په دې اړه د ژنکيو د قانون ۴ ماده او د جزا د قانون ۹۵ او ۹۶ مادې وګورئ.
[69] يوناما يادونه کوي چې په دغو ارقامو کې ۷ کسان چې عمرونه يې د ۱۸ کلونو څخه ټيټ دي، شامل دي. يوناما د چارواکو له خوا د دغو کسانو د عمر په اړه مناسب معلومات نه دي تر لاسه کړي.
دغه قضيې د توقيف شويو ژنکيو په هکله د سپارل شويو ارقامو څخه ايسته شوې دي.

چلند د ادعاوو د شیوع په برخه کې د کمښت یادونه کوي. سره له دې، یوناما د ټولو ارقامو په پرتله د دې نسبتا لوړې سلنې په اړه اندیښنه لري، ښکاري چې ځوانان د افغان ملي امنیتي دفاعي ځواکونو په توقیف کې د شکنجې یا بد چلند له زیات خطر سره مخ دي.

د دې سربیره، یوناما د ټولټال ۱۶ توقیفیانو سره، چا چې د ژینکیتوب ادعا لرله مرکې کړې، خو د دې سره سره هغوي د چارواکو له خوا د بالغو کسانو په حیث ارزول شوې او د لویانو په حیث توقیف شوې.[70] په داسې حال کې چې یوناما د عمر د ارزولو او معلوموولو لپاره کوم طرزالعمل نه لري، یو شمیر ځوانو توقیفیانو راپور ورکړی چې دا یوازې د اټکل او د توقیفیانو د انفرادي ظاهری ځیرې پر اساس و. یوناما د داسې یوه طرزالعمل د غلطۍ په ذاتي حاشیې ټینګار کوي.

د ټولټال ۱۲۸ کسانو له جملې څخه چا چې د ملي امنیت د ریاست په توقیف کې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري موارد ورکړي، د هغو له جملې څخه ۲۲ هغه (۱۷,۲ سلنه) يې ژنکې وو، او د اصلي کارول شوې تاکتیک په حیث يې د سختو وهلو ټکولو او ګواښونو څخه یادونه کړې.[71]یوناما د غه پیښې د فاریاب، هلمند، هرات، کابل (د ملي امنیت د ریاست د ۲۴۱ او ۵۰۱ ریاستونو په شمول)، خوست، کنړ، کندز، لغمان، ننګرهار، پروان، سمنګان او سرپل ولایتونو د ملي امنیت د ریاست په ولایتي مرکزونو کې مستندې کړې.

د ټولټال ۵۵ کسانو له جملې څخه چا چې د افغان ملي پوځ په توقیف کې[72] د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري موارد ورکړي، د هغو له جملې څخه ۱۴ هغه (۲۵,۵ سلنه) يې ژنکې وو، بیا يې هم سخت وهل ټکول او ګواښونه د اصلي کارول شوې تاکتیک په حیث یاد کړي. یوناما د غه پیښې د بغلان، هرات، کنړ، کندز، لغمان، ننګرهار، پکتیکا، پکتیا او زابل ولایتونو د افغان ملي پوځ په ولایتي او د ولسوالیو په مرکزونو کې مستندې کړې.

### ط. هغه مرکزونه چې د کورنیو چارو د وزارت د محابسو د مرکزي ریاست او عدلیې وزارت (د ژنکیو د اصلاح او تربیې/تادیبي مرکزونو ) له خوا اداره کیږي

د دغه راپور تر پوښښ لاندې موده کې، او د هغه د مخکنیو موندنو سره په سمون کې، یوناما د کورنیو چارو د وزارت د محابسو د مرکزي ریاست او عدلیې وزارت (د ژنکیو د اصلاح او تربیې/تادیبي مرکزونو ) په مرکزونو کې د شخړې سره د تړلو توقیفیانو په اړه چې د شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي وي، کره او باوري راپورونه نه دي مستند کړي.

### ی. ملاحظات/کتنې

یوناما یادونه کوي چې د راپور شوې شکنجې او بد چلند ماهیت په عمومي توګه ځانګړی و او تر هغو مرکزونو محدود و چیرې چې د دې پیښو د پیښیدو د ترسره کیدو ادعا کیده. دې ته ورته ادعاووې د بیلابیلو توقیفیانو له خوا شوې او د ډلو پر بیلابیلو غړو يې دا ادعا کړې چې د میاشتو په واټن کې يې د دوي څخه په بیلابیلو موقعیتونو کې پوښتنې ګرویږنې کړې دي. د دې سربیره، یوناما د پام وړ توقیف شویو کسانو سره د چا سره چې بد چلند نه دی شوی او نه دي شکنجه شوې ، مرکې ترسره کړې.

په داسې حال کې چې د مرکو د پام وړ برخه بشپړه شوې، او د ځینو ولایتونو او مرکزونو په حواله د نمونو د بهیر ځرګندونه کوي، نو له همدې کبله، یوناما د جمعې جعل احتمال امکان ردوي.

---

[70] دغه دوسیې د ژنکیو په اړه د ارقامو څخه ایستل شوې.

[71] د ملي امنیت ریاست ته سپارل شوې ارقام ښيي چې ممکن هر توقیفي شخص په څو موقعیتونو کې ساتل شوي (او ښايي په ځینو مواردو کې شکنجه او ورسره بد چلند شوی وي). یوناما د راپور ورکولو د مودې پر مهال ، د ملي امنیت د ریاست له خوا د ټولټال ۵۸ توقیف شویو ژنکیو سره مرکې ترسره کړي دي.

[72] افغان ملي پولیسو ته سپارل شوې ارقام ښيي چې ممکن هر توقیفي شخص په څو موقعیتونو کې ساتل شوي (او ښايي په ځینو مواردو کې شکنجه او ورسره بد چلند شوی وي). یوناما د راپور ورکولو د مودې پر مهال د افغان ملي پوځ له خوا د ټولټال ۳۸ توقیف شویو ژنکیو سره مرکې ترسره کړي دي.

یوناما همدارنګه یادونه کوي چې په یو شمیر مواردو کې توقیفیانو ویلي چې دوي یا نور د چارواکو، بشري حقونو د کتونکو یا نورو مراجعینو له لید څخه له هغه وروسته چې دوي د شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي پټ ساتل شوي او یا دا چې چارواکو څارنوالانو ته د هغوي راجع کول تر هغو ځنډولي تر څو چې د هغوي څرګند ټپونه ښه شي.

## ۶. د شکنجې او ناوړه چلند د مخنيوي په خاطر حقوقي او نور طرزالعملي محافظتونه

په توقيف کې د حقوقي او نورو طرزالعملونو خونديتوبونو پلي کول په عموم ډول د شکنجې او بد چلند په مخنيوي کې د خورا اغېزمنو ګامونو څخه ګڼل کېږي او د محافظتي چوکاټ يوه بشپړه برخه تشکيلوي.

يوناما يادونه کوي چې د قانوني او نورو طرزالعملي خونديتوبونو د پلي کولو په اړه جزئيات چې په لاندې ډول تشريح شوې د تاسيساتو، مسولو چاواکو او ولايتونو ترمنځ توپير لري. په اوسني راپور کې، يوناما د مرکو ، د بشري حقوقو د خپلو افسرانو د کتنو او اړوندو چارواکو سره د خبرو اترو پر مهال د راټولو شويو معلوماتو پر بنسټ ټوليزې موندنې برابروي. د مالوماتو د راټولولو د ګډې طريقې له امله، يوناما د دقيقو عددي ډاټا د چمتو کولو په موقف کې نه دی، خو په هرصورت، دا په ډاګه کوي چې لاندې مشخصې شوي مسلې د انديښنې وړ دي.

**الف. حقوق پوهانو ته لاسرسی**

د تحقيقاتو په جريان کې د مدافع وکيل فزيکي شتون نه يواځې د شکنجې او ناوړه چلند د عملونو د مخنيوي څخه ډاډ حاصلوي، مدافع وکيلان همدارنګه کولای شي د داسې عملونو د کشف په موخه په لومړيو پړاونو کې مداخله وکړي، او د هغو چارواکو د پېژندنې او تحقيق په موخه څوک چې د ادعا له مخې په شکنجه او ناوړه چلند کې ښکيل دي، طرزالعملي کړنې پيل کړي او يقيني کړي چې جبري اعتراف په محاکمه کې د شواهدو په توګه نه کارول کېږي.

د دې راپور په واسطه د پوښل شوې مودې پر مهال، پداسې حال کې چې يوناما په ډېری مرکزونو کې ښه والی مشاهده کړی، ډېری توقيفيانو په دوامداره توګه راپور ورکړی چې دوی هيڅ فرصت نه درلود او يا د اجرااتو د تحقيقاتو پر مهال حقوقي مشاور ته د لاسرسي په برخه کې د ستونزو سره مخ شوي. کله چې يو توقيف شوی شخص د کورنيو چارو د وزارت د محابسو د مرکزي رياست تر واک لاندې او يا د عدليې وزارت (د ځېکيو د اصلاح) مرکزونو ته راوړل کېږي، په ټوله کې حقوقي مشاور ته لاسرسی ښه شوی.

يوناما دا هم مشاهده کړې چې توقيفيان د حقوقي مشاور د روښانه ګټو په اړه کافي پوهه نه لري، يا په دې باور دي چې د يوه مدافع وکيل غوښتنه کيدای شي د تحقيقاتو په جريان کې د هغې په قضيه په منفي ډول اغيزه وکړي. ډېری يې د قانوني مرستو د شتون څخه خبر نه وو او پدې ډول يې د قانوني مرستو غوښتنه نه ده کړې.

د يوه توقيفي شخص حق چې قانوني مشورې ته لاسرسي ولري بايد د نيولو د وخت څخه په 'چټکه' توګه ډاډ حاصل شي.

د توقيف چارواکي د توقيف شوي شخص لپاره د کتنې او ليدو په موخه د مناسب فرصت، وخت او امکاناتو د برابرولو مسؤليت لري او بايد په دې برخه کې په فعاله توګه کار وکړي او د هغوی د خپلې خوښې د حقوقي مشاور يا د حقوقي مرستو د برابرونکي سره د کوم ځنډ، مداخلې او سانسور پرته او د هر ډول حقوقي موضوع په اړه په بشپړ محروميت سره اړيکه ونيسي او مشوره وکړي. [73]

که څه هم چې دا په افغانستان کې د دې راپور د وسعت څخه د باندې ده چې د حقوقي مرستو د سيستم په اړه جامع تحليل وړاندې کوي، بايد يادونه وشي چې حقوق پوهانو د يو شمير توقيف ځايونو په اړه په خاص ډول کوم چې د ملي امنيت د رياست، افغان ملي پوځ او افغان ملي پوليسو تر کنترول لاندي دي هغو ته د لاسرسي په اړه يوناما ته د ستونزو په اړه معلومات ورکړی. له بله پلوه، د توقيف چارواکو د مدافع وکيلانو په خاص ډول د حقوقي مرستو برابرونکو د نه شتون مسلې او په ځينو مواردو کې د هغوی بې ميلې ته اشاره کړې ، چې نه غواړي د شخړې سره تړلي دوسيې تعقيب او د توقيف ځايونو څخه ليدنه ترسره کړي.

**ب. له باندې نړۍ سره اړيکه/ د يوه انفرادي شخص د نيونې او توقيف په اړه کورنۍ او دريم شخص ته اطلاع**

[73] د زندانيانو د چلند لپاره د ملګرو ملتونو حد اقل معيارونه او حد اقل اصول (د نيلسن منډيلا اصول)، A/RES/70/175, rule 61.

غیر قانوني توقیف د شکنجې او ناوړه چلند د خطر اصلي فاکتور دی. څکه نو، د یوه توقیف شوي شخص د ځای ځایګي په اړه معلومات او له باندې نړۍ سره اړیکه د کورنیو او توقیفیانو څخه د ډاډ حاصلو تر څنګ د داسې کړنو په وړاندې یو بل مهم خوندیتوب شمیرل کیږي. دا ممکن د چلند یا نورو شکایتونو په اړه راپور ورکولو او ممکنه عمل ته لار هواره کړي.

د دې راپور لپاره زیاتره مرکه شویو کسانو ویلې چې دوي د خپلو کورنیو سره د اړیکو نیولو لپاره هیڅ فرصت نه درلود او د هغو سره د اړیکو نیولو په موخه، په خاص ډول، د څیړنو پر مهال اجازه نه ده ورکړل شوې. د یوناما له خوا د ترسره شویو مرکو پر بنیاد، په توله کې د کورنیو چارو د مرکزي محبسونو د ریاست او د عدلیې وزارت (د ژڼکیو د اصلاح/تادیبي مرکزونو ) له خوا په اداره شویو توقیف ځایونو کې د کورنیو سره اړیکه په اساني سره ترسره کیده.

د لیدنو او / یا اړیکو په اړه محدودیتونو، په ځانګړې توګه، د یوې جاري جنايي څیړنې د ساتنې لپاره، ضروري نه ده چې د اړونده معیارونو څخه سرغړونه وي. په هرصورت، ضروري ده چې بنسټ یې د خطر په انفرادي ارزونه ولاړ وي او بې توپیره و نه کارول شي.[74]

### ج. طبي ازموینې

د روغتیا پالنې کارکونکي چې په توقیف ځایونو کې کار کوي د شکنجې او ناوړه چلند د قضیو د مخنیوي په برخه کې مهم نقش لوبوي. د دې سربیره چې په طبي لحاظ توقیفیان معالجه کوي، دوي د ابتدایي طبي کتنو یا د را وروسته طبي معایناتو په اړه د شکنجې او ناوړه چلند د نورو ډولونو د هر ډول مواردو د مستند کولو مسؤلیت لري. په وخت سره د ټپیونو مستندول د داسې چلند په اړه د ادعا په برخه کې د تحقیقاتو لپاره مهم شواهد برابروي. د دې سربیره، د طبي پاملرنې کارکونکي باید د شکنجې او ناوړه چلند د قضیو په اړه صلاحیت لرونکو طبي، اداري یا قضایي چاواکو ته راپور ورکړي.[75]

په هرصورت، د توقیف د چاپیریال د ځانګړتیا له امله (د توقیفوني د چارواکو په وړاندې د وفادارۍ او د راپور ورکولو د کړښو تر منځ د ممکنه تنش او د پاملرنې د چارو دندې او مسولیتونه او د توقیفیانو باوري رضایت) کیدای شي د روغتیا د پاملرنې کارکوونکي د ستونزو سره مخ شي. مهمه ده ټینګار وکړو چې په ټولو قضیو کې چې کله د روغتیا پاملرنې کارکونکي د شکنجې او ناوړه چلند په اړه راپورونه مستندوي، د دې لپاره چې د توقیف شوي شخص یا د پیشنیني وړ خطر د زیان سره د تړلي شخص هویت څرګند نه شي باید مناسب طرزالعملي محافظتونه تعقیب او په هغو کې محرومیت ته هرومرو ځای ورکړل شي. د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي څخه ډک چلند یا سزا د اغیزمن تحقیق او مستند کولو په اړه لارښود (د استنبول پروتوکول)[76] د شکنجې او بد چلند د مستند کولو په اړه د روغتیايي کارکوونکو لپاره د مسلکي اخلاقي مسؤلیتونو لارښودونه احتوا کوي.

په عمومي توګه، د هغو توقیف ځایونو له جملې څخه د کومو څخه چې یوناما لیدنه کړې، زیاترو یې دا توان درلود چې لږ تر لږه اساسي طبی معینات او د درملنې چارې چې د ټولو توقیفیانو لپاره د لاسرسي وړ دي، ترسره کړي. یوناما د برابرو شویو طبي خدمتونو او ترسره شویو طبي ازموینو د کیفیت د ارزولو لپاره کومې وسیلې نه لري. په هر صورت، مشاهده شوې چې د توقیفیانو په داخلیدو/شمولیت سره د توقیفیانو د ابتدایي طبي کتنو فعالیتونه په یو شمیر تاسیساتو کې ترسره شوي، خو د هیواد په کچه دا یو معیاري فعالیت نه دی. مرکه ورکونکو په دوامداره توګه راپور ورکړی چې دا طرزالعمل د یوه ریښتني فزیکي ازمایښت په پرتله د پوښتنو او ځاني راپور ورکولو څخه جوړ شوی دی. د توقیفیانو له خوا د غوښتنو سربیره، په خاص ډول د څیړنو په لومړنیو پړاونو کې، یوناما د توقیف د چارواکو له خوا ډاکټرانو ته د لاسرسي په برخه کې د ځنډ او نه لاسرسي په هکله هم راپورونه ترلاسه کړي.

---

[74] په اروپا کې د امنیت او همکاري لپاره سازمان، د دیموکراتیکو ادارو او بشري حقونو او نړیوالو جزايي اصلاحاتو، د نیلسن منډیلا د اصولو په اړه د لارښووني سندونه: د توقیفیانو د چلند لپاره د ملګرو ملتونو د ارزول شویو معیارونو د حد اقل اصولو تطبیق، ۲۰۱۸ کال، ۱۲۵ پاڼه، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: https://www.osce.org/odihr/389912?download=true ، تیر ځل د ۲۰۱۹ کال د مارچ په ۲۳ ورته مراجعه شوې.

[75] د توقیفیانو د درمنې لپاره د ملګرو ملتونو د کم ترکمه معیارونو اصول (د نیلسن منډیلا اصول)، A/RES/70/175, 34 قاعده.

[76] د استانبول پروتوکول: د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني، یا سپک چلند یا مجازاتو د اغېزمن تحقیق او مستندولو په اړه لارښود ، OHCHR، د مسلکي روزنې لړۍ نمبر 8 / Rev.1، ۲۰۰۴، په ځانګړې توګه د طبي پرسونلو لپاره د اخلاقي مسلو په اړه، 56 او 65 پاراګرافونه وګورئ

یو شمیر توقیفیانو همدارنګه د ناوړه چلند په اړه کوم چې دوي تجربه کړی ډاکټرانو ته ویلي. په داسې حال کې چې په یو شمیر مواردو کې هغوي د طبي درملنې چارې ترلاسه کړې، خو هیڅ یو توقیفي هم د طبي کارکونکو له خوا د ترسره شویو اقدامونو د تعقیب په اړه خبر نه وو.[77]

### د. د اعترافونو/د توقیفیانو د پوهې پرته د لاسلیک شویو سندونو له لارې ترلاسه شوې شواهد

عدلي تعقیبونه اکثرا په اعترافونو متکي وي ، د بیلګې په توګه چې د شواهدو د نورو سرچینو سره مخالف وي، داسې یوه فضا را منځ ته کوي چیرې چې د اعتراف د ترلاسه کولو لپاره د شکنجې د کارولو احتمال زیات وي. تجربو ښوولې چې د اعتراف د ترلاسه کولو لپاره د یوې وسیلې په حیث د شکنجې او ناوړه چلند د نورو ډولونو کارول یو خطر ناکه موډل دي. د دې سریره چې دا کړنه غیر قانوني او اخلاقي ده، دا د کره اطلاعاتو د ترلاسه کولو لپاره هم یوه بې باوره او غیر اغیزناکه وسیله ده. [78]

سره له دې، د یوناما د پخوانیو موندنو سره په سمون کې، د دې راپور لپاره مرکه شویو اکثریت توقیفیانو چا چې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه معتبر او باوري بیانونه ورکړي ویلي چې د دې لپاره تر معالجې لاندې نیول شوی تر څو د هغو څخه په زور اعتراف ترلاسه شي. په ډیری قضیو کې، هغوي راپور ورکړی چې د اعتراف د ترلاسه کولو په تعقیب معالجه پای مومې.

د دې سربیره، د مرکه ورکونکو زیاتره هغو ویلي چې دوي یا خو په سندونو نه پوهیدل یا یې نه شوای کولای د مدافع وکیل د شتون پرته د تحقیق پر مهال یا له هغه وروسته موده کې یاد سندونه چې دوي پرې لاسلیک کړی وای او یا د خپلې ګوتې نښه لګولې وای، ولولي. د توقیف او حبس د هر ډول بنو لاندې د ټولو کسانو د ساتنې لپاره د اصولو مجموعه د شواهدو چې د اصولو څخه د سرغړونې په نتیجه کې ترلاسه شوې د حذف کولو سپارښتنه کوي، د بیلګې په توګه، د تحقیق د میتود په حیث کوم چې د توقیف شوې شخص د پریکړې نیولو او قضاوت ظرفیت زیانمنوي او یا د یوه حالت څخه چې په اجبار سره یو بیان وارد کړي، ګټه پورته کړي.[79]

### ه. د حقونو په اړه معلومات

د دې په خاطر چې وکولای شو د یو چا له حق څخه دفاع وکړو ، ښه به دا وي چې د حقونو څخه باخبره اووسو. یوناما د توقیف د چارواکو له خوا د مخ پر زیاتیدونکو هڅو یادونه کوي چې موخه یې د توقیفیانو لپاره د حقونو په اړه د معلوماتو برابرول دي، زیاترو مرکه کونکو ویلي چې دوي د توقیف د مودې پر مهال داسې معلومات نه دي ترلاسه کړي. یوناما همدارنګه مشاهده کړې چې حتی کله چې توقیفیان د خپلو حقونو په اړه لنډ معلومات ترلاسه کړي، معلومات جامع نه وو او یا یې هغه جزئیات نه درلودل چې وښیي څنګه په موثره توګه دا حقونه وکاروي.

د دوي د تړل شوي ماهیت له امله ، د آزادی محرومیت ، د ذاتي قدرت نا انډولتوب رامنځ ته کوي او د بنسټیزو ازادیو د کارولو په برخه کې د افرادو د کنټرول توان محدودوي. د توقیف چارواکې باید دا یقیني کړي چې توقیفیان د توقیف پر مهال د خپلو حقونو او مسؤلیتونو په اړه په داسې ژبه او بڼه معلومات تر لاسه کړي چې دوي پرې وپوهیږي.

---

[77] د شکنجې او ناوړه چلند د قربانیانو لپاره د خسارې لاندې برخه وګورئ.

[78] د بیلګې په توګه، د شکنجې، او نورو ظالمانه، غیر انساني او له تحقیر څخه ډک چلند یا مجازاتو په اړه د ځانګړي راپور ورکونکي راپور، د شکنجې، ظالمانه، غیر انساني یا له تحقیر څخه ډک چلند یا په نړۍ کې د مجازاتو د پدیدې په اړه څیړنه، د توقیف د حالتونو د یوې ارزونې په شمول، A/HRC/13/39/Add.5, para. 93.

[79] د هر ډول توقیف او حبس د نمونو لاندې، د ټولو کسانو د ساتنې لپاره د ملګرو ملتونو اصول، G.A. res. 43/173, annex, 43 U.N. GAOR Supp. (No. 49) at 298, U.N. Doc. A/43/49 (1988), principles 21 and 27.

**حقوقي او نور طرزالعملي خونديتوبونه – د جوزجان د ولايت څخه د ماشومانو قضيه**

يوناما د حقوقي او نورو طرزالعملي خونديتوبونو کوم چې د نړيوالو او داخلي قوانينو لاندې را منځ ته شوې، د توقيف د چارواکو له خوا د سرغړونو د دوامداره راپورونو په اړه، انديښمنه ده. د بېلګې په توګه، د ۲۰۱۸ کال د جولای په ۳۱، د اټکل ۲۵۰ تنو نارينه وو انفرادي کسانو يوه ډله چې ځانونه د داعش/ د اسلامي دولت د خراسان ځانګې خواخوږي بولي په جوزجان ولايت کې افغان ملي دفاعي ځواکونو ته تسليم شول او وروسته بيا په جوزجان کې د ملي امنيت د رياست د موظفينو له خوا ونيول شول او بيا په کابل کې د ملي امنيت ۵۰۱ رياست ته وليږدول شول. د څلورو ماشومانو په شمول چې عمرونه يې د جنايي مسوليت د کچې څخه ټيټ وو، (د ژنکيو د قانون په حواله، يوه ماشوم لا د ۱۲ کلنو عمر نه و بشپړ کړی) د هغو له جملې څخه ۵۹ تنه ماشومان وو

يوناما يادونه کوي چې لکه څنګه چې قانون ايجابوي دا ماشومان د نږدې سلو ورځو لپاره، لازمو خدمتونو ته د لاسرسي ، د بېلګې په توګه د رواني ملاتړ او ښوونې او روزنې پرته د ژنکيو د اصلاح او د تاديب د مرکزونو پر ځای د ملي امنيت د رياست په توقيف کې په نا قانونه توګه ساتل شوې. سربېره پر دې، هغوي د څېړنو پر مهال مدافع وکيل ته لاسرسی نه درلود، د ملي امنيت د رياست په توقيف ځای کې يې د خپلو کورنيو سره هيڅ يا محدود لاسرسی درلود او د نږدې شپږو مياشتو لپاره د يوه قاضي په وړاندې نه دي درول شوې. يوناما ټينګار کوي چې جنايي مسوليت بايد د هر تورن شخص لپاره په انفرادي توګه را منځ ته شي او بايد د دغو ماشومانو سره د ډلې په حيث چلند ونه شي.

## ۷. څارنه، تحقیقات او احتساب

د شکنجې یا ناوړه چلند د نورو ډولونو د کړنو مستندول، څېړل، عدلي تعقیب او که چیرې د تطبیق وړ وي، د مرتکبینو مجازات د دغه ډول کړنو له مخنیوي یا منع سره مرسته کوي او د هغوي د بیا پیښیدو د مخنیوي هڅه کوي.

د بشري حقونو نړیوال قانون د دې غوښتنه کوي چې د شکنجې او ناوړه چلند تورونه دې په چټک، بې پرې او موثر ډول وڅېړل شي، آن د رسمي شکایت په نشتون کې هم، او که چیرې ممکن وي، پرته له دې چې د هغو کسانو موقف یا رتبه په پام کې ونیول شي، چې دغه کړنې یې ترسره کړي، اجازه او یا یې امر کړي، تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي. د ملګرو ملتونو د شکنجې د منع کمیټې له عدلي سیستم سره سم، "څېړنې باید د دغو دواړو برخو د معلوملو په لټه کې شي، چې د ادعا شویو کړنو څرنګوالی او شرایط په ګوته او د هر هغه شخص هویت معلوم کړي څوک چې ښایي په دغو کړنو کې ښکیل شوی وي."[80]

دغه برخه د ملي امنیت د ریاست، کورنیو چارو د وزارت، د دفاع وزارت او د لوي څارنوال د دفتر له خوا د تاسیس شویو میکانیزمونو، او دغه راز د توقیف ځایونو د څارنې او نظارت، د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو د څېړنو او د مرتکبینو لپاره د احتساب په تړاو د شکنجې د منع کمیسیون د رول تحلیل او شننه کوي. د دغې شننې د تسهیل په موخه، یوناما له دغو ادارو د جګړې اړوند توقیفیان چې د دوي تر اړوندو مسوولیتونو لاندې په توقیف ځایونو کې توقیف شوي د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو د شمیر او د څېړنو د پایلو په اړه د معلوماتو د ورکولو غوښتنه کړې.

### الف. د ملي امنیت ریاست

د ملي امنیت د ریاست د جنډر او بشري حقونو څانګه (د ملي امنیت ۱۳ ریاست) د ملي امنیت د ریاست په توقیف ځایونو کې د بشري حقونو د سرغړونو او د توقیفیانو شکایتونو ته د رسیدګې داخلي مسوولیت لرونکې اداره ده. د ملي امنیت د ریاست د بشري حقونو افسران په ټول هیواد کې د دغې ادارې په نږدې ټولو دفترونو کې په دایمي توګه موجود وي. د دوي د فعالیتونو ترمنځ یو یې د ملي امنیت د ریاست د توقیف ځایونو سیستماتیکه څارنه ده، په کومه کې چې له توقیفیانو سره د انفرادي مرکو ترسره کول او د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو د څېړنو ترسره کول شامل دي. دوي په مستقیم ډول د ملي امنیت ریاست عمومي رییس ته راپور ورکوي، کوم چې د یو څه اندازې خپلواکۍ لپاره زمینه برابروي، که څه هم غړي یې د ملي امنیت د عمومي ریاست په سلسله مراتبو کې پاتې کیږي، کوم چې ښايي په بالقوه ډول د ګټو د ټکر لامل شي.

یوناما د هغو نوښتونو هرکلی کوي چې د ملي امنیت د جنډر او بشري حقونو د ریاست له خوا یې د کارمندانو د روزنې او پوهې په اړه راپور کړل شوی، چې د هغو ریښتینو هڅو ښکارندوی دی څو د شکنجې د مخنیوي په ګډون د بشري حقونو په اړه پوهاوی او پوهه لوړه کړي. د بیلګې په توګه، دوي د ملي امنیت د ریاست د کارمندانو لپاره د بشري حقونو په اړه ځانګړی نصاب طرح کړی، او د استانبول پروتوکول په اړه د مباحثو په ګډون په ټول هیواد کې روزنې ترسره کړي.[81] یوناما همدارنګه په ولایتي او ملي کچه د لوړ شوي ظرفیت، همکارۍ او د ملي امنیت د ریاست د بشري حقونو د افسرانو د څارنې او نظارت د فعالیتونو مثبتې نښې مشاهده کړې.

د ۲۰۱۸ کال د نومبر د ۲۷ نېټې په یوه مکتوب کې، د ملي امنیت ریاست یوناما ته راپور ورکړی چې د ۲۰۱۷ د جنوري د لومړۍ او د ۲۰۱۸ د اکتوبر د ۱۵ ترمنځ، د نوموړې ادارې د بشري حقونو افسرانو له ټولټال ۱۵۷۲۱ شکمنو او تورونو اشخاصو سره په انفرادي او محرمانه ډول د ملي امنیت د ریاست په مرکزي او ولایتي توقیف ځایونو کې مرکې ترسره کړي.[82] په داسې حال کې چې د ملي امنیت ریاست د هغو مرکو د شمیر په اړه کوم معلومات ور نه کړل چې د دغې ادارې د بشري حقونو د افسرانو له خوا د

---

[80] د شکنې ضد کمیټې، بلانکو ابد د هسپانیې په وړاندې، ۱۹۹۶/۵۹ محاوره، ۱۴ مئ ۱۹۹۸، ۸/۸ پاراګراف وګورئ.
[81] د ملي امنیت د ریاست د ۱۳۹۷/۰۹/۰۶ نېټې ۱۲۸۵۵ شمیره مکتوب، له یوناما سره په دوسیه کې دی.
[82] د ملي امنیت د ریاست د ۱۳۹۷/۰۹/۰۶ نېټې ۱۲۸۵۵ شمیره مکتوب، له یوناما سره په دوسیه کې دی.

راپور له خوا تر پوښښ لاندې په نيول شوې پاته موده کې ترسره شوي (د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې)، يوناما په دې باور ده چې دغه شمېر به لا پسې زيات شوی وای.

د ۲۰۱۹ د جنوري د ۳۰ نېټې په يوه تعقيبي مکتوب کې، د ملي امنيت رياست يوناما ته خبر ورکړی چې د ۲۰۱۷ د جنوري د لومړۍ او د ۲۰۱۸ د اکتوبر د ۱۵ ترمنځ، دغې ادارې له توقيفيانو څخه د بشري حقونو د سرغړونو ۱۸۴ تورونه ترلاسه کړي. د دغو تورونو تر څېړنو وروسته، له دغو قضيو ۱۳ هغه يې تصديق شوي، چې د ملي امنيت د رياست د مرکزي او ولايتي توقيف ځايونو ۱۹ پرسونل په کې ښکيل وو.[83]

له ۱۹ پرسونلو څوارلس هغه يې له انضباطي مجازاتو سره مخ شوي، په کومو کې چې د دندو ليږد او د رتبې له لاسه ورکول (درې اشخاص)؛ د مرتکب له خوا کتبي تضمين او ژمنه چې په راتلونکې کې به له دغه ډول چلند څخه ډډه کوي (دوه اشخاص)؛ په شخصي دوسيو کې له ثبت سره ليکلې سلا مشوره (شپږ اشخاص)؛ او په شخصي دوسيو کې له ثبت سره اخطار ليکونه (درې اشخاص) شامل وو. له ۱۹ پرسونلو د پنځو هغو دوسيې قضايي ادارو ته راجع شوي.[84]

پاتې ۱۷۱ قضيې د شکنجې د نښو نښانو د نشتون، د ګمارل شوي ډاکټر د نه تصديق، د شواهدو د نشتون، د توقيفي له خوا د ضد و نقيض بيانيو، يا د نورو اړوندو حقيقتونو د نشتون له امله باطلې شوې. د ملي امنيت د رياست له خوا څېړنو همدارنګه موندلې چې يو شمېر تورونو له هغو حقيقتونو سره تړاو نه درلود چې د ملي امنيت د رياست په توقيف ځايونو کې شکنجه او ناوړه چلند رامنځ ته شوي، بلکې هغه د نيونې پرمهال يا د قوی د قانوني کارونې په پايله کې رامنځ ته شوې کله چې شکمنو اشخاصو د امنيتي ځواکونو اخطارونه له پامه غورځولي، په فزيکي ډول يې مقاومت يا د تيښتې هڅې کړې، او يا هم د وسله والو نښتو پرمهال.[85]

د ملي امنيت د رياست له خوا د وړاندې شويو معلوماتو په پام کې نيولو او د پخوانيو موندنو سره سم، يوناما لا اوس هم په دې اړه انديښمنه ده چې د ملي امنيت رياست زياتره د شکنجې يا ناوړه چلند تورونه د څېړنو د داخلي طرز العملونو له لارې حل کول جاري ساتي، چې پايلې يې معمولا له قرباني سره نه شريک کيږي، يا خلکو ته نه په ډاګه کيږي. داسې ښکاري چې د تورونو مطلق اکثريت –له ۹۰ سلنې زيات- له دې امله باطليږي چې څېړنو د مختلفو دلايلو له امله د شکنجې يا ناوړه چلند کافي شواهد نه وي موندلي.

دغه انديښنې د ملي امنيت د جنډر او د بشري حقونو د رياست د اجرايي خپلواکۍ ، او دغه راز د ملي امنيت د رياست له خوا د بشري حقونو د سرغړونو د واقعي څېړنو حد اقل شفافيت او د محدود شوې بهرنۍ څارنې د نشتون سره ملې وې.[86] په ټوله کې، دغه مشقونه د ملي امنيت د رياست له خوا د داخلي څېړنو د وړوالي، بې پريتوب، بشپړتوب او موثريت په اړه پوښتنې راولاړوي.

ان که چيرې يوه قضيه تر داخلي څېړنو وروسته هم "تصديق" شوې وي، د ملي امنيت د رياست له خوا برابر شوي تفصيلات په ډاګه کوي چې مرتکبين له عادي/کوچنيو داخلي انضباطي مجازاتو، لکه اخطار ليکونو سره مخ شوي. تر څېړنو وروسته خورا کم شمېر قضيې د قضايي چارواکو له خوا عدلي تعقيب ته راجع شوي، چې له امله يې له محدود شوي قضايي احتساب سره مرسته کيږي. د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو په اړه د توضيحاتو د ګڼو غوښتنو سره سره، د ملي امنيت رياست د دغو جرمونو د څرنګوالي او شدت يا د قضايي ادارو له خوا عدلي تعقيب ته د ارجاع د پايلو په اړه يوناما ته ډېر کم معلومات وړاندې کړي.

---

[83] يوناما مشاهده کوي چې د راپور ورکولو په پخوانۍ موده کې چې د يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر د ۲۰۱۷ کال د راپور له خوا تر پوښښ لاندې نيول شوې، د ملي امنيت رياست په ډاګه کړې چې دوي له توقيفيانو څخه ۱۱۹۸ شکايتونه ترلاسه کړي چې د "وهلو ډبولو او ناوړه چلند" تور پورې کوي- د عين شمير توقيفيانو د مرکه کولو لپاره خورا لوړ شمير؛ د يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر د ۲۰۱۷ کال د راپور۵۲ مخ وګورئ.

[84] د ملي امنيت رياست د يوناما له خوا د غوښتنې سره سره د ارجاعاتو د پايلو په اړه کوم معلومات وړاندې نه کړل.

[85] د ملي امنيت د رياست د ۱۳۹۷/۱۱/۱۰ نېټې ۱۶۱۲۰ شميره مکتوب، له يوناما سره په دوسيه کې دی.

[86] په داسې حال کې چې د بشري حقونو کميسيون، د پوليسو، د دفاعي او امنيتي ځواکونو په تشکيل کې د شکايتونو د غور او څېړنې د دفتر په ګډون (د لا زياتو معلوماتو لپاره، د يوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کميشنر د دفتر د ۲۰۱۷ کال د راپور ۵۷-۵۶ مخونه وګورئ)، د ملي امنيت د رياست د توقيف ځايونو بهرنۍ څارنه ترسره کوي، دوي د دغې ادارې له خوا په ترسره شويو څېړنو کې ګډون نه کوي.

یوناما همدارنګه په دې اړه اندیښمنه ده چې د ملي امنیت د ریاست د بشري حقونو ځینې افسران ښايي په څرګند ډول خپل ځانونه د ملي امنیت د ریاست د پرسونلو په څیر نه معرفي کوي. یوناما د توقیفیانو له خوا منظم راپورونه ترلاسه کړي چې دوی سره د "بشري حقونو د افسر" له خوا مرکه شوې، پرته له دې چې د یوې مشخصې ادارې په ګوته کولو وتوانیږي. سره له دې که چیرې د ملي امنیت د ریاست د بشري حقونو افسران په عمدي توګه خپل ځانونه په ناسم ډول نه معرفي کوي هم، د با خبره رضایت په څیر اخلاقي او مسلکي اصول د تړاو/اړیکې د څرګند هویت غوښتنه کوي.

### ب. د کورنیو چارو وزارت

د کورنیو چارو وزارت د جنډر، ماشومانو د حقونو او د بشري حقونو ریاست د دې صلاحیت لري چې توقیف ځایونه وڅاري څو د بشري حقونو د سرغړونو تورنه وڅیړي (د توقیفیانو د شکنجې یا ناوړه چلند د تورونو په ګډون خو په هغوی پورې محدود نه)، او مناسبې قضیې اړوندو چارواکو ته د عدلي تعقیب لپاره راجع کړي. په ځايي کچه، د څارنې او څیړنې دغه چاره د کورنیو چارو وزارت د بشري حقونو د افسرانو له خوا ترسره کیږي، څوک چې د افغان ملي پولیسو په ولایتي مرکزونو او هغو محبسونو کې مستقر او ځای پر ځای شوي چې د کورنیو چارو د مرکزي محبسونو د ریاست له خوا اداره کیږي.

یوناما د هغو نوښتونو هرکلی کوي چې د کورنیو چارو وزارت له خوا یې راپور ورکړل شوي څو د چلند د اصولو او د نړیوال تړون د مکلفیتونو په اړه افغان ملي پولیس وروزي او پوهاوي یې لوړ کړي. سربیره پر دې د کورنیو چارو وزارت د اړوندو قوانینو، پالیسي ګانو او طرز العملونو په اړه کوم چې همدارنګه له بې سوادي سره تړاو لري، د دغه وزارت د پرسونلو د پوهاوي د نشتون په ګډون، د بشري حقونو سرغړونو په مخنیوي او رسیدګۍ کې ننګوني مني. دوي همدارنګه د شکنجې او ناوړه چلند په مخنیوي کې د ننګونو په څیر د هغوي د حقونو په اړه د توقیفیانو د پوهاوي د نشتون؛ د هیواد په یو شمیر برخو کې د مدافع وکیلانو د نشتون؛ د اوږدو قضايي پروسو؛ او په ځینو ولایتونو کې د ښځو او ماشومانو لپاره د جلا او معیاري توقیف ځایونو د نشتون یادونه کړې.[87]

د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو د تعقیب په اړه، د کورنیو چارو وزارت یوناما ته د ۱۱۰ قضیو یو لست وړاندې کړ چې د وژنو، وهلو ډبولو، د بدني زیان یا جنسي نورو جرمونو په ګډون یو شمیر جرمونه رانغاړي. په هر حال، له یوې استثنا سره- کومه چې د افغان ملي پولیسو په نظارت کې د یوه شخص وهلو ډبولو ته راجع کیږي خو د اجراآتو د حالت په اړه یې کوم تفصیلات نه دي وړاندې کړي- یوناما د دې یادونه کوي چې د برابرو شویو معلوماتو څخه داسې کوم څه نه څرګندیږي چې ایا دغه قضیې د جګړې اړوند توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند تر هغه تعریف لاندې راځي کوم چې د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې نیول شوی.

د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو د تعقیبي غوښتنې په ځواب کې، د کورنیو چارو وزارت راپور ورکړ چې"په تیرو دوو کلونو کې، د هغو توقیفیانو په ضد چې د کورنیو چارو د وزارت د مرکزي محبسونو د ریاست تر صلاحیت لاندې په توقیف ځایونو کې ساتل شوي، د شکنجې او ناوړه چلند د نورو ډولونو په اړه هیڅ کوم راپور نه دی ورکړل شوی." په داسې حال کې چې دغه بیانیه په اوسني او پخوانیو راپورونو کې له تشریح شویو موندنو سره په سمون کې ده، یوناما اوس هم د جګړې اړوند هغو توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري راپورونه ترلاسه کوي چې د افغان ملي پولیسو او افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا بندي شوي، چې دواړه یې د کورنیو چارو د وزارت تر صلاحیت لاندې راځي. خو له دې سره سره، وزارت د دغه ډول ترلاسه شویو تورونو یا د څیړنو اړوند کوم معلومات نه دي وړاندې کړي. یوناما په خواشینۍ سره د دې یادونه کوي، چې د وړاندې شویو معلوماتو پر بنسټ، داسې نه بریښي چې د کورنیو چارو وزارت دې کوم پیاوړی ګام پورته کړی وي څو یقیني کړي چې د دغه ډول چلند تورونه دې په موثر ډول څیړل شوي او عدلي تعقیب ته راجع شوي وي.

### ج. دفاع وزارت

د دفاع وزارت د جنډر او بشري حقونو ریاست په وزارت کې د ننه د بشري حقونو د څار چارې مخ ته وړي او د بشري حقونو د ظرفیت جوړونې او روزنې د همغږۍ مسوولیت لري. په داسې حال کې چې په منظم ډول د توقیف ځایونو څارنه نه ترسره کوي، کارمندان یې د ملي اردو له بیسونو څخه لیدنې کوي څو د شکنجې یا ناوړه چلند د شکایتونو لومړنۍ څیړنې ترسره کړي. که چیرې

[87] د کورنیو چارو د وزارت د ۲۰۱۹ کال د جنوري د ۵ نېټې ۱۶۸۸۴ شمیره مکتوب، له یوناما سره په دوسیه کې دی.

دوي تورونه په کافي ډول باوري و انګيري، دوي کولی شي هغه د دفاع وزارت د حقوقو رياست ته د نورو اقداماتو لپاره راجع کړي. د جنډر او بشري حقونو رياست شايي بيا له اړوند توقيف ځای څخه تعقيبي ليدنې ترسره کړي.

د يوناما غوښتنې ته په ځواب کې، دفاع وزارت راپور ورکړ چې د شکنجې او ناوړه چلند ټولټال ۱۶ شکايتونه د توقيفيانو له خوا په پروان کې د دفاع وزارت له خوا په اداره کيدونکي توقيف ځای کې درج شوي. له دغو شکايتونو شپږ هغه يې د کافي جرمي شواهدو د نشتون له امله باطل شوي؛ په شپږو کې يې د امنيتي ساتونکو له خوا د توقيفيانو په مقابل کې د تيري کوونکي چلند په تړاو رسمي څيړنې شوې چې په انضباطي اقدام تمامې شوې (لکه رسمي نصحيت/سلا مشوره او اخطارونه)؛ او په څلورو کې وهل ډبول، د توقيفيانو شکنجه او ناوړه چلند شامل وو، چې په رسمي ډول څيړل شوي او مرتکبين يې د نظامي محکمې له خوا په نظامي واحد کې د شپږو مياشتو په سزا محکوم شوي.

دفاع وزارت دغه راز يوناما ته د ۲۶ قضيو يو لست وړاندې کړی، چې له ۲۰۱۳ څخه تر ۲۰۱۸ پورې موده رانغاړي، چيرې چې د افغان ملي اردو کارمندان د ولسي وګړو د وژنې، د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي او پر ماشومانو د تيري په ګډون د يو شمير جرمونو لپاره محکوم شوي. خو له دې سره سره د برابرو شويو معلوماتو څخه داسې کوم څه نه څرګنديږي چې ايا دغه قضيې د جګړې اړوند توقيفيانو د شکنجې او ناوړه چلند تر هغه تعريف لاندې راځي کوم چې د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې نيول شوی.

د برابرو شويو معلوماتو په پام کې نيولو سره، يوناما د دې يادونه کوي، په داسې حال کې چې دفاع وزارت مشخص ګامونه پورته کوي څو يقيني کړي چې د افغان ملي اردو د پرسونلو له خوا ترسره شوي جدي جرمونه عدالت ته راکښل شوي ، خو د شکنجې يا ناوړه چلند د کړنو لپاره تشريح شوي انضباطي اقدامات او مجازات نرم او زړه سواندي ښکاري. سربيره پر دې، په پروان کې د دفاع وزارت له خوا په اداره کيدونکي توقيف ځای کې د شکنجې يا ناوړه چلند د قضيو په اړه معلومات محدود دي، په داسې حال کې چې افغان ملي اردو په ټول هيواد کې بيسونه لري او د خپلو عملياتو پرمهال نيونې او توقيفونې ترسره کوي.

### د. د لوی څارنوال دفتر

د ۲۰۱۷ په مارچ کې، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د لوي څارنوال دفتر د خپل داخلي عدلي تفتيش د رياست تر مشرتابه لاندې د شکنجې د منع داخلي کميټه[88] تاسيس کړه. دغه کميټه د دې څرګند ماموريت او دنده لري څو يقيني کړي چې د شکنجې او ناوړه چلند د نورو ډولونو تورونه د عدلي تعقيب د اړوندو رياستونو څخه په مناسب ډول څيړل شوي.

د يوناما له خوا يوه مکتوب ته په ځواب کې، د لوي څارنوال دفتر په ډاګه کړې چې نوموړې اداري د ۲۰۱۷ د جنوري د لومړۍ او ۲۰۱۸ د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ په مرکز او د څارنوالۍ په ولايتي رياستونو کې د شکنجې او ناوړه چلند ۱۷۶ قضيې ترلاسه کړي. له دې سره سره دوي د نا کافي ارقامو/ډيټا له امله د دې وړ نه وو چې د جګړې اړوند توقيفيانو د شکنجې يا ناوړه چلند د تورونو مشخص ويش وړاندې کړي. د ۱۷۶ قضيو له جملې څخه، ۱۰ هغه يې د نورو څيړنو لپاره د قانون تنفيذوونکو چارواکو ته بيرته ليږل شوي؛ ۳۵ هغه يې د شواهدو د نشتون له امله ارشيف شوي؛ او ۸۶ هغه يې د لوي څارنوال د دفتر له مختلفو رياستونو سره تر پروسس لاندې دي. سربيره پر دې، د لوي څارنوال دفتر د څيړنو تر بشپړولو وروسته ۴۵ قضيې محکمې ته راجع کړي. صلاحيت لرونکو محکمو د ۲۸ قضيو په اړه قضاوتونه/پريکړې صادرې کړي، چې په پايله کې يې په ۲۰ قضيو کې تورن اشخاص په تعليقي حبس محکوم شوي. درې تورن اشخاص په نغدي مجازاتو محکوم او پنځه برئ الذمه شوي. ۱۷ قضيې له محکمو سره په تعليق کې پاتې دي.

يوناما د شکنجې او ناوړه چلند د څيړنو د زياتې شوې څارنې په يقيني کولو کې د لوي څارنوال د دفتر د هڅو هرکلی کوي. له دې سره سره د دې يادونه کوي، چې د لوي څارنوال د دفتر له خوا په ورکړل شوي لست کې يوازې يوه قضيه چې په افغان ملي پوليسو پورې تړاو لري، د جزا د قانون د ۴۵۱ (۱) مادې په تعقيب د کومې احکام چې شکنجه جرم شميري، په ۱۵ مياشتو حبس او دندې څخه په ګوښه کيدو محکوم شوي. په داسې حال کې چې د قضيې په اړه مشخص تفصيلات په لاس کې نشته، يوناما د دې يادونه

[88] د شکنجې ضد داخلي کميټه چې د لوي څارنوال په دفتر کې تاسيس شوې د شکنجې د منع کميسيون څخه چې د شکنجې ضد قانون له خوا تاسيس شوې يو جلا ارګان دی، لاندې فرعي عنوان وګورئ.

کوي چې راپور دا په ډاګه کوي چې راکموونکي تدابیر تطبیق شوي وو (د جزا د قانون د ۲۱۵ مادې پر بنسټ)، چې جزا یې د حد اقل درې کلونو حبس څخه د پام وړ راکمه کړې وه.

د لوي څارنوال د دفتر له خوا برابر شوي معلومات د قضیو د مفصلې ارزونې لپاره زمینه نه برابروي. د مشخصو غوښتنو سره سره، دا نه ده څرګنده چې د راپور شویو قضیو کومه یوه یې د جګړې اړوند توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند تر هغه تعریف لاندې راځي کوم چې د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې نیول شوی. زیاتره معلومات د "وهلو ډبلو" تورونو ته راجع شوي، پرته له دې چې د شرایطو یا د هغو قوانینو د اړوندو احکامو په اړه مشخصات وړاندې کړي چې له مخې یې فرد مجازات شوی. سربېره پر دې، په داسې حال کې د زیاترو قضیو په اړه د پرېکړو نېټه نه ده مشخصه، ځینې یې په هغې زماني موده کې نه راځي کومه چې د دغه راپور له خوا تر پوښښ لاندې نیول شوې.

### ه. د شکنجې د منع کمیسیون

د شکنجې د منع کمیسیون د ۲۰۱۷ په اپریل کې د شکنجې د منع تر قانون لاندې تاسیس شو.[89] د دغه کمیسیون مشري د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون (د بشري حقونو کمیسیون) له خوا کیږي، چې د کلیدي وزارتونو، د قانون د تنفید ادارو، د عدلي طب او طبي ماهرینو، قانون پوهانو او د مدني ټولنې له استازو تشکیل دی. د شکنجې د منع کمیسیون اصلي مسوولیتونه د توقیف ځایونو څارنه تر پوښښ لاندې نیسي، په کومه کې چې راتلونکي فعالیتونه او چارې شاملې دي: د لیدنو ترسره کول؛ د شکنجې د تورونو په ګوته کول او څېړل، د کوم څه لپاره چې د شکنجې د منع کمیسیون همدارنګه کولی شي مشخصې فرعي کمیټې وګماري؛ د شکنجې د منع په اړه د پوهاوي د پروګرامونو طرح کول؛ او د شکنجې د منع قانون د تطبیق په اړه د پالیسي سلا مشورې تاییدول.[90]

د بشري حقونو کمیسیون[91] راپور ورکړی چې د شکنجې د منع کمیسیون غړو په یو شمیر ولایتونو کې له توقیف ځایونو څخه په دې موخه د څارنې لیدنې ترسره کړې، څو د شکنجې هغه قضیې کشف کړي چې په ۲۰۱۷ کې د ده له تاسیس راهیسې رامنځ ته شوې. دوی همدارنګه د خپل کار په اړه د خلکو د پوهاوي د لوړولو لپاره یو شمیر فعالیتونه ترسره کړي، لکه د تلویزیوني چینلونو له لارې په ټول هیواد کې د ویډیو کلیپ خپرول. د شکنجې د منع کمیسیون غړو د استانبول پروتوکول سره سم د شکنجې قضیو د څېړنو په اړه داخلي روزنې ترلاسه کړې.

د شکنجې د تورونو په اړه د تعقیب په تړاو، د بشري حقونو کمیسیون راپور ورکړی چې د شکنجې د منع کمیسیون معیاري عملیاتي طرز العملونه تصویب کړي کوم چې د دغه کمیسیون له ټولو غړو غوښتنه کوي چې د هغوی د ماموریت سره سم د شکنجې قضیو ته په بشپړ ډول رسیدګي وکړي. په عموم ډول، د شکنجې قضیو ته د بشري حقونو د کمیسیون له خوا رسیدګي کیږي، خو که چیرې هغه "اضافي پلټنو او همغږۍ ته اړتیا ولري، د شکنجې د منع کمیسیون په ناستو کې مطرح کیږي، چیرې چې به یې غړي دغه قضیې وڅیړي او اړوندې ادارې د دې مسوولیت مني چې دغو قضیو ته رسیدګي کوي او تر هغې وروسته په راتلونکې ناسته کې د قضیو په تړاو د خپلو فعالیتونو [...] په اړه راپور ورکوي."[92] یوناما د شکنجې د قضیو د دغو څېړنو د پایلو په اړه کوم اضافي معلومات نه دي ترلاسه کړي کله چې د کمیسیون په ناستو کې مطرح شوي.

تر دې نېټې پورې چې د شکنجې د منع کمیسیون د فعالیتونو په اړه یوناما ته محدود معلومات وړاندې شوي دغه اداره د دې وړ نه کړه چې د نوموړي کمیسیون د کار څرنګوالی او پایله و ارزوي.[93] یوناما د دې یادونه کوي چې کمیسیون د اجرایي خپلواکۍ له نشتون سره مخ دی، څرنګه چې په دغه کمیسیون کې د هغو ادارو لوړ پوړي چارواکي شامل دي چې په زیات احتمال د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو په تړاو له څېړنو سره مخ دی، لکه د ملي امنیت ریاست، د کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت. که څه هم

---

[89] د شکنجې د منع کمیسیون د تاسیس په اړه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ۲۰۱۷ کال د اپریل د ۲۷ نېټې مطبوعاتي کنفرانس وګورئ، د کنفرانس بیانیه پر دغه انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ ده https://www.aihrc.org.af/home/press_release/6219 (په وروستي ځل د ۲۰۱۹ د فبروري پر ۱۹ کتل شوې)،

[90] د شکنجې ضد قانون ۱۱ او ۱۲ مادې.

[91] د بشري حقونو کمیسیون همدارنګه دشکنجې د منع کمیسیون لپاره سکرتریت برابروي.

[92] د ۱۳۹۷/۱۰/۱۲ نېټې ۱۷۳۴ شمیره مکتوب، له یوناما سره په دوسیه کې دی.

[93] که څه هم د بشري حقونو کمیسیون د معیاري عملیاتي طرز العملونو په اړه د یوناما د اضافي معلوماتو غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړی، خو د شکنجې د منع کمیسیون د غړو تایید ته په تمه پاتې دی.

د کمیسیون تنظیماتو دغه اداره د پالیسي د مباحثې او د ادارو ترمنځ د همغږۍ لپاره د لوړې کچې یو ارګان ګرځولی، خو د خپلواکۍ نښتون یې د څارنې او څېړنو اړوند چارو او د ساتنې اړوند اندیښنو په تړاو پوښتنې راولاړوي.

یوناما د دې یادونه کوي چې اندیښنې تر یوه حده د هغو غړو د شتون له لارې راکمې شوي څوک چې د اجرایي څانګې برخه نه دي، لکه د لوي څارنوال دفتر، د بشري حقونو کمیسیون او مدني ټولنه. دغه غړي کولای شي د توقیفونې د چارواکو لپاره یوه اندازه احتساب رامنځ ته کړي. له بل پلوه، دغه اندیښنې د ګټو د بالقوه ټکر او د بشري حقونو د کمیسیون او شکنجې د منع کمیسیون د دوو مختلفو ماموریتونو ترمنځ د حدودو له منځه وړلو سره ملې وې. د مثال په ډول د بشري حقونو په کمیسیون کې د شکایتونو د غور او څېړنې دفتر- کوم چې د څارنې د میکانیزم په څېر تاسیس شوي په دې موخه چې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو بهرنۍ څارنه ترسره کړي- او د شکنجې د منع کمیسیون ورته ګډ سکرتریت لري.[94] یوناما پر دې ټینګار کوي چې د بهرنۍ څار د میکانیزمونو لپاره دا خورا مهمه ده چې له دولتي ادارو څخه په اجرایي ډول خپلواک وي څو د دې وړ شي چې د شکنجې یا ناوړه چلند ادعا شوې قضیې په موثر ډول تعقیب کړي، په داسې حال کې چې د قربانیانو او شواهدو لپاره بسیا ساتنه یقیني کوي.

### و. مخه نیوونکی ملي میکانیزم

دا په نړیواله کچه منل شوې چې د توقیف شویو اشخاصو بې پرې او خپلواکه پلټنه د شکنجې او ناوړه چلند د کړنو په راکمولو کې خورا مهم رول لوبوي. بهرنۍ څارنه باید د داخلي پلټنو بشپړوونکې وي، کوم چې په عموم ډول پر هغو چارواکو د دوي د اتکا له مخې په پام کې نیول کیږي چې دوي یې باید وڅاري.

د ۲۰۱۸ کال په اپریل کې د شکنجې د منع کنوانسیون له الحاقي پروتوکول سره تر موافقې او یو ځای کیدو وروسته، افغان حکومت د موافقې د یوه کال په د ننه کې د شکنجې د مخنیوي لپاره د خپلواک مخه نیوونکي ملي میکانیزم تاسیسولو ته خپل ځان ژمن او متعهد بولي. د افغانستان د دې ارادې د څرګندولو په څېر چې په بشپړ او رغنده ډول د شکنجې او ناوړه چلند په مخنیوي کې ښکیل شي، یوناما د دغې پریکړې هرکلی کوي. د ۲۰۱۹ تر مارچ پورې، که څه هم یوناما د حکومت له خوا د کوم پیاوړي ګام په اړه نه ده خبر، څو په عملي ډول دغه میکانیزم تاسیس کړي.

یوناما پر دې ټینګار کوي چې د شکنجې د منع کنوانسیون له الحاقي پروتوکول سره تطابق د مخه نیوونکي ملي میکانیزم تاسیسونه او دغه راز د هغه د موثرې اجرا او اجرایي خپلواکۍ یقیني کول رانغاړي. دغه ډول میکانیزم باید ځواکمن شي څو په منظم ډول له هغو افرادو سره چلند وڅیړي چې له ازادۍ محروم شوي، په کومو کې چې باید له توقیف ځایونو څخه د نا اعلان شویو لیدنو د ترسره کولو شونتیا شامل شوې وي؛ حکومت ته د ټولو هغو افرادو سره د چلند او حالاتو د ښه کولو په موخه چې له ازادۍ محروم شوي سپارښتنې ترسره کړي؛ او د موجوده قوانینو او طرحو په اړه وړاندیزونه او ملاحظې وړاندې کړي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره، دغه میکانیزم باید په پیاوړي قانوني صلاحیت او اړینو بشري او مالي سرچینو سمبال وي. د خپل ماموریت په ترسره کولو کې به له مخه نیوونکي ملي میکانیزم سره د شکنجې د منع کنوانسیون تر الحاقي پروتوکول لاندې د شکنجې د مخنیوي په اړه د ملګرو ملتونو د فرعي کمیټې له خوا مرسته کیږي، کومه چې به د دې صلاحیت ولري چې په افغانستان کې له توقیف ځایونو څخه لیدنې ترسره کړي.

### ملاحظې

څرنګه چې په دغه راپور کې تشریح شوي، یوناما یو شمیر مثبت پرمختګونه ملاحظه کړي، په ځانګړي ډول د ملي امنیت د ریاست د هڅو په اړه چې خپله داخلي څارنه او نظارت ښه کړي، او د لوي څارنوال د دفتر چې د شکنجې او ناوړه چلند په له منځه وړلو یې ټینګار کاوه. که چې د مرتکبینو لپاره د احتساب د یقیني کولو موضوع مطرح کیږي یو شمیر ننګونې اوس هم شتون لري.

په خلاصه ډول، هغه پروسې د کومو له لارې چې دغه داخلي میکانیزمونه د شکنجې او ناوړه چلند شکایتونه ګوري او بیا یې با صلاحیته قضایي چارواکو ته راجع کوي، مبهم او نا څرګند دي. د یوناما موندنې او دغې ادارې ته برابر شوي معلومات په ډاګه کوي چې د تیري د تر ټولو وحشیانه ډولونو په ګډون باوري تورونه په کافي ډول د چارواکو له خوا نه دي څېړل شوي، لږ تر لږه

[94] د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر پر ۱۹، د بشري حقونو د کمیسیون په دننه کې د شکنجې د منع کمیسیون د سکرتریت له رییس او د پولیسو، دفاعي او امنیتي ځواکونو د شکایتونو د اوریدو او څېړلو د دفتر له همغږي کونکي سره د یوناما ناسته.

په ثبت او مستند کولو کې د نیمګړتیاوو او نورو مشترکو اړوندو تضمینونو د نشتون له امله، لکه مدافع وکیلانو ته لاس رسی یا د څېړنو په پړاو کې د کورنۍ له غړو سره اړیکه، یا منظم او هر اړخیز طبي معاینات. یوناما ته وړاندې شوي معلومات همدارنګه د اړوندو چارواکو له خوا د شکنجې او ناوړه چلند د تعریف د درک یو معمول نشتوالی په ډاګه کوي.

سربیره پر دې، د دې په معلوماتو کې چې ایا شکنجه او ناوړه چلند پیښ شوی، داسې برېښي چې چارواکي او محکمې تر ډېره حده د څرګندو فزیکي ټپونو پر شتون اتکا کوي. څرنګه چې پې پورته یادونه شوې، د شکنجې د منع قانون هم "د ازادۍ د محرومیت په مرکزونو کې د ثبوت د بار د بیرته راګرځولو لپاره د شخص پر بدن د شکنجې د مشاهدې وړ نښو نښانو" غوښتنه کوي.[95]

په دغه او پخوانیو راپورونو کې د مستند شوې شکنجې زیات شمیر فزیکي طریقې (د پښو پر تلو د وهلو ډبولو، تربت کولو، د ستړس په حالاتو کې د ساتلو او نورو تخنیکونو په ګډون) د زیان کومې دوامدره فزیکي نښې نښانې نه پرېږدي او ممکنه نه ده چې د عدلي طب د ازموینو له لارې تصدیق کړای شي. آن که چیرې ناوړه چلند یا شکنجه د څرګندو فزیکي ټپونو لامل شوې هم وي، توقیفیان زیاتره د دې وړ نه دي (په ځینو قضیو کې نه غواړي) چې د څو میاشتو لپاره وروسته تر هغې چې ټپونه بیرته ورغیږي په دې اړه اندیښنې راولاړې کړي، چې دغه مهال به د ناوړه چلند زیاتره نښې نښاني نور د لیدو وړ نه وي. سربیره پر دې، شکنجه د تعریف له پلوه د رواني کړاو او ځور اړول رانغاړي. دغه ډول شکنجه د فزیکي ټپ کوم اثر نه پرېږدي او له همدې امله دغه قضیې په اتوماتیک ډول له پامه غورځولو له ګواښ سره مخ کیږي.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې هغه کسان چې شکنجه یا ناوړه چلند ترسره کوي له احتساب سره به مخ شي، یوازې باوري اړخ پې دا دی، چې کولی شي د هغو کسانو مخه ونیسي چې دغه ډول جرمونه ترسره کوي پې امر کوي. شکنجې او ناوړه چلند ته رسیدګي په توقیفونه کې د ټولو دخیلو چارواکو او پرسونلو د لوړې کچې روزنې او څرګندو لارښوونو، د ټولو توقیف ځایونو پیاوړو څېړنو، د شکنجې او ناوړه چلند د کارونې د پای ته رسولو او مخنیوي لپاره د احتساب موثرو تدابیرو ته اړتیا لري. د شکنجې یا ناوړه چلند د موثرو مخه نیوونکو تدابیرو لکه د پلټنې خدمتونه چې د لازمې خپلواکۍ درلودونکي وي څو خپل ماموریت ترسره کړي او پیاوړو، خپلواکه څېړنیزو پروسو او جنایي عدلي تعقیبونو پرته، افغان چارواکي ښایي د دغه ډول کړنو د پای ته رسولو لپاره کومه انګیزه ونه لري.

[95] د شکنجې د منع د قانون ۲۳ ماده.

## ۸. د شکنجې او ناوړه چلند د قربانیانو لپاره د خسارې جبران

د ملګرو ملتونو د شکنجې د منع کنوانسیون تصریح کوي چې " دولت باید په خپل حقوقي سیستم کې دا یقیني کړي چې د شکنجې د کړنو قربانیان د خسارې جبران ترلاسه کوي او عادلانه او مناسب جبران ته د نافذیدو وړ حق لري."[96] جبران په دې قرینه کې د "موثرې چارې/حل لارې" او د "خسارې جبران" مفکورې رانغاړي.[97]

### موثرې حل لارې

هر اړخیزه قانون، د شکایتونو کارنده سیستم، د څېړنو موثر ارګانونه او د خپلواکو قضایي ارګانونو په ګډون د لاس رسي وړ اداري دي چې شکنجې او ناوړه چلند د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران د ورکولو صلاحیت ولري، د موثرې چارې د حق د یقیني کولو لپاره مخکیني شرطونه ګڼل کیږي.[98]

د ۱۹۷ توقیفیانو له جملې څخه چا چې یوناما ته په دې اړه کره او باوري معلومات وړاندې کړي چې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په نظارت کې شکنجه شوي یا د ناوړه چلند سره مخ شوي، ۱۰۳ هغو یې (۵۲ سلنه) په ډاګه کړې چې دوي له دوي سره د خپل چلند په اړه د ډاکټرانو، د توقیف ځایونو د کارمندانو، د ملي امنیت د ریاست د بشري حقونو د افسرانو، څارنوالانو یا قاضیانو په ګډون چارواکو ته شکایت کړی. له دې سره سره، طبي درملنې ته د کله نا کله د ارجاع په استثنا سره، یوازې دوو توقیفیانو یوناما ته خبر ورکړی چې د دوي قضیې "په کابل کې د ملي امنیت ریاست مرکز" ته راجع شوي. که څه هم چې تور د افغان ملي پولیسو په توقیف ځای کې له چلند سره تړاو درلود، مخکې تر دې چې د ملي امنیت د ریاست توقیف ځای ته ولیږدول شي. هیڅ بل توقیفي په دې اړه خبر نه درلود چې د هغوي د شکایتونو په پایله کې دې د چارواکو له خوا کوم اقدام ترسره شوی وي. سربیره پر دې، یو شمیر توقیفیانو په ډاګه کړې چې دوي له غچ اخیستلو څخه په ویره کې وو او له همدې امله یې نه غوښتل د هغه چلند په اړه چې دوي ور سره د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په نظارت کې مخ شوي راپور ورکړي.

د چارواکو له خوا د شکنجې شکایتونو د ځواب ویلو نشتون د ځانګړې اندیښنې وړ دی د دې په پام کې نیولو سره چې د جزایي اجراآتو تر شرایطو لاندې دواړه څارنوال او محکمه مکلف دي چې فعال ګامونه پورته کړي څو یقیني کړي چې د اکراه او اجبار له لارې ټول تر لاسه شوي شواهد (یا په بل ډول له موجوده قوانینو څخه په سرغړونه کې تر لاسه شوي وي) باطل دي.[99]

د هغو ستونزو په پام کې نیولو سره چې افغان چارواکي ورسره د شکنجې او ناوړه چلند د تورونو په موثر ډول څیړلو کې او بیا وروسته د شکنجې د تورنو مرتکبینو په محاکمه کولو کې مخ شوي –د عدلي تعقیبونو یا د مهمو داخلي انضباطي طرز العملونو له لارې- د شکنجې د قربانیانو دا وړتیا چې یوې موثرې قضایي یا اداري چارې ته د خپل حق ادعا وکړي، محدوده پاتې ده.

### د خسارې جبران

د هغه مکلفیت سربیره چې د شکنجې او ناوړه چلند د قربانیانو لپاره د موثرې چارې برابرول یقیني کړي، د شکنجې د منع د کنوانسیون د یوه غړي په څیر، افغانستان باید دا یقیني کړي چې قربانیان د خسارې موثر جبران ترلاسه کوي. د خسارې جبران په دې قرینه کې یوازې په مالي جبران پورې محدود نه دی؛ د تدابیرو هغه وسعت چې د سرغړونو د جبران لپاره اړین دی همدارنګه د خسارې جبران، په طبي او رواني ډول بیرته رغیدنه، رضامندي (د حقیقت حق) او د بیا نه تکراریدو تضمینونه رانغاړي.[100] د حقیقت حق په استثنا سره، د شکنجې د منع قانون په پراخه کچه دغه عنصرونه وضع کوي.

له پوښتنې سره سره، یوناما ته د لوي څارنوال د دفتر له خوا د شکنجې د منع تر قانون لاندې د شکنجې د قربانیانو له خوا د خسارې د مالي جبران (یا د جبران د کوم بل ډول په اړه) د کومې ادعا په اړه معلومات نه دي ورکړل شوي.

---

[96] د شکنجې د منع کنوانسیون ۱۴ ماده.
[97] د شکنجې د منع کمیټې، ۳ شمیره عمومي تبصره، ۲-۱ پاراګرافونه.
[98] د شکنجې د منع کمیټې، ۳ شمیره عمومي تبصره، ۵ پاراګراف.
[99] د جزایي اجراآتو د قانون ۲۱ او ۲۲ مادې.
[100] د شکنجې د منع کمیټې، ۳ شمیره عمومي تبصره، ۲ پاراګراف.

موثرې قضايي چارې ته د شکنجې يا د ناوړه چلند د نورو ډولونو د قربانيانو د لاس رسي معمول نه وړتيا چې د چټکو، موثرو او بې پرې څېړنو د نشتون سره مله وه، دغه راز هغوي د خسارې د جبران له ترلاسه کولو څخه منع کړي.

## ۹. سپارښتنې

یوناما د هغو ګامونو هرکلی کوي چې د افغان حکومت له خوا د جګړې اړوند توقیفیانو د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي او هغوي ته رسیدګي لپاره د یوناما/د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر د ۲۰۱۷ کال د راپور له خپریدو راهیسې ترسره کړي. که څه هم چې د شکنجې او ناوړه چلند دومداره کارونه د حکومت د هغه مکلفیت خلاف مخ ته ځي چې د دغه ډول چلند قاطع ممنوعیت نافذ کړي. یوناما له همدې امله افغان حکومت په کلکه دې ته هڅوي چې د شکنجې د له منځه وړلو لپاره خپلې هڅې جاري وساتي او په ځانګړي ډول راتلونکې سپارښتنې پلې کړي:

**حقوقي چوکاټ**

حکومت باید د دې ډاډ ورکړي چې د جګړې اړوند جرمونو د شکمنو، تورنو او محکومو اشخاصو په ګډون ټولو توقیفیانو ته د بشري حقونو له نړیوال قانون سره سم اړین قانوني حقونه او تضمینونه برابر کړي.

- د جزایي اجراآتو د قانون لومړۍ ماده د بشري حقونو له نړیوال قانون سره په بشپړ ډول په تطابق کې کړي، چې په ځانګړي ډول له ازادۍ څخه د محروم شویو اشخاصو د چټک قضایي څار لپاره زمینه برابره کړي.
- دا یقیني کړي چې د شکنجې سزاګانې د جرم له شدت سره په انډول کې دي.
- د اعدامونو د چټکې ځنډونې او سزاګانو د راکمونې لپاره د تدابیرو ترسره کول په پام کې ونیسي.
- د شکنجې د منع له قانون څخه د شکنجې د قربانیانو د خسارې د جبران په وړاندې خنډونه لرې کړي، لکه د شواهدو درانده بارونه.
- له اجباري ورک کیدو څخه د ټولو اشخاصو د ساتنې له نړیوال کنوانسیون سره یو ځای کیدل (الحاق کیدل) په پام کې ونیسي.

**قبلونه (موافقت)**

حکومت باید دا یقیني کړي چې د قانون د انفاذ او ازادي سلبولو ټولې اړوندې مسوولې ادارې په موثر ډول د قانون په حدودو کې خپلې چارې مخ ته وړي.

- غیر رسمي یا نا قانونه توقیف ځایونه په ګوته کړي، کارونه یې پای ته ورسوي او و یې تړي.
- ټول هغه اشخاص په ګوته او ازاد کړي چې په خپل سري ډول یا د قانوني دلایلو پرته توقیف شوي.
- د شکنجې یا ناوړه چلند د تورونو په مستند کولو، راپور ورکولو یا څیړلو کې یا د قانوني او نورو طرز العملي تضمینونو په رعایت کولو کې پاتې راتلل مجازات کړي.
- دا یقیني کړي چې تر محاکمې مخکې د توقیف او قضایي اجراآتو مودو ته درناوی شوي، او توقیفیان په هغو مرکزونو کې بندي شوي چې په داخلي قوانینو کې یې وړاندوینه شوې.
- د ټولو هغو قضیو لپاره چې ماشومان په کې د جګړې اړوند جرمونو باندې تورن دي د ماشومانو د قانون بشپړ تطبیق یقیني کړي، د ولایتي محکمو د چاراوکو په ګډون.
- په پروان ولایت کې د توقیف ځای د پلان شوي پراخیدو سره په سمون کې، په دغه مرکز کې له نړیوالو معیارونو سره سم د توقیف مناسب حالات یقیني کړي.

**قانوني او نور طرز العملي تضمینونه**

حکومت باید دا یقیني کړي چې د ازادۍ د سلبولو له پیل سره سم قانوني او نور طرز العملي تضمینونه په موثر ډول د ټولو ملي ادارو له خوا رعایت شوي.

- د ارجاع یو موثر او معیاري سیستم تطبیق کړي چې ټول توقیفیان وکولی شي مدافع وکیلانو یا د حقوقي مرستې برابرونکو ته چټک لاس رسی ولري او دا یقیني کړي چې پوښتنې ګرویږنې د مدافع وکیل په شتون کې ترسره شي.

- د حقوقي مرستې سیستم لپاره اړین بشري او مالي منابع تخصیص او ځانګړي کړي.
- له بشپړې مسلکي خپلواکۍ سره د روغتیا پالنې کارمندان برابر کړي او د ناروغانو د روغتیا بې تعصبه ارزونه وکړي او سم چلند وکړي؛ خپل ظرفیت غښتلی کړي څو د شکنجې او ناوړه چلند نښې نښانې مستندې کړي او د استانبول له پروتوکول سره سم فزیکي ارزونې ترسره کړي؛ او د دې غوښتنه کیږي چې ټول توقیفیان توقیف ځای ته په رسیدو سره سم بشپړې طبي معاینې ترلاسه کوي.
- دا یقیني کړي چې د جګړې اړوند جرمونو د څېړلو لپاره معیاري عملیاتي طرز العملونه په بشپړ ډول د بشري حقونو له معیارونو سره په سمون کې دي؛ د مرکه کولو د غیر اجباري تخنیکونو او نورو هغو تدابیرو په اړه لارښوونې شاملې کړي چې پر اعترافونو اتکا محدودوي؛ دغه طرز العملونه د قانون د تنفیذ ټولو چارواکو ته ویشل شوي، په منظم ډول تازه شوي او تطبیق یې د سوپروایزانو له خوا څارل شوی.
- د قاضیانو لپاره څرګندې لارښوونې صادر کړي څو یقیني کړي چې اجباري یا نور ناقانونه ترلاسه شوي اعترافونه د محکمې په اجراآتو کې د شواهدو په څیر نه منل کیږي؛ او دا ډاډمن کړي چې دغه ډول تورونه په بشپړ ډول څیړل شوي او مسوولین یې احتساب ته راکښل شوي؛
- عملي تنظیمات عیار کړي څو دا یقیني کړي چې له ازادۍ څخه محروم شوی شخص کولی شي د خپلې خوښې له شخص سره اړیکه ټینګه کړي او هغوي ته د خپل توقیف او ځای ځایګي په اړه خبر ورکړي او د کورنۍ لیدنې تسهیل کړي؛
- د قانون د انفاذ له پرسونلو غوښتنه کیږي چې شکمن شخص ته د هغه د نیونې د دلایلو په اړه زر تر زره خبر ورکړي او په هر توقیف ځای کې چې دوی بندي دي توقیفیانو ته د هغوي د حقونو په اړه معلومات برابر کړي.
- دا یقیني کړي چې له ازادۍ څخه محروم شوي ټول اشخاص په موثر ډول د دې وړ دي چې د توقیف مودې په هر پړاو کې خپل دا حق عملي کړي چې د قاضي په وړاندې د توقیف قانونیت یا اړتیا وننګوي.
- دا یقیني کړي چې ټول توقیف ځایونه د محبوسینو سره د چلند لپاره د ملګرو ملتونو د حد اقل معیار د ۷ او ۸ قواعدو سره سم د هر توقیفي لپاره معیاري ریکارډ ساتي.

**څارنه، تحقیقات او احتساب**

دولت باید د شکنجې یا ناوړه چلند ټول تورونه په دې موخه په چټک، بې پرې، خپلواک، شفاف او بشپړ ډول وڅیړي، چې د شکنجې یا ناوړه چلند هر ترسره کوونکی، امر کوونکی یا د دغه ډول کړنو سره رضایت کوونکی مسوول چارواکی محاکمه شي.

- د ملي امنیت د ریاست، د کورنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت او دغه راز د لوی څارنوال د دفتر په دننه کې د څارنې د اړوندو داخلي میکانیزمونو ظرفیت لوړول جاري وساتي چې له توقیفیانو سره چلند وڅاري او د شکنجې یا ناوړه چلند د تورونو څیړنه ترسره کړي.
- د اړوندو قضایي، د قانون د انفاد او طبي کارمندانو لپاره څرګند طرز العملونه جوړ او صادر کړي څو یې د شکنجې یا ناوړه چلند د تورونو د را برسیره کیدو پرمهال تعقیب کړي؛ او د هغوي لپاره د راپور ورکولو خوندي او خپلواک تنظیمات برابر کړي.
- دا یقیني کړي چې داخلي اداري مجازات هیڅکله د شکنجې او ناوړه چلند د شکایتونو د موثرې څیړنې او د هغوي د عدلي تقیبونو مخه نه ډب کوي.
- د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون (د ده تر صلاحیت لاندې د شکایتونو د اوریدو او څیړلو دفتر) او د شکنجې د منع د کمیسیون ماموریتونه په څرګند ډول جلا کړي.
- د شکنجې د منع په اړه د ملګرو ملتونو له فرعي کمیټې سره په سلا مشوره او د شکنجې د منع د کنوانسیون د الحاقي پروتوکول له ټولو شرایطو سره په تطابق کې او د هغه د اجرایي خپلواکۍ په ګډون، د مخه نیوونکي ملي میکانیزم تاسیسولو ته لومړیتوب ورکړي.

**د شکنجې یا ناوړه چلند د قربانیانو لپاره د خسارې جبران**

دولت باید په عملي توګه دا یقیني کړي چې د شکنجې قربانیان عدالت ته موثر لاسرسی لري او د ګالل شوي زیان په مقابل کې د خسارې مناسب، موثر او چټک جبران ترلاسه کوي، څرنګه چې یې د شکنجې د منع په قانون کې وړاندوینه شوې.

- د قربانیانو لپاره د شکایت موثر میکانیزمونه جوړ کړي چې د تهدید یا د چارواکو له خوا د غچ د کومې ویرې پرته د شکنجې او ناوړه چلند په اړه راپور ورکړي.

**ظرفیت جوړونه او د پوهاوي لوړونه**

د نړیوالې ټولنې په مرسته، دولت باید په نظارت، پوښتنو ګرویږنو یا له ازادۍ څخه له محرومو افرادو سره په چلند کې د دخیل هر شخص د روزنې غښتلي کول جاري وساتي.

- په عدلي سکتور کې د ظرفیت جوړونې غښتلي کول جاري وساتي، څو د قانون د انفاذ او قضایي چارواکو ته سرچینې او تخنیکي مهارتونه برابر کړي چې د بشري حقونو د نړیوال قانون له معیارونو سره په بشپړ تطابق کې د مرکه کولو د غیر اجباري تخنیکونو په ګډون د جګړې اړوند جرمونو په تړاو توقیفونه، څېړنه او عدلي تعقیبونه ترسره کړي.
- د قانون د انفاذ د چارواکو لپاره د تضمینونو په اړه د تفصیلاتو په ګډون د حقوقي شرایطو په اړه روزنې برابرې کړي، څو د شکنجې او ناوړه چلند مخه ونیسي.
- دا یقیني کړې چې په ټولو توقیف ځایونو کې ټول اړوند چارواکي، د طبي پرسونلو په ګډون روزل شوي، څو د استانبول پروتوکول سره په سمون کې د شکنجې او ناوړه چلند قضیې په ګوته او مستند کړي.
- د دې مکلفیت په اړه پوهاوي لوړ کړي چې د طبي پرسونلو په ګډون د توقیف ځایونو د کارمندانو ترمنځ د شکنجې او ناوړه چلند تورونه مستند کړي او راپور یې ورکړي.

# لومړۍ ضمیمه: د اصطلاحګانو او د نوم د سر ټکو قاموس

**د بشري حقونو کمیسیون:** د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

ANA: افغان ملي اردو

ANDSF: افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه

ANP: افغان ملي پولیس

***داعش:*** د داعش کلمه د عراق او شام د اسلامي خلافت مخفف دی

DFiP: په پروان کې توقیف ځای

ISKP: په عراق او شام کې اسلامي دولت- خراسان ولایت

**استانبول پروتوکول:** د شکنجې او ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا د موثرې څېړنې او مستندونې په اړه لاسي کتاب

JRC: د ماشومانو د اصلاح مرکز

KPF: د خوست ساتنې ځواک

NDS: د ملي امنیت ریاست، د افغانستان د دولت استخباراتي خدمتونه

NPM: مخه نیوونکي ملي میکانیزمونه

OHCHR: د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر

**طالبان:** مخالفه وسله واله ډله چې د افغان حکومت او نړیوالو نظامي ځواکو په ضد جنګیږي

UNAMA: د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

## دویمه ضمیمه: تر نړیوال قانون لاندې د شکنجې او ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا ممنوعیت

ګڼ شمیر نړیوال تړونونه چې افغانستان یې غړیتوب لري، شکنجه او نور ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا منع کوي. په دې کې د شکنجې د منع کنوانسیون، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنواسیون، د جینوا د ۱۹۴۹ کنوانسیون، د نړیوالې جنايي محکمې د روم اساسنامه او د ماشومانو د حقونو کنوانسیون شامل دي.[101] د دولت دا مکلفیت چې د دغه ډول کړنو د ممنوعیت درناوي د انتقاص وړ نه دی، په دې مانا چې دا هیڅکله د توجیه وړ نه ده چې د دې کاروڼې ممنوعیت تعلیق یا یې په رعایت کولو کې پاتې راشي.[102]

### د شکنجې او ناوړه چلند د نورو ډولونو تعریف

د شکنجې د منع تر کنوانسیون لاندې د شکنجې تعریف په اوسني تمرین کې تر ټولو زیات اقتباس شوي او معتبر تعریف دی:

*"د دغه کنوانسیون د هدف لپاره "شکنجه" هر عمل ته وايي چې له امله یې سخت درد یا کړاو که هغه فزیکي وي یا رواني، په قصدي ډول شخص ته له هغه څخه یا له دریم شخص څخه د معلوماتو یا اعتراف تر لاسه کولو لپاره، شخص د یو داسې عمل لپاره مجازات کولو لپاره چې هغه یا بل دریم لوري ترسره کړی وي یا یې پر ترسره کولو تورن وي، یا د شخص یا دریم لوري د تهدیدولو یا اکراه کولو، یا د تبعیض پر اساس د بل کوم دلیل لپاره اړول شوي، په داسې حال کې چې دغه ډول درد یا کړاو د یوه دولتي چارواکي یا د بل شخص چې په رسمي ظرفیت کې کارکوي په لمسونه یا رضایت یا خوښې ترسره شوی وي. په دې کې هغه درد او کړاو نه دي شامل په قانوني مجازاتو کې نغښتی یا تصادفي وي."*[103]

په دغه تعریف کې څلور عنصرونه شامل دي:

(۱) د شدید درد یا کړاو اړول؛

(۲) قصد؛

(۳) هدف (لکه د معلوماتو یا اعتراف ترلاسه کول، سزا، تهدید؛ اکراه و اجبار یا تبعیض)؛[104] او

(۴) د دولتي چارواکو یا د بل هر شخص چې په دولتي ظرفیت /چوکاټ کې فعالیت کوي ښکیلتیا.

ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا ("ناوړه چلند") همدارنګه حقوقي اصطلاح ګاڼې دي چې هغه چلند ته راجع کیږي چې مختلفې اندازې کړاونه اړوي کوم چې نه باید د یوه مشخص هدف لپاره واړول شي.[105] د ناوړه چلند د مخنیوي مکلفیت

---

[101] افغان حکومت د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډک چلند یا سزا د منع کنوانسیون د ۱۹۸۷ په جون کې، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون د ۱۰۰۳ په اپریل کې، د جینوا کنوانسیونونه د ۱۹۵۶ په سپتمبر (د دوو الحاقي پروتوکولونو په استثنا سره)، او د ماشومانو د حقونو کنوانسیون په ۱۹۹۴ کې تصویب کړل. د نړیوالې جنايي محکمې د روم اساسنامه، چې د افغانستان له خوا د ۲۰۰۳ په فبروري کې تصویب شوې، په ډاګه کوي چې په غیر نړیواله وسله واله جګړه کې شکنجه په راتلونکو حالاتو کې جنګي جرمونه تشکیلوي: *"د نړیوال خاصیت نه درلودونکې د وسله والې جګړې په قضیه کې، د ۱۹۴۹ د اګست د ۲ د جینوا د څلورو کنوانسیونونو له دریمې مشترکې مادې څخه په جدي سرغړونو کې راتلونکي موارد شاملیږي، د هغو اشخاصو په ضد د [...] شکنجه [...] کړنو ترسره کول چې په جګړو/خصومتونو کې په فعال ډول برخه نه اخلي، د وسله والو ځواکونو د هغو غړو په ګډون چې وسله یې پر ځمکه ایښې وي او هغه اشخاص چې د ناروغۍ، ټپونو، توقیف یا بل کوم دلیل له امله له جګړې لویدلي وي: "(۸ (۲) (سي) (آی) ماده). په غیر نړیواله وسله واله جګړه کې د شکنجې د جنګي جرم عنصرونه دا دي، چې مرتکب یوه شخص ته سخت فزیکي یا رواني درد یا کړاو واړوي؛ چې مرتکب دغه کار د دغو موخو لپاره کړی وي، لکه د معلوماتو یا اعتراف ترلاسه کول، سزا، تهدید، اجبار و اکراه یا د هر بل کوم دلیل لپاره چې پر تبعیض ولاړ وي؛ او هغه شخص چې شکنجه شوي له جګړې لویدلی شخص، ملکي وګړی، طبي پرسونل یا مذهبي شخص وي چې په جګړه او خصومتونو کې په فعال ډول برخه نه اخلي؛ دا چې مرتکب له هغو واقعي حالاتو خبر وي چې دغه وضعیت یې رامنځ ته کړی؛ دا چې ترسره شوي عمل په داسې زمینه کې رامنځ ته شوي چې له وسله والې جګړې سره تړاو لري کومه چې د نړیوال خاصیت درلودونکې نه ده؛ او دا چې مرتکب له هغو واقعي حالاتو خبر وي د وسله والې جګړې شتون یې رامنځ ته کړی وي."*

[102] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۴ (۲) ماده؛ د شکنجې د منع د کنوانسیون ۲ (۲) ماده.

[103] د شکنجې د منع د کنوانسیون ۱ ماده.

[104] د شکنجې د منع کمیټه تصریح کوي چې "د قصد او هدف [...] عنصرونه د مرتکبینو د لمسونو ذهني پلټنه نه رانغاړي، بلکې پر ځای یې باید تر حالاتو لاندې واقعي تصمیمونه وي"؛ د شکنجې د منع کمیټه، ۲ شمیره عمومي تبصره (د غړو هیوادونو له خوا د ۲ مادې تطبیق)، د ۲۰۰۸ د جنوري ۲۴ CAT/C/GC/2، ۹ پاراګراف.

[105] ټیپینا، پولونا، د شکنجې د راپور ورکولو لاسي کتاب، دویم چاپ، د بشري حقونو مرکز، د ایسیکس پوهنتون، ۲۰۱۵، ۲۳مخ.

په عمل کې تر ډېره د شکنجې د مخنیوی له مکلفیت سره تړاو لري. تجربه په ډاګه کوي، هغه حالات چې ناوړه چلند راولاړوي په مکرر ډول شکنجې ته لار هواروي، او له همدې امله اړوند تدابیر باید تطبیق شي څو د دغه ډول هر چلند مخنیوی وشي.[106]

**تر نړیوال قانون لاندې د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي په موخه د دولت مکلفیتونه**

د شکنجې او ناوړه چلند قاطع ممنوعیت له دولتونو د مثبتو تدابیرو –قانوني، اداري، قضايي او نور اقدماتو- د ترسره کولو غوښتنه کوي، څو یقیني کړي چې دغه ډول عمل او د هغوي د بیا پیښېدلو په موثر ډول مخه نیول شوې.[107] د شکنجې د منع کنوانسیون په څرګنده د یو شمیر تدابیرو غوښتنه کوي، د راتلونکو هغو په ګډون:

- *جرم ګڼل.* څو یقیني کړي چې د دولت د جزا تر قانون لاندې د شکنجې ټولې کړنې جرمونه ګڼل کیږي، کوم چې باید د مناسبو سزاګانو له لارې د مجازاتو وړ وي، چې د هغوي شدید ماهیت په پام کې نیسي.
- *څېړنې او د قرباني شکایتونه.* څو چټکې او بې پرې څېړنه ترسره کړي، چیرې چې د دې معقول دلیل شتون ولري څو د دې باور وشي چې د شکنجې کړنه ترسره شوې؛ دا یقیني کړي چې هر شخص د دې حق لري چې صلاحیت لرونکو چارواکو ته شکایت وکړي؛ او شکایت کوونکي او شاهدان له غچ یا تهدید څخه خوندي وساتي.
- *روزنه.* د شکنجې د ممنوعیت په اړه ټولو هغو اشخاصو ته خبر او روزنه ورکړي څوک چې ښايي په نظارت، پوښتنو ګرویږنو یا د هر انفرادي توقیفي سره په چلند کې ښکیل وي.
- *قواعد، لارښوونې، طرز العملونه.* د شکنجې منع (ممنوعیت) هغو اشخاصو ته په صادر شویو قواعدو او لارښوونو کې شامل کړي، څوک چې په نظارت، پوښتنو ګرویږنو یا له توقیفیانو سره په چلند کې ښکیل وي، او اړوند قواعد تر سیستماتیکې بیا کتنې لاندې وساتي.
- *د خسارې جبران.* دا یقیني کړي چې د شکنجې د کړنې قرباني د خسارې جبران ترلاسه کوي او عادلانه او مناسب جبران ته د نافذیدو وړ حق لري، تر ممکنه حد پورې د بشپړې رغیدنې د وسیلو په ګډون.
- *د محرومولو قاعده.* دا یقیني کړي چې هر بیان چې د شکنجې سره د مخ کیدو په پایله کې ورکړل شوی وي په اجراآتو کې د شواهدو په څیر و نه ګڼل شي.

سربیره پر دې، د بشري حقونو نړیوال قانون له ازادۍ څخه د محروم شویو اشخاصو لپاره قانوني او نور طرزالعملي تضمینونه وضع کوي چې د شکنجې او ناوړه چلند د مخنیوي لپاره د هر ساتندوي چوکاټ داخلي برخه ګڼل کیږي. په دغو تضمینونو کې راتلونکي حقونه شامل دي:

- د دوي تر نیونې وروسته د هغوي کورنۍ غړي یا دریم لوري ته د هغوي د ځای ځایګي په اړه خبر؛[108]
- د خپلې دفاع لپاره چټکه خپلواکه حقوقي مرسته او کافي وخت او اسانتیاوې ترلاسه کوي؛[109]
- طبي ډاکټر، که شونې وي د خپلې خوښې هغه ته چټک او منظم لاس رسی لري؛[110]
- د نیونې د لاملونو او جرمي تورونو په اړه خبر شوي؛[111]
- تر هغې چې د قانون سره سم مجرم نه وي ثابت شوي بې ګناه ګڼل کیږي او نه باید د خپل ځان په ضد اقرار یا ناسم اعتراف ته اړ کړای شي؛[112]

---

[106] د شکنجې د منع کمیټه، ۲ شمیره عمومي تبصره ، ۹ پاراګراف
[107] د شکنجې د منع د کنوانسیون ۲ او ۱۶ مادې.
[108] د ملګرو ملتونو د محبوسینو د چلند لپاره حد اقل معیار حد اقل قواعد (د نیلسن منډیلا قواعد)، A/RES/70/175، ۶۸ قاعده.
[109] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۱۴ (۳) ماده؛ دغه راز د بشري حقونو د کمیټې ۳۲ شمیره عمومي تبصره وګورئ (۱۴ ماده: د محکمو او قاضیانو او عادلانه محاکماتو ته احضاریدو مساوي حق)، د ۲۰۰۷ د اګست د ۲۳ نیټې CCPR/C/GC/32.
[110] د ملګرو ملتونو د محبوسینو د چلند لپاره حد اقل معیار حد اقل قواعد (د نیلسن منډیلا قواعد)، A/RES/70/175، ۳۰؛ ۳۴؛ ۱۱۸ قواعد؛ د روغتیا پالنې د خدمتونو په اړه عمومي ۲۴ قاعده وګورئ.
[111] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۹ (۲) او ۱۴ (۳) مادې وګورئ.
[112] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۱۴ (۲) او (۳) ماده وګورئ.

- په مناسبه زماني موده کې د قاضي/محکمې په وړاندې احضار کړای شي؛[113]
- د خپل توقیف او چلند قانونیت وننګوي (محکمې ته د احضاریدو حق)؛[114]
- له خپل سري یا نا قانونه نیونې یا توقیف سره نه وي مخ شوي؛[115] او
- د دغو حقونو په اړه په هغه ژبه پوه شوي وي چې هغوي ته د پوهیدو وړ وي.[116]

نور هغه کلیدي تدابیر چې د شکنجې او ناوړه چلند په مخنیوي کې مرسته کوي، د نورو په ګډون، د توقیف ځایونو د څارنې او لیدنې بې پرې میکانیزمونه؛ د غچ له کومې ویرې پرته د راپور ورکولو میکانیزمونه؛ او د ثبت ساتل رانغاړي.[117]

[113] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۹ (۳) ماده وګورئ.
[114] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۹ (۴) ماده وګورئ.
[115] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون ۹ (۱) ماده وګورئ.
[116] د ملګرو ملتونو د محبوسینو د چلند لپاره حد اقل معیار حد اقل قواعد (د نیلسن منډیلا قواعد)، A/RES/70/175، له ۵۳ تر ۵۵ قواعد؛
[117] د ملګرو ملتونو د محبوسینو د چلند لپاره حد اقل معیار حد اقل قواعد (د نیلسن منډیلا قواعد)، A/RES/70/175، د محبوسینو د دوسیو د مدیریت؛ د محبوسینو د شکایتونو او د هغه په اړه معلومات؛ او د داخلي او بهرنیو پلټنو/څیړنو په اړه اړوند قواعد وګورئ.

## دریمه ضمیمه: د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي له خوا لیدل شوي توقیف ځایونه[118]




---

118 په دغه لست کې هغه توقیف ځایونه شامل دي چې د یوناما له خوا لیدل شوي خو د اوسني راپور لپاره کومه مرکه نه ده ترسره شوې.

## څلورمه ضمیمه: د ملي امنیت د ریاست له خوا د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري راپورونه: ولایتي ویش[119]

| د ملي امنیت د ریاست ولایتي توقیف ځایونه | مرکه شوي توقیفیان | توقیفیان چې د شکنجه کیدو یا له ناوړه چلند سره د مخ کیدو په اړه یې راپور ورکړی |
|---|---|---|
| بدخشان | ۱۹ | ۰ |
| بادغیس | ۸ | ۱ |
| بغلان | ۳۰ | ۴ |
| بلخ | ۳۶ | ۴ |
| بامیان | ۵ | ۰ |
| دایکندی | ۴ | ۰ |
| فراه | ۸ | ۴ |
| فاریاب | ۷ | ۳ |
| غزني | ۱ | ۱ |
| غور | ۶ | ۰ |
| هرات | ۳۶ | ۳ |
| هلمند | ۵ | ۵ |
| جوزجان | ۱۶ | ۰ |
| کابل | ۲۷ | ۱۱ |
| کابل د ملي امنیت ۲۴۱ ریاست | ۳۱ | ۱۲ |
| کابل د ملي امنیت ۵۰۱ ریاست | ۶۰ | ۵ |
| کندهار | ۶۸ | ۵ |
| کندهار د ملي امنیت ۰۳ ریاست | ۴۵ | ۱۷ |
| خوست | ۳۸ | ۷ |
| د خوست د ساتنې ځواک[120] | ۲۳ | ۴ |
| کونړ | ۱۴ | ۳ |
| کندز | ۲۹ | ۳ |
| لغمان | ۱۶ | ۲ |
| لوګر | ۷ | ۲ |
| میدان وردګ | ۱ | ۰ |
| ننګرهار | ۲۳ | ۵ |
| پکتیکا | ۱۵ | ۳ |
| پکتیا | ۲۰ | ۰ |
| پروان | ۶ | ۵ |
| د DFiP د ملي امنیت ۲۴۱ ریاست | ۱۲ | ۱ |
| د DFiP د ملي امنیت ۵۰۱ ریاست | ۳۳ | ۲ |
| سمنګان | ۲۷ | ۹ |

[119] مهرباني وکړئ دغه جدول د راپور په عمده برخه کې له اړوندې برخې سره په تړاو کې ولولئ. په دغه جدول کې ارقام یوازې د ملي امنیت د ریاست له ولایتي توقیف ځایونو سره تړاو لري او دا حقیقت منعکسوي چې هر انفرادي مرکه شوي توقیفي شایي د ملي امنیت د ریاست په جلا توقیف ځای کې بندي شوی وي (او په ځینو قضیو کې شکنجه شوي یا له ناوړه چلند سره مخ شوی).

[120] د خوست د ساتنې ځواک په اړه د معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ هغه معلومات وګورئ چې پورته د "شکنجې/ناوړه چلند په اړه موندنې" په برخه کې وړاندې شوي. یوناما اوس مهال دغه واحد ته منسوبیدو وړ د بشري حقونو د سرغړونو د تورونو په اړه د معلوماتو غوښتنې د ملي امنیت د ریاست له لارې ترسره کوي.

| | | |
|---|---|---|
| سرپل | ۸ | ۵ |
| تخار | ۱۰ | ۱ |
| زابل | ۶ | ۲ |

## پنځمه ضمیمه: د افغان ملي پولیسو له خوا د شکنجې او ناوړه چلند په اړه کره او باوري راپورونه: ولایتي ویش[121]

| د افغان ملي پولیسو ولایتي او د ولسوالۍ توقیف ځایونه (په ګډه) | مرکه شوي توقیفیان | توقیفیان چې د شکنجه کېدو یا له ناوړه چلند سره د مخ کېدو په اړه یې راپور ورکړی |
|---|---|---|
| بدخشان | ۱۱ | ۱ |
| بادغیس | ۳ | ۱ |
| بغلان | ۱۶ | ۳ |
| بلخ | ۳ | ۱ |
| بامیان | ۹ | ۰ |
| دایکندي | ۹ | ۰ |
| فراه | ۱ | ۰ |
| فاریاب | ۵ | ۱ |
| غور | ۱۰ | ۰ |
| هرات | ۱۰ | ۴ |
| کابل | ۴ | ۱ |
| کندهار | ۲۲ | ۱۷ |
| خوست | ۵ | ۱ |
| کونړ | ۱۰ | ۱ |
| کندز | ۱۳ | ۴ |
| لغمان | ۶ | ۳ |
| لوګر | ۴ | ۱ |
| میدان وردګ | ۱ | ۰ |
| ننګرهار | ۱۸ | ۶ |
| نورستان | ۱ | ۰ |
| پکتیکا | ۴ | ۳ |
| پکتیا | ۶ | ۴ |
| پروان | ۵ | ۰ |
| سمنګان | ۵ | ۱ |
| تخار | ۲ | ۰ |
| زابل | ۲ | ۱ |

121 مهرباني وکړئ دغه جدول د راپور په عمده برخه کې له اړوندې برخې سره په تړاو کې ولولئ. په دغه جدول کې ارقام د افغان ملي پولیسو د ولایتي او ولسوالۍ له توقیف ځایونو سره تړاو لري او دا حقیقت منعکسوي چې هر انفرادي مرکه شوي توقیفي ښايي د افغان ملي پولیسو په جلا توقیف ځای کې بندي شوی وي (او په ځینو قضیو کې شکنجه شوي یا له ناوړه چلند سره مخ شوی).

## شپږمه ضمیمه: د یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنر دفتر د راپور په تړاو د افغانستان د اسلامي جمهور ي حکومت له خوا غبرګون[122]

د بهرنیو چارو وزارت د بشري حقونو او ښځو د چارو ریاست د توقیف شویو کسانو سره د چلند او د شکنجې د له منځه وړلو د ملي پروګرام د پلي کولو په اړه د کلني راپور د ترلاسه کولو وروسته، د بهرنیو چارو د وزارت د سیاسي معین ښاغلي ادریس زمان تر ریاست لاندې د بهرنیو چارو د وزارت په مقر کې د دفاع، کورنیو چارو، او عدلیې وزارتونو ، امنیت، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون په ګډون فوري غونډه ترسره کړه.

یادې غونډې، پورته یاده شوې موضوع تر غور او بررسي لاندې ونیوله او دغه راپور یې د نیمګړتیاوو د رفع کولو لپاره یو مناسب فرصت وباله او په دې برخه کې یې د لا نورو او ښو اقدامونو غوښتنه وکړه. د غونډې ګډونوال په راپور کې د مطرح شویو موضوعاتو په اړه د دقیقې او هر اړخیزې مطالعې غوښتونکې شوو، پریکړه وشوه چې د مطالعې وروسته به په راتلونکې غونډه کې د تاوتریخوالي د منع په سکرتریت کې چې د افغانستان د بشري حقونو په خپلواک کمیسیون کې دایریږي، د خپلو ادارو نظریات او اقدامونه د اړوندو شعبو سره شریک کړي.

بله غونډه د یوناما د دفتر په ګډون د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون تر نظر لاندې د تاوتریخوالي د منع په سکرتریت کې د اړوندو ادارو د استازو په شتون کې داریږي.

همداراز، د ځینو امنیتي ادارو څخه رسیدلي لیکونه را رسیدلي چې لنډیز یې په لاندې ډول وړاندې کیږي:

**د دفاع محترم وزارت:**

په پیل کې، د کلني راپور د خپریدو او د راپور په اړه په افغانستان کې د یوناما د محترم دفتر څخه د هغوي د موندنو په خاطر مننه کوو ، هیله من یوو څو دا راپور د افغان امنیتی او دفاعي ځواکونو په توقیف خونو او محبسونو کې د محبوسینو سره د چلند نحوه په اړه د اصلاحاتو د را منځ ته کیدو لامل شي. د اصلاحاتو د راوړلو په موخه، دفاع وزارت به د پروان د توقیف خونې او محبس په تړاو د یوناما د راپور مثبتې نکتې لا پیاوړې او تقویت کړي او کمزورې نکتې به یې اصلاح کړي.

څرنګه چې د راپور موندنې څرګندوي، هغه محبوسین چې د پروان په توقف خونه اومحبس کې ژوند کوي له نیکه مرغه د شکنجې او تاوتریخوالي سره نه دي مخ شوي. څرنګه چې په راپور کې یادونه شوې، یوناما د ټولټال ۴۶ محبوسینو سره د پروان په توقیف خونه او محبس کې مرکې ترسره کړې چې له نیکه مرغه د هغوي له جملې څخه هیچا هم شکنجه او ناوړه چلند نه دی تجربه کړی. دا کړنه د ملي دفاع وزارت د رهبري له خوا د هغې ژمنې څرګندوي کوي چې موخه یې د بندیانو سره د شکنجې او ناوړه چلند له منځه وړل، د شکنجې د له منځه وړلو او د شکنجې سره د مبارزې د کمیسیون د ملي پلان تطبیق دی. راپور همدارنګه د پروان په توقیف خونه او محبس کې د ماشومانو د نه ساتلو په خاطر د ملي دفاع وزارت له اقداماتو څخه هر کلی کړی.

د ملي دفاع وزارت دې ته ژمن دی څو په هره پیښه کې چې د مسولو چارواکو له خوا بندیان شکنجه او ورسره ناوړه چلند شوی وي، په دغو قضیو کې ټول ښکیل و پیژني او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې ور معرفي کړي. په دې زمینه کې، یوناما همداراز د شکنجې د له منځه وړلو د ملي پلان د تطبیق په موخه د افغانستان د دولت او د ملي دفاع وزارت د رهبري له اړخه د اقدامونو د ترسره کولو د قدرداني او ستاینې تر څنګ په دې زمینه کې د لا زیاتو اقدامونو په ترسره کیدو تآکید کوي.

د محابسو د چاپیریال په تړاو، د یوناما د راپور موندنې څرګندوي چې د بندیانو لپاره د پروان توقیف خونه او محبس مناسب ځای نه دی او همداراز راپور وړاندې لیکي چې بندیانو د یوناما سره په خپلو مرکو کې د نا مناسب چاپیریال، مدافع وکیل ته د نه لاسرسی او د خپلو کورنیو سره د ملاقات په برخه د ستونزو د شتون په تړاو شکایت کړی دی.

---

[122] دا یو غیر رسمي ژباړه ده. د یوناما / د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالی کمیشنر دفتر د راپور په اړه د افغانستان حکومت د مستند ځواب (د ۲۰۱۹ کال د اپریل په ۱۵مه نېټه د بهرنیو چارو وزارت لخوا د بریښنالیک په ذریعه ترلاسه شو) لپاره مهرباني وکړئ د دې راپور دري نسخه وګورئ.

په دې زمينه کې بايد په ډاګه شي چې د پورته يادو شويو ستونزو يوه برخه، د بيلګې په توګه،  مدافع وکيل ته نه لاسرسی، د ملي دفاع په وزارت پورې تړاو نه لري او په عدلي او قضايي ارګانونو پورې مربوطيږي، د نړيوالو معيارونو سره په سمون کې چې د بنديانو د حال سره مناسب وي په يوه مناسب چاپيريال کې د بنديانو  ساتل د ملي دفاع وزارت دنده ده.

د پروان د توقيف خونې او محبس د چاپيريال د معياري کولو او د بنديانو لپاره د سهولتونو د را منځ ته کولو لپاره تل د ملي دفاع وزارت رهبري زياتې هڅې په لار اچولې او د محابسو او توقيف خونو  د چاپيريال د ښه کولو په برخه کې د هر ډول ممکنه اصلاحاتو راوستو ته ژمن دی.

د يوناما د محترم دفتر د راپور پر اساس، د بلخ، هرات، هلمند، کندهار، کابل، لغمان، لوګر او جلال اباد په ولايتونو کې د بنديانو سره ناوړه چلند ترسره شوی، د يادونې وړ ده چې په يادو ولايتونو کې د ملي دفاع وزارت محبسونه او توقيف خونې نه لري، يواځې په قول اردو ګانو کې مرکز ته د تورنو کسانو د ليږد په هدف موقت ساتن ځای لري. د يوناما له خوا د زياتو معلوماتو د وړاندې کولو په صورت کې، د ملي دفاع وزارت د بشري حقونو رياست د هر ډول موضوع د بررسي کولو لپاره چمتو دی.

د نړيوالو سازمانونو لکه، د سره صليب د نړيوال سازمان سره  د بنديانو د ملاقات د اسانتياوو د را منځ ته کولو په منظور، لازمې خبرې اترې درلودلې او هميشه يې کوښښ کړی څو د قانون د احکاکو سره سم څو د بنديانو د کورنيو د ملاقات په برخه کې لازمې اسانتياووې را منځ ته کړي.

د ملي دفاع وزارت د بشري حقونو ټول موازن مراعات کړې او په دې زمينه کې به هر ډول تعلل او غفلت د عدلي او قضايي تعقيب سره مخ شي. د بنديانو د ناسم چاپيريال په برخه کې ټول هغه موارد چې په راپور کې راغلي، په هر اړخيزه توګه بررسي شي او د تشې د شتون په صورت کې به لازم اصلاحي اقدامونه را منځ ته شي.

**د ملي امنيت عمومي رياست**

د ملي امنيت عمومي رياست د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون څخه د حراست او د هيواد د اتباعو د ساتنې لپاره د يوه کشفي او استخباراتي نهاد په حيث د کاري استقامت سره په سمون کې د هغو مظنونينو د نيولو په برخه کې چې د داخلي او خارجي امنيت پر وړاندې د جرايمو د ترسره کولو مرتکب شي، اقدام ترسره کوي او د قانون سره سم هغوي په خپلو توقيف خونې کې د مقدماتي تحقيقاتو لپاره ساتي. د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون ، نړيوال کنوانسيونونو، اسلامي او بشري حقونو د ارزښتونه  پر بنسټ، د ملي امنيت رياست ژمن دی تر څو په ټولو حالتونو کې د اتباعو انساني، بشري او بنسټيز کرامت رعايت، مراقبت او ورته درناوی وکړي.

د يوناما محترم دفتر معمولا په هر دوه کاله کې يو راپور د بيلابيلو ادارو، د بيلګې په توګه د ملي امنيت د رياست په توقيف خونو کې، د مظنونيونو او متهمينو سره د چلند د نحوه په تړاو د خپلو موندنو راپور وړاندې کوي. دا راپور تر ډيره بريده د مظنونينو او متهمينو سره د مرکو پر اساس وي چې د بيلابيلو امنيتي جرايمو د ارتکاب په خاطر نيول شوې او تر توقيف لاندې دي. د ملي امنيت رياست د يوناما د استازو له خوا د ملي امنيت د توقيف خونو څخه د هغوي د دوامدارو ليدنو او د هغوي له خوا په توقيف کې د يو شمير توقيفيانو  او مظنونينو سره د مرکو څخه د ستاينې په ضمن کې، په وار وار د يوناما د استازو څخه غوښتنه کړې تر څو په وخت سره احتمالي نيمګړتياوو ته د رسيدګې په موخه د خپلو ليدنو او مرکو موندنې د ملي امنيت د عمومي رياست سره شريکې کړي تر څو د هغوي پر وړاندې د مظنونينو او د ملي امنيت د عمومي رياست د اجراتو له خوا په تفاهم او همکارۍ کې د ترسره شويو ادعاوو حقيقت څرګند شي. د يوناما محترم دفتر د يو شمير لاملونو له امله د ملي امنيت د عمومي رياست سره د خپلو موندنو د په وخت شريکولو څخه ډډه کړې.

**د نظارت او مخنيوي ميکانيزم**

د ملي امنيت عمومي رياست د دوامداره نظارت، د رڼو او عادلانه بررسي ګانو لپاره ، په خپلو ټولو بخشونو کې د بشري حقونو څخه د سرغړونو  او په وخت سره شکايتونو ته د رسيدګې په منظور، د بشري حقونو په نوم يوه اداره تاسيس کړې چې د ملي امنيت رياست مطلق اکثريت ادارې پکې ثابتې او خپلواکې نمايندګې لري. په ولايتونو او مرکز کې د ملي امنيت د رياست د بشري

حقونو ټولو ناظرینو، د عدلي نهادونو او بشري حقونو د داخلي او نړیوالو سازمانونو، د یوناما د بشري حقونو د څانګې په شمول، روزنې تر لاسه کړې او کاري اجراات یې د استانبول د پروتوکوا د مندرجو روښونو سره په سمون کې په خپلواکه توګه صورت مومي. په ملي امنیت کې د دوامداره داخلي نظارت سربیره، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د شکنجې د منع ملي کمیټه او د بشري حقونو نور نهادونه د مرکزي ادارو او د ملي امنیت او ولایتي نظارت خونو څخه لیدنې کوي.

### د نظارت او مخنیوي میتودولوژي

د ملي امنیت د بشري حقونو ناظرین په دوامداره او سیتماتیک ډول د شپې او ورځې له مخې د ملي امنیت په توقیف خونو نظارت لري او د مظنونینو سره په انفرادي، محرمانه او خپلواکه توګه مرکې ترسره کوي. د شکایتونو د بررسي په جریان کې چې د مظنونینو له خوا د ناوړه چلند او شکنجې د احتمال په اړه مطرح کیږي، بهیر په دې ډول دی چې په لومړیو کې د مظنونینو ادعاووې ترلاسه کیږي او بیا د هغو پر بنسټ د جرم اثباتیه نورې سرچینې (د امنیتي کامرو بررسي کول، د تورن شخص بدني چک، د صحي فورمې چک، د ګرفتاري د محضر اسناد، د عدلي طب نظر، د عیني شاهدانو بیانونه، د اړوندو مسولینو بیانونه او د هغو کسانو بیانونه د چا پر وړاندې چې د ناوړه چلند ادعا شوې) په کره او هر اړخیزه توګه بررسي کیږي. په اکثرو بررسي ګانو کې د ملي امنیت د بیلابیلو ادارو څو تنه استازي د یوه بې پرې هیئت په ترکیب کې توظیف کیږي او قضیې بررسي کوي، څکه چې د بشري حقونو د سرغړونو د بررسي کولو په بهیر کې، د ملي امنیت عمومي ریاست د شکمن د اساسي او بشري حقونو، شهود، د بشري حقونو د سرغړونو د قضیو د تحقیق کونکو او د هغو کسانو څخه د چا پر وړاندې چې شکایتونه د رج شوي، ملاتړ او حمایت کوي.

### د ترسره شویو بررسي ګانو ارقام

د ملي امنیت د بشري حقونو ناظرینو د ۲۰۱۷ کال د جنوري د لومړۍ نیټې څخه د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر تر ۱۵ مې پورې، د ټولټال ۱۵۷۲۱ مظنونیو او متهمو کسانو سره د ملي امنیت په مرکزي او د ولایتي ادارو په توقیف خونو کې په انفرادي او محرمانه ډول مرکې ترسره کړې دي. د دې مرکو په جریان کې، د بشري حقونو د سرغړونو ټولټال ۱۶۶ ادعاووې ثبت او بررسي شوې، د کره، بې پرې او هر اړخیزو بررسي ګانو څخه وروسته چې صحت یې د کافي شواهدو او ثبوت په وړاندې کولو سره تایید شوی وي ، د طرفینو د اساسي او انساني حقونو په نظر کې نیولو سره، د هیواد د نافذه قوانینو په چوکاټ کې لازمه رسیدګې ترسره شوې. د دغو ادعاوو د بررسي په جریان کې، د یادې شوې مودې په دننه کې، په ټولو کچو کې د مرکزي او ولایتي ادارو ۱۷ تنه منسوبین او همدارنګه د ملي امنیت په پوځي قطعاتو کې د بشري حقونو د سرغړونو په تور د هیواد د نافذه قوانینو په نظر کې نیولو سره او د ملي امنیت د ارګان د بشري حقونو د پالیسي پر بنسټ د سرغړونو د شدت د اصل او خفت، (عدلي او قضایي ارګانونه ته معرفي، د دندې څخه تبدلي، کتبي توصیه او د سوانح د درج سره اخطار) سره مجازات شوې.

### روزنه، آګاهي او ظرفیت جوړونه

د ملي امنیت عمومي ریاست ډاډ ورکوي چې د ملي امنیت په هیڅ بخش کې د مظنونیونو په وړاندې هیڅ ډول سیستماتیکه شکنجه او ناوړه چلند شتون نه لري او په ټیټو قدمو کې د بشري حقونو څخه د سرغړونو د مخنیوي په خاطر، د هیواد د نافذه قوانینو، د بشري حقونو د ارزښتونو او د افغانستان د دولت د نړیوالو ژمنو سره د د ې ریاست د منسوبینو او کارکونکو د آګاهي د نه شتون له امله ممکن شکنجه او ناوړه چلند را منځ ته شي، ملي امنیت د پرسونلو په تعلیمي نصاب کې د بشري حقونو د روزنې یو ځانګړی بخش را منځ ته کړی تر څو د ملي امنیت هر کارکونکی او منسوب په دې ارګان کې د دندې له پیل څخه د بشري حقونو پر وړاندې په تولو ملکي او پوځي برخو کې، په حساسیت، اندیښنې او کامل دقت سره دنده ترسره کړي.

د ملي امنیت د بشري حقونو ریاست یواځې د ۲۰۱۷ کال د جنوري د لومړۍ نیټې څخه د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر د میاشتې تر پایه پورې د ملي امنیت د کارکونکو، په خاص ډول د مرکزي او ولایتي ادارو د عملیاتي بخش او توقیف خونو د کارکونکو لپاره د بشري حقونو د روزنې ټولټال ۷۱ سیمینارونه دایر کړي دي. د دې سیمینارونو په جریان کې، د افغانستان د دولت او د ملي امنیت د پالیسي ګانو د تشریح کولو سربیره، د بشري حقونو ټول موازن او په اسلامي، فرهنګي ارزښتونو تمرکز او د استانبول د پروتوکول محتوی د سیمینار ګډونوالو توضیح شوې. د دې سربیره، د یوناما په شمول، د بشري حقونو د نړیوالو نهادونو د استادانو په ګډون، د دې ارګان د بشري حقونو د ناظرینو لپاره ټولټال ۲۰ ښوونیز ورکشاپونه په ملي امنیت کې دایر شوې او د بشري حقونو

د تخصصي دورو د زده کولو لپاره د ملي امنيت د بشري حقونو ۳۳ تنه ناظرين هغو ورکشاپونو ته چې د ملي او نړيوالو نهادونو له خوا د ملي امنيت د چوکاټ څخه د باندې داير شوې، ليږلي دي.

**د يوناما د راپور په تړاو د ملي امنيت د عمومي رياست انديښنې**

د يوناما په راپور کې د دې تر څنګ چې په ملي امنيت کې د بشري حقونو د وضعيت د بهبود او د بشري حقونو د سرغړونو په برخه کې ۱۲ سلنې ټيټوالي ته اشاره شوې، د ملي امنيت عمومي رياست په ملي امنيت کې د بشري حقونو د سرغړونو د کاهش په تړاو د يوناما د مثبت قضاوت څخه استقبال کوي ، اما په عين حال کې د دې راپور د محتوی په اړه جدي انديښنې لري، چې په لاندې ډول دي:

۱. د يوناما د راپور په ۵ پاڼه کې تذکر شوی چې د ملي امنيت عمومي رياست د هيواد د نافذه قانون سره په سمون کې صلاحيت لري تر څو په خپلو توقيف خونو کې تر لسو ورځو پورې مظنون په بند کې وساتي اما د ملي امنيت په توقيف خونو کې ځينې مظنونين تر ۱۷ ورځو پورې ساتل شوې. د هيواد د نافذه قوانينو پر بنسټ، د ملي امنيت عمومي رياست په خپلو توقيف خونو کې د لسو ورځو لپاره د مطنونيو د ساتلو صلاحيت نه لري. خو په يو شمير قضيو کې، د موضوع د حساسيت او د تحقيق د نه بشپړوالي له امله، د څارنوالي څخه د ساتلو قرار ترلاسه کيږي، چې دا د هيواد د جزايي اجرااتو د قانون سره په سمون کې يوه قانوني کړنه ده.

۲. د يوناما د راپور په ۷ پاڼه کې يو تن مرکه شوې مظنون ادعا کړې چې د کابل د ملي امنيت په رياست کې په شدت شکنجه شوی او ورسره ناوړه چلند شوی. ياده ادعا د لاندې دلايلو پر بنسټ د رد وړ ده:

- د ملي امنيت د بشري حقونو د رياست يو تن ناظر په دوامداره توګه د کابل د ملي امنيت په رياست کې توضيف وي او په ياده اداره کې هره ورځ د بشري حقونو د وضعيت د څرنګوالی څخه نظارت کوي او د مظنونينو او متهمينو سره مرکې ترسره کوي. د ورته مودې په جريان کې، د توقيف خونې دا ډول برخې د مظنونينو له خوا د ناظر لپاره د بشري حقونو استقامت وړاندې کړی.

- د کابل د ملي امنيت د رياست د توقيف خونو ټولې برخې، په خاص ډول د استنطاق محلونه په امنيتي کامرو سمبال شوي، د دې کامرو په شتون کې د مظنون سره هر ډول ناوړه چلند منتفي کيږي.

- د ملي امنيت د بشري حقونو د ناظرينو د دوامداره نظارت تر څنګ، د ملي او نړيوالو نهادونو ناظرين، د هغو له جملې څخه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون، سور صليب او د شکنجې د مخنيوي ملي کميسيون په دوامداره توګه او د مخکنۍ اطلاع څخه پرته په مرکز او ولايتونو کې د ازادي د سلب له مرکزونو څخه ليدنې کړې او د شته مظنونينو او متهمينو سره انفرادي او پټې مرکې ترسره کوي، تر اوسه يې په راپورونو کې د بشري حقونو د داسې سرغړونو شتون نه دی تائيد کړی.

- د ياد راپور په ۸ او ۹ پاڼو کې تذکر ر اغلی چې د خوست او سمنګانو د ملي امنيت په ادارو کې مظنونينو ادعا کړې چې شکنجه شوې او ورسره ناوړه چلند شوی، د ملي امنيت عمومي رياست د يوناما د انديښنو په تړاو، په دې ورستيو کې د ملي امنيت په ټولو مرکزي او ولايتي ادارو کې د شکنجې او ناوړه چلند د منع د ميکانيزم په خپلو سيستمونو کې د احتمالي تشو د تثبيتولو په موخه دقيقه بررسي ترسره کړه. د يادې ادعا پر بنسټ، د خوست د ملي امنيت په ر ياست کې د بشري حقونو د سرغړنو د شتون د احتمال په اړه د انديښنو د رفع کولو په منظور، د ياد رياست ۴ تنه منسوبين، د هغوي د رهبري د هيئت په شمول له دندو ګوښه کړي.

۳. د يوناما په راپور کې تذکر راغلی چې د يوناما له اړخه د ټولو مرکه شويو کسانو له جملې څخه نږدې ۲۵ سلنو هغو ادعا کړې چې په مرکز، ولايتونو او ولسواليو کې په يو شکل نه يو شکل د شکنجې او ناوړه چلند سره مخ شوي. د دغو کسانو ادعا د لاندې دليلونو پر اساس د ملي امنيت د عمومي رياست له اړخه د انديښنې وړ ده:

- د مظنونيو له خوا ترسره ادعاووې د ادعاوو په حد کې دي او که چيرې په جدي او هر اړخيزه توګه د بررسي او مستند کولو لاندې راشي، ممکن د دغو ادعاو له جملې څخه ډيری هغه يې کاذبې او له حقيقت څخه لرې ثابتې شي.

- د یوناما په راپور کې د بشري حقونو سرغړونې په کلي ډول درج شوې د هغو د جزئیاتو په اړه معلومات نه دي ورکړل شو له مخې یې صحت او سقم تثبیت شي.

- یو شمیر مظنونین د هغوي په بدن د برسیرنو شوګارو د علایمو پر استناد د ملي امنیت په توقیف خونو کې د شکنجې او بد رفتاري ادعاووې کوي. په داسې حال کې چې د ملي امنیت له خوا ترسره شوې تحقیقات څرګندوي چې د مظنونینو په بدن د شوګارو زیاتره علایم د ملي امنیت  په توقیف خونو کې د شکنجې او ناوړه چلند له امله نه بلکه د فزیکي مقاومت، وسله وال برخورد، د ساحې څخه د تښتې او د مظنونینو له خوا د نیولو پر مهال د عملیاتي ځواکونو د خبرداري د نه په پام کې نیولو په نتیجه کې را منځ ته شوې. د جزا د قانون د ۱۱۷ او ۱۳۱ مادو او د جزایي اجرااتو د قانون د ۸۳-۸۳ او ۸۵ مادو په نظر کې نیولو سره، په داسې وضعیت کې هیڅ ډول امنیتي او عملیاتي ځواکونو ته هیڅ ډول مسولیت نه متوجه کیږي. همداراز د ملي امنیت د عمومي ریاست د تحقیقاتو په ترڅ کې داسې قضیې تثبیت شوي دي چې مظنونین او متهمین د امنیتي ځواکونو د بدنامولو او په محکمو کې د هغوي د جزا د راکمیدو په خاطر  پخپله ځان ته د زیان اړولو هڅه کړې. په یو شمیر مواردو کې، د یو بل سره په سلامشوره په بارو وړ او اغوا کونکو سناریو ګانو اقدام کوي چې د هغوي تثبیت بیا زیات غور او تدقیق ته اړتیا لري.

۴. د مظنونینو او متهمینو له خوا د شکنجې او ناوړه چلند د ادعاوو مستندول او اثبات دا ایجابوي تر څو په توقیف خونو کې د امنیتي کامرو محتوی، صحي فورمې، د ګرفتاري د محضر اسناد، د عدلي طب نظر، د عیني شاهدانو او اړوندو مسولینو بیانونه او د شاکي بدني بررسي، په دقیقه، هر اړخیزه او بې پرې توګه تر لاسه شي. د یوناما له خوا د ملي امنیت عمومي ریاست  ته د شکنجې د منسوب شویو ادعاوو د بررسي په تړاو ، نه شي کیدای د هغو پر بنسټ درست او شفافه نتیجه ګیري صورت ومومي.

۵. د ملي امنیت په قطعاتو کې د شکنجې او ناوړه چلند په تړاو باید وویل شي چې دا قطعات توقیف خونې نه لري او د ګرفتاري څخه وروسته مظنونین د هماغه ولایت ملي امنیت ریاست ته سپاري. همداراز د عملیاتو د جریان ټول پړاونه د څارنوالۍ د محترم استازي په شتون کې ترسره کیږي او د یوه مسلکي کارکونکي له خوا فلم اخیستل کیږي.